مورچل

کالګڼه

دمورچل دا کالګڼه!!

اتم کال، دوولسمه ګڼه، پرلپسې (۷۶) یمه، صفرالمظفر (۱۴۳۶) هق، دسمبر (۲۰۱۴) ز کال

مورچل...رزم ښندي!
طالبانو امریکایان مات کړل!
دمسلمان ژورنالست ځانګړتیاوې!
دلیکنې اولیکوالۍ، علمي آرونه!
نامتو مسلمان فاتحین!

نګاهی برابعاد مختلف روند جهادی...

مورچل مجله دتېرو خپرنیزو کلنو په هینداره کې!

اسلام کې دصحافت (ژورنالیزم) منزلت!

داسلامي امارت دجهادي نظم ځانګړتیاوې!

۲۰۱۴ میلادي هغه کال چې ناټو په کې...

د فکري او قلمي جهاد مورچل!

افغانستان - قبرستان امپراتورها!

آیا امریکایي بمبارۍ به د کابل شړېدلې اداره...

مورچل دمطبوعاتو په ډګرکې!

راهکارهای تقویت امور جهاد فرهنگی

په روان جهاد کې دفرهنګیانو ونډه!

په ننۍ نړۍ کې درسنیو اهمیت اودمسلمانو قلموالو مسئولیت!

محترم استاد شپونکی له مورچل سره په مرکه کې!

اتم کال دولسمه گڼه، پرلپسې ۷۵ گڼه، صفر المظفر۱۴۳۶ هـ ق، دیسمبر ۲۰۱٤

گڼه	مطلب	مخ
۱	دمورچل دا کالگڼه	۱
۲	نگاهی بر ابعاد مختلف روند جهادي	۳
۳	د فکري او قلمي جهاد مورچل	۸
۴	مورچل مجله د تېرو خپرونو په هنداره کې	۱۰
۵	طالبانو امریکایان مات کړل	۱۳
۶	د اسلامي امارت د جهادي نظم ځانګړتیاوې	۱۶
۷	اسلام کې د صحافت (ژورنالیزم) منزلت	۲۸
۸	افغانستان قبرستان امپراتورها	۳۷
۹	آیا امریکایي بمباري به د کابل شړیدلې اداره	۴۱
۱۰	نامتو مسلمان فاتحین	۴۳
۱۱	د لیکنې او لیکوالې علمي آروه او معیارونه	۴۹
۱۲	په تني نري کې د رسنیو اهمیت او د مسلمانانو	۶۳
۱۳	راهکارهای تقویت امور جهادي فرهنګي	۴۷
۱۴	د مسلمان ژورنالست ځانګړتیا	۷۵
۱۵	نوې سروې: امریکایان وایي چې حکومت یې	۸۵
۱۶	مورچل د مطبوعاتو په ډګر کې	۸۶
۱۷	عاقبت خطرناک بی تفاوتی های مسلمانان	۸۹
۱۸	په روان جهاد کې د فرهنګیانو ونده	۹۳
۱۹	د جهاد فقهي مسایل	۹۵
۲۰	بر رسی نقش تزکیه درساختار شخصیت انسان	۹۸
۲۱	د ملي وحدت حکومت جان کیري د نیم ساعت	۱۰۵
۲۲	ذبیح الله مجاهدځو شیبې له خپل ولس سره	۱۰۸
۲۳	د مورچل دار الافتاء	۱۱۲
۲۴	په تېر میلادي کال کې د دښمن د تلفاتو او زیانونو	۱۱۸
۲۵	ددعوت، ارشاد او جلب جذب کمیسیون	۱۲۳
۲۶	بناغلی استاذ شپونکی له مورچل سره په مرکه	۱۲۵
۲۷	د مورچل ورځې	۱۳۰
۲۸	خبرونه	۱۳۴

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حســـن خپل	ایـــوب صـــافی
حســـن زوی	حکمت بغلانی
زبیر مســـافر	حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

دمورچل دا کالکنه !!

له نیکه مرغه مورچل دجهادي مطبوعاتو په افق کې ، خپرنیزه څغاسته پداسې وخت کې کلنۍ او دکالګنې تر مداره وغځوله ،چې همهاله ورسره امریکایي ښکیلاکګر عسکر هم مجاهدینو ته سلامي او د(۲۰۱۴)زکال د دیسامبر په(۲۸)نیټه یې خپل ښکیلاکي بیرغونه راکوزکړل ،داکومه تصادفي پیښه نه وه، دا هیواد کې دامریکاد جارح پوځ تر(۱۳)کلن جارحانه حضور په ناکامه پایله کې دخپل نړیوال برم سربیره ځرګنده ماتې او افغان مسلمان او مجاهد قام ته سلامي ده ،دا هغه پدیده ده، چې خلکو یې بیړنی تصور هم نه کاوه ،بلکې دا داسلامي امارت دسرښندونکیو مجاهدینو دفدایي ګوزارونو دباردو تاو اوحرارت و ،چې استعمارګریې داډول سرکوزی ته اړیستل او ددوئ په وینا ، چې نور به دافغان مسلمان ولس پرضد میداني جګړه نه کوي ، یوازې یو محدود شمیرمشاورین اوسلاکاران به یې دغلامې اداري دعسکرو دروزلو لپاره تر یو وخت پورې پاتې وي !

که په تیرو (۱۳) بوګنونکیو او دردونکیو کلونوکې زمونږ ولس ګڼې ناخوالې اودربدرۍ وکتلې، نوبل طرف ته دامریکاپه سردمداری اشغالګروعسکروهم ښه ورځ نده لیدلې او دسراومال دروندزیان یې ولید ،د(تایم مجلې)دوروستي راپور پر بنسټ دامریکادکانګرس دتحقیقاتي خدماتو څانګې دمعلوماتو له مخې دعراق په جنګ کې دامریکا (۸۱۴.۲) ملیارده ډالره او د افغانستان په جنګ کې یې (۲۸۵.۲) ملیارده ډالره تاوان لیدلی ،یرغلګر چې معمولا دعسکري تلفاتو ارقام له رسنیو نه پټ ساتي، خو جهادي نشراتي ارګانونو بیا وخت په وخت له نړیوالو سره شریک کړي دي ، دمطبوعاتي معلوماتو له مخې تیرو(۱۳)کالو کې دامریکایانواو ناټودعسکرو دسرزیان خورا لوړ و، مونږ یې دلته یوازې دتیر(۲۰۱۴)زکال هغه شمیره، چې ډیره تحقیقي او د باور وړ ده، په لاندې ډول ستاسو قضاوت ته ږدو، چې له کتنې وروسته به یې دټولو کلونو اتکلي زیان هم لوستوالو ته جوت شي:

په تیر ۲۰۱۴م کال کې په دښمن ټول ټال(۱۵۵۵۴) بریدونه ترسره شوي ،چې په اوسط ډول هره ورځ تقریبا ۴۱ بریدونه کیږي .ددغه کال په اوږدو کې دبهرني دښمن (۸۱۲) تنه وژل شوي (۳۲۴) نور ټپیان

شوي دي، چې په اوسط ډول هره ورځ تقريبا (۳) تنه مړه او هره ورځ تقريبا (۱) تن ټپي شوی دی، تیر کال کې د داخلي عسکرو، پوليسو او اربکيانو د وژل شويو دقيقه شميره (۲۲۵۲۲) ده او ټپيان يې (۱۴۸۰۷) دي، چې په اوسط ډول هره ورځ تقريبا (۲۱) تنه وژل شوي او هره ورځ (۴۰) تنه ټپيان دي.....

مورچل مجله چې گام په گام له جهادي کاروان سره مزل کوي او د خپلواکۍ دلارې د اتلانو فتوحات اوبريدونه، د دښمن د زيان کچه او مالي خسارات يې وخت پروخت د خپلې سينې په آرشيف کې راتلونکې نسلونو ته د امانت په ډول ساتلې اوپدې هيله پايي، چې مورچل مجله به انشاءالله تعالى گانده کې د با انصافه تاريخ ليکونکيو خورا يو عمده مصدر، ماخذ اود جهاد د مطبوعاتي ميراث يو شاهکاروي، خپل دې اصالت ته په کتو، مو هڅه کړي، چې تر خپله وسه، پکې حقايق حفظ کړو اوهغه جهادي او علمي پانگه پکې درج کړو، چې د روان جهاد واقعي انځور وړاندې کوي. !

د مورچل مجلې تيره کالگنې کې مو د مجلې د تير بهير د ارزونې لپاره د جهادي ادب اوصحافت د ډگر د نومو تو ليکوالانو آندونه او نظريات د مجلې په پاڼو کې راونغښتل، خو دا وار مولوری بدل او د امريکايي يرغل پر خلاف مو د اسلامي مقاومت د ژورنالیزم او جهادي ادب د سنگر د سرشارو قلموالو اوشناندو ځيرو د زړه وينې او د مسلط رژيم پر خلاف د بغاوت د علمبردارانو، هر اړخيزو ليکنو، تحقيقاتي او علمي مقالو او د علماوو قلمي پنځونو باندې د مورچل د اکالگنې بڼايه او غني کړه، هڅه مو وکړه، چې د جهادي مقاومت د مورچل فرهنگيان او د مجلې قلمي همکاران، د کالگنې په زرينو او رنگينو پاڼو کې لا ښه وځليږي او هم د دوئ له علمي او فني پنځونو څخه ولس او مجاهدين مستفيد شي، گوندې که پدې پرمخيون هڅه کې مو څه ناڅه بريالیتوب ترلاسه کړی او پرخپل دې فرهنگي او جهادي رسالت بريالي شوی يو !

په پای کې د مورچل مجلې د هغو قلمي همکارانو، علماوو، مجاهدو ليکوالانو او شاعرانو څخه د زړه له کومې مننه کوو، چې د دې تير (۲۰۱۴) خپرنيز کال په بهير کې، په خپلو قلمي مرستو زمونږ متې غښتلې کړي او پروخت وزمان يې د مجلې اداري ته خپلې ليکنې رالیږلې دي !

همدا سې د فرهنگي کميسون د فرهنگپال مشر تابه او اړوند و مسؤلينو څخه هم ممنون او ورته لاس په دعا يو، چې پدې سختو ستونزمنو او پيچلو حالاتو کې يې، بيا هم د مورچلوالو حوصله لوړه ساتلې او د ستونزو په حل کې يې تري خپله همکاري نده سپمولې !

پدې هيله چې راتلونکی (۲۰۱۵) زکال به مو د فتحي کال، د کفري يرغلگرو د بشپړې ماتې کال او د يوه اسلامي نظام د حاکميت کال وي !!

وماذلک علی الله بعزيز

روند جهادی در ۱۳ سال که گذشت!

ذبیح الله مجاهد

آغاز کلام:

همانگونه یی که ملت افغان اراده نموده بود همان طور شد، زمانی که امریکایها در سال ۲۰۰۱م اراده تجاوز و یورش بر افغانستان نمودند، ملت غیور افغان بدین باور بود که برنده‌ء اخری این جنگ، آنها اند.

جنگ آغاز گردید، خاک افغانستان پامال شد، دست نشانده ها آورده شدند، مردم کشته شدند، خانه ها ویران گرید، افغانهای زیادی دوباره به هجرت مجبور شدند، مادران بی پسر شدند، عروسها بیوه گردیدند و کودکان یتیم شدند، ولی بالآخره اشغالگران هم شکست خوردند، عساکر شان به هلاکت رسیدند، زخم برداشتند، دوجار مشکلات روانی شدند، رهبران شان پی هم به علت ناکامیها و بی کفایتی ها در جنگ (افغان و امریکا) به استعفا مجبور شدند، سکته کردند، ماشین تبلیغاتی انها هم خسته شد، تکنالوژی جدید شان هم بی حیثیت گرید، مزدوران و حلقه به گوشان شان هم توسط افغانها، خوب زیاد به قتل رسیدند واینک در ۱۳ سال گذشته مصارف جنگی امریکا در افغانستان به یک تریلیون دالر رسید که از جیب ملت امریکایی به نیت پیروزی در جنگ کشیده شده بود.

با همه رویداد های انکار ناپذیر و عملکردها، در جنگ (افغان امریکا) افغان پیروز و سربلند بر امد؛ ولی امریکا به سر افگندگی نیروهایش را از افغانستان به عقب راند.

زیرا نیروه مقتدر و متکبر همیشه، زور و امکانات مادی دارد، مگر خرد ومنطق ندارد، در دایره هوس رانی های خود تصمیمی را اتخاذ می نماید که هست وبود سایر ملت ها را نادیده میگرد.

عزم آهنین:

ملت افغان در طول تاریخ، پرچم عزت و سرفرازی خود را بلند نگهداشته است، درست است که تعدادی از گرسنه های پول، جاه وجلال

در ترازوی اشغالگران استاد شده اند و عوض دفاع از ملت، دین و ناموس خود، در بدل بردگی، سرافگندگی و پر کردن شکم، زنجیر غلامی را به گردن آویخته اند، ولی این شمار از افغانماهای عاق شده، فیصدی بسیار کم از آن ملت اصیل ومسلمان را تشکیل میدهد که در قبل انگلیس باز روس و اکنون امریکا را به زانو زد، و در این راستا هیچ استراتیژی و دسیسه دشمن پایش را به لرزه در نیاورد.

ملت مجاهد افغان تحت رهبری رهبران اصیل خود، به دین و موقف جهادی خود چنان محکم و استوار باقی ماند، که سرچشمه الهام برای بشریت گردیده و به تاریخ آینده، حماسه های فراموش ناشدنی را بر جا گذاشت.

عزم پولادین ملت غیور و مسلمان افغان، که در برابر امریکا جمع ۴۹ کشور مقتدر جهان شکست نخورد، کاری خارق العاده یی بود، و چنان افتخارات را بر عقب گذاشت که نسلهای آینده آنرا سر مشق آموزش های خود قرار خواهد داد.

موقف مستحکم امارت:

امارت اسلامی افغانستان در رأس ملت با همت و غیور خود قرار داشت، در جریان سیزده سال گذشته، ملت خود را چنان رهبری کرد که در تاریخ نزدیک نظیر آنرا نه می بینیم، درست است که افغانها از قرنها با غیرت بودند، میدان معرکه های زیادی را از آن خود کرده و افتخار قهرمانی متعددی را کسب نموده اند، مگر اراده محکم و پخته‌ء را که امارت کنونی از خود نشان داد، اگر روی انصاف صحبت نماییم، پس از صدها سال بدین سو کسی مثال آنرا ارایه کرده نه میتواند.

به تهی دستی در مقابل امریکا ایستادند، در ضمن جنگ رویاروی و مقابله بادسیسه های استخباراتی، با وسائل مدرن نظامی دنیا دست وپنجه نرم کردند، به سر کردگی امریکا علیه ائیتلاف جهانی، با متانت موقف خود را حفظ نمودند، محافظت از وحدت و منظم بودن صفوف جهادی، و حفظ فضای اخوت میان مجاهدین خود در شرائط بسیار دشوار، چیزهای اند که امارت اسلامی را الگوی جهانی قرار داده و باید هر نهضت مبارز و آزادی خواه از آن پیروی نمود.

این کسان با چیزهای زیادی دنیا بلدیت نداشتند، ولی عقیده محکم و باور کامل بر پیروزی، آنها را ثانیه یی هم نه گذاشت تا در برابر تمایلات دشمن سر خم نمایند، با مشکلات زیادی امنیتی و اقتصادی، در جریان سیزده سال گذشته ملت خود را چنان رهبری نمود که آفرینش باد.

حیث سنگین:

امارت اسلامی مثل دیگر روند های تاریخ یک جریان سیاسی بود، مگر روی مجبوریتهای

متعدد، جهت نظامی آنها بر سایر جهت ها غالب گردید، در نهضت ها، تنظیم ها و ارگانهای نظامی، عوض سنگینی و تفکر، احساسات وجدیت غالب می باشد، مگر امارت اسلامی با اینکه همه تصامیم خود را از سنگر اتخاذ می نمود، جای شگف است که تا اکنون در برابر هیچ مسئله جهانی و افغانی هم از احساسات گرم و ناسنجیده کار نه گرفته، بلکی با خون سردی با مسائل جهانی و کشوری برخورد نموده است.

امارت اسلامی با گذشت سیزده سال مبارزه جهادی خود یک روز هم تصمیمی را اتخاذ نه نمود که فردای آن پیشیمان گردد ونیازی به تبدیلی آن دیده شود.

در حالت فوق العاده جنگی، حیثیت وزین امارت اسلامی، جهانیان را شگفت زده نموده، آنانی که در راستای سیاست به اهمیت سنگینی میدانند، شاید به این شهکار امارت اسلامی اعتراف داشته باشند.

تدبیر قوی رهبریت:

در روند جهادی کنونی به رهبریت امارت اسلامی، نسبت به دیگران دشواری های زیادی مواجه بود، با تعقیب جدی از طرف دشمن اشغالگر، تعین نمودن انعامات چندین میلیون دالری از طرف ارگانهای استخباراتی دشمن و عدم موجودیت جای سالم برای زیست، تصامیم مدبرانه، فیصله ها، رسیدگی به همه مجاهدین و نگرانی صف بزرگ و عریض جهادی در طول سیزده سال، چیزهای اند که به تدبیر قوی و بینش فوق العاده رهبریت امارت اسلامی دلالت می نماید.

با پروپاگند اختلاف افگنی، دسیسه های شوم و مصارف بی حد دشمن در این راستا، رهبریت باتدبیر امارت اسلامی توانست، که امارت را چنین رهبری نماید که کاملا سیزده سال، در صفوف آن یک رخنه کوچک هم دیده نشود و همه افغانهای زیرچتر آن، با هر قوم و میلتی که ارتباط دارد؛ خود را با هم برادر احساس کنند و بخاطر یک هدف مهم و شرعی هر چیز خود را قربانی نمایند.

بدون شک که این همه چیزها به نصرت و اعانت خدواند متعال صورت گرفته و نمایانگر تدبیر قوی رهبریت است، که نسل های آینده از آن چیزیهای زیادی را خواهد آموختند.

نیروی شکست ناپذیر ایمانی ملت افغان:

چون تذکر صورت گرفت، نیروی ایمانی و عزم متین ملت غیور افغان در جهاد کنونی، چیزی بود که برای جهاد جاری حیثیت ستون را داشت، قوت ایمانی افغانها بود که تکنالوژی بسیار پیشرفته جهانیان را به چالش کشید و آنرا به سرحد ناکامی مطلق رساند، در سال ۲۰۱۴م چشم همه به این بود که دیگر افغانها از جنگ خسته شده اند، دیگر صفوف مجاهدین تخلیه

خواهد شدند، و از این بعد مردم این خاک وبوم عوض عزم جهادی به متاع دنیا روی خواهد آوردند، و همچو تعداد چهره های فریب خورده، به زندگی شخصی مصروف خواهد گشتند، ولی برعکس سال ۲۰۱۴م سال فوران ننگ و غیرت ملت افغان بود، عملیات جهادی خیبر به تمام کشور گسترش یافت، همچو جنوب وشرق کشور شمال کشور من جمله بدخشان، قندز، سرپل، جوزجان، فاریاب وسایر نقاط دور دست کشور ساحات کوبنده برای دشمن ثابت گردید، که راه را از دشمن گم ساخت است.

عملیات پرجوش امسال که اینک به رسیدن سرما و زمستان هم موج می زند، این را به وضاحت به اثبات رسانده که افغانها خستگی از جهاد را نه می شناسند، در راه هدف خود هیچ خس و خاشاک را نه میبینند و در کل بخاطر استحکام نظام اسلامی قربانی دادند و رنج کشیدن را افتخار می پندارند وبه سرفرازی به آن ادامه می دهند.

عشق با جهاد:

الحمدلله محبت با جهاد در افغانها به آن حد رسیده است که بر هیچ نیروه مستکبر جهان هم چشم شان پر نه میشود، شکست مطلق امریکایها در سال ۲۰۱۴م، راه گمی و وارخطای دشمن مزدور، و در نهایت صدای زمزمه های جهادی در کشور، حقایقی اند که محبت نهایت زیاد ملت افغان را با جهاد و اسلام هویدا می سازد.

دروند پلو

مولوي محمد هاشم ذاکر

افغانه بیا دې چا له غولي نه سپوړ مې واخیسته
د هندوکش له هسکه سره یې پګړۍ واخیسته

دقام د ننګ شملې دې سپکې شوې په مفته بیه
له دروند پلو نه دې حیا غربې نړۍ واخیسته

چې اصفهان اوهند وسند به دې سلام ته راټیل
لوړه نامه درنه نن چا به غلامې واخیسته

ستا د نیکونو پرقبرو دشپې کلبونه جوړ شول
ستا له میونده یې تپه د ملالې واخیسته

تورو دیوانو دې په سپین حرم بنې لوبې وکړې
کوم جادوګر درنه ناهیده بناپیرۍ واخیسته

توره قلم ، تهذیب فرهنګ دین او غیرت او وطن
تولې هستي درنه په پور دیموکراسۍ واخیسته

وینې قیمت ذاکره اوښکې یې ازار نه لري
چاچې دلر په بدل توره تروړمې واخیسته

مورچل... رزم بندي !

جمال الدين اديب

د مسلمانانو پر ضد د نړۍ د تاريخ بدترينه جګړه لا ښه زور کې ده، دښمن په ټولو هغو لارو بوخت دی، چې ځنګه خپل يرغل ته ثبات او پايښت ورکړي. که مو مخکې نه پېژانده، نو دا ديارلس کاله مو تجربه کړه، چې مورچل داسې دښمن سره مخ يو، چې هيڅ ارزښت او اصالت ته ژمن نه دي. داسې دښمن دی، چې له هرې خوا يې ګوزار برابر شو، صرفه نه کوي.

ښکاره نظامي جګړه يې دومره اغېزمنه او ګوابنده نه ده، لکه فکري او فرهنګي يرغل يې. عسکري فعاليت يې دومره کولی شي، چې د وژنې اقدام وکړي، خو هر ګوزار يې د ويښتيا پيغام او دعوت وي.

فرهنګي او فکري يرغل داسې ساحرانه اغېز لري، چې د ويښتيا چانس هم نه ورکوي. هدف شوي عقلونه ويده او خمار د فناء لور ته بيايي. مورچل ته عسکري فعاليتونو دومره تاوان نه دی اړولی، لکه فرهنګي او فکري فعاليتونو. يې دز او دوزه او په دېره هوسايی يې عقلونه يرغمل کړل او وژلې يې.

مورچل وينو چې د ښاري سيمو اوسېدونکو يا ان د اطرافي سيمو خلکو باندې چا په زور او دزو پردي تقاليد نه دي منلي، بلکې د همدې ګوابنمني فرهنګي جګړې له لارې دا خلک رانه پردي شول. هيڅا ورته په سر لاس نه دی اېښی چې په زوره يې يوې خوا ته راکاږي، بلکې سکرين او کاغذ دې ځای ته راکاږل.

دا اوس چې سکرينونه په کوم ډول او اندازه عقلونه کنټرولوي او ټاکل شوي لوري ته يې بيايي، د نړۍ هيڅ زورور داسې کنټرول نه دی راوستی. خبره توله همدې ته راګرځي، چې فرهنګي او فکري فعاليت لکه اوبه دېرو کې لار باسي.

که روان جهادي بهير کې دا فکري او فرهنګي مورچلونه نه واى، خداى خبر چې نور به څه راپېښېدل. که څه هم مورچل په هغه مطلوبه اندازه فعالان نه يو، نه مو دا فکري مورچلونه په مطلوبه اندازه ګرم ساتلي، خو بيا هم وياړ دی، چې په تش ميدان نه يو پاتې.

"مورچل" د اسلام او مسلمانانو په ننګه کې تر آخري بريده ځي. هيڅ فکري سپما نه لري، ټول کوښښ يې همدا دی، چې ځنګه دغه فرهنګي هجوم ماتې سره مخ کړي. بيا هم مورچل اعتراف کوو، چې انساني کوښښ دی او له نيمګړتياو به خالي نه وي، خو دغه "مورچل" له نيمګړتياو سره سره دې ځای ته رسېدلی، چې دښمن يې حسابوي او د هر توري غشي ته يې د يوه ډال پيدا کولو اړتيا وينې. له ستر درباره ورته د سوبو او مختګونو توفيق غواړو. په احترام

د فکري او قلمي جهاد

مورچل

موسی فرهاد

د هندوستان د نیمه وچي (برصغیر)، مسلمان مفکر او وتلي فیلسوف علامه اقبال څه ښه ویلي چي:

خدا آن ملتي را سروری داد
که تقدیرش به دست خود بنوشت
به آن ملت سروری کاری ندارد
که دهقانش برای دیگران کشت

مورچل، د هغه ملت د تقدیر بدلولو فکري او قلمي سنگر دی چې غواړي پخپلو نا آشنا او بي مثاله سربندنو سره خپل تاریخ پخپلو گوتو نویشته کړي. او له هغه نامراده، دهقانه یې وژغوري چې د خپل تاتوبي د سرور او خوښی کښت-کرهنه د پردو لپاره کوي.

دا ډېره موده کیږي چې زمونږ غربیه خاوره د پردیو د ناروا یرغلونو په وړاندي مورچل، مورچل ده. هره لویشت یې د آزادی د اتلانو په سپیڅلو وینو خړوبه شوي. دغو اتلانو د مقدس آسماني حکم د تعمیل په موخه د خپل رب د رضا لپاره، د ایماني هوډ او افغاني غیرت په مټ هیڅکله خپل غلیم ته د بي ننگی سر ټیټ کړی نه دی. بلا ډېري خواري، کړاوونه، هجرتونه، زخمونه، شهادتونه او آسارتونه یې ګاللي خو د قربانی مورچل یې هیڅ مهال خالي پرې اینبی نه دی. درې نیمي لسیزي کیږي چې د ایثار او قربانیو یو نه بیلیدونکی تسلسل را روان دی. چې له امله یې د شیطاني لښکر دوو سترو یکه تازانو د ذلت شکست وخوړ، مګر د دین، خاورې، او ناموس دساتني په نوم ودان شوی مورچل لا همغسي ودان پاتي شو. او مورچل ساتونکو اتلانو پخپلو گوتو تاریخ ته ولیکل چې:

ما مجاهد عقیم قدرت خدا با ما است
هر کجا که رو آریم دست کبریا با ما است
ما به پیکر ملت با نوی توانایيم
اعتماد امروزیم افتخار فردا ییم

اقبال-لاهوري

هو ! شته دا خاوره داسي وګړي هم لري چې دې غيرتي خاوري پخپله غيږه کې را لوی کړي ؛ خو حيف !!! چې هغوی د خپل ناموس ساتنې احساس او وجدان نلري. دوی که څه هم د سر په سترګو د سپيڅلي آسماني کتاب د جهاد آيتونه ليدلی شي ، په غوږونو د خپلو نيکونو او مسلمانو اقوامو تاريخي داستانونه اوريدلای شي ، د انساني فطرت د استقلال او حريت غريزه درک کولای شي. ؛ خو ولې بيا هم ورته د بې ننګۍ ، بې ايمانۍ او نامردۍ لاره ښايسته ښکاري. د شيطان په لارښوونه د يرغلګرو په خدمت او چوپړ کې ولاړ ، پرخپله خاوره ، خپل ناموس او خپلو خلګو بلوسيږي. افسوس ، بيا هم افسوس او بيا هم افسوس. !!!

دا يوازې هغه وګړي نه دي چې د ناپوهي ، جهالت او بدبختۍ په ناسور اخته دي او يرغلګر دښمن تر پښو لاندې جوړ کړی ، ترڅو د مجاهد د توري له ګذارنه پرې خپل ځان وساتي ؛ بلکې يو شمېر نور چې ځانونه اهل قلم او صاحب دانش بولي ، دوی هم خپل ، ننګ ، غيرت ، ايمان او وجدان پلورلی او خپل قلم او دانش يې د متجاوز غليم چوپړ ته وقف کړی. شپه او ورځ لګيا وي ، ترڅو د جهاد ، مبارزې ، خپلواکۍ ، آزادۍ او حريت ايماني او فطري فلسفه تردید او تقبيح کړي ، پرځای يې لادينيت ، سيکولريزم ، کفري ديموکراسي ، دروغجنه آزادخيالي ، منحط غربي کلچر او پردی فرهنګ ، زمونږ په پاکه خاوره کې پلی کړي. ولې دا يې هيره ده چې د دوی بادارانو له دومره ستر تخنيکي وس او ميډيايي ځواک سره سره ونه توانيدل چې له يرغله تر زواله پورې د آزادۍ له اتلانو نه د ايمان او خپلواکۍ مورچلونه خالي کړي ؛ نو ځنګه به دغه عاقبت نااندیشه قلم خوځوونکي ګوډاګيان د کابل د تياترونو ، سينماګانو ، نايټ کلبونو ... له لاري همدارنګه تش په نوم رسنيزو غربي ادارو (بی بی سي ، آزادی ، تاند ، محور ، طلوع اونورو ...) ته اجرتي ، وطن پلورونکي وکولای شي چې د مورچل غوندي قلمی او فرهنګي مورچل په وړاندي بريالي شي؟. نه ، هيڅکله نه. دمورچل ننګيزه ده ، خو عمر يې څو کاله دی. د يرغلګرو له راتګ سره مورچل آباد شوی ، تراوسه يې د هيواد په ګوټ ګوټ کې د مجاهدينو د هرډول عملياتو هره صحنه قدم په قدم تعقيب کړي او په ريښتيني بڼه يې پخپلو پانو کې ثبت کړي. چې د راتلونکي تاريخ يو ستر باب جوړوي. ترڅنګ يې د مکار دښمن او بې ضميره ګوډاګيانو د هغو هڅو چې غواړي زمونږ ملي ، اسلامي فرهنګ مسخ کړي ؛ نه په زغرده ، فکري او قلمي مبارزه کړي او کوي يې.

مورچل اوس د مسلمان ، مجاهد ملت فکري ، قلمي ، او فرهنګي مورچل دی. او تل به د متعهدو ، مجاهدو ليکوالانو په ريښتيني قلم د يرغلګرو او ګوډاګيانو هڅې او ارمانونه له خاورو سره خاوري کوي.

انشاءالله.

مورچل مجله

دتپرو خپرنيزو کلنو په هيندار کې !

سيد سعيد

مورچل مجله داسلامي امارت دفرهنگي کميسيون له خواپه ۲۰۰۷ز،کال کي تاسيس شوه ، لومړی درې مياشتنی بيا دوه مياشتنی او اوس هره مياشت په کتابي شکل دچاپ په ګانه پسولل کيږي ، مورچل په ګران هيواد افغانستان کي دامريکايي بنکېلاک پر ضد دروان جهاد خوراغښتلی مطبوعاتي، فرهنګي اوفکري مورچل دی .

دمورچل مجلې مسؤل مدير :(بناغلی شکور شفق صاحب) دی او دتحرير هيئت غړي يې :(حسن خپل، ايوب صافی، حسن زوی، حکمت بغلاني، زبير مسافر او حافظ سعيد) دي .

مورچل مجله ديني ، پوځي ، سياسي، فرهنګي، علمي ، ادبي اوپه توله کي دروان جهاد پياوړی انځورګر سنګر دی .

مورچل ديرغلګرو ځواکونو اودهغوی دداخلي مزدورانو پر کاروانونو، ادو، دفترونو،پوستو او پتنځايونو دقهرمانو مجاهدينودچريکي حملو، مځکنيو چاودونو،تهاجمي بريدونواو استشهادي عملياتو نيته ،نوعيت او ارقام لوستونکو ته وخت په وخت وراندي کوي .

مورچل مجله دمجاهدينو دبريدونو دانعکاس سربيره علمي ، جهادي ، فقهي، سياسي، تاريخي ،اصلاحي، ادبي اوټولنيز مطالب هم خپروي، په مورچل کي دمتفرقوسياسي مطالبو ترڅنګ لاندي مضامين قست وار او مسلسل خپريږي .

۱- دجهاد فقهي مسايل
۲- داسلام غزوات اوسرايا
۳- دموچل دارالافتاء

۴- جنګي جنايتونه

۵- شهيدي قافلې

۶- دمورچل وړمې

۷- ذبيح الله مجاهد ځوشيبې له خپل ولس سره

۸- ددعوت او ارشادمياشتنی راپور

۹- دولايتي جهادي مسولينو سره مرکې

۱۰- دشهادت غوښتني اوفدايې عملياتوپه هکله شرعي دلايل اوداسي نور،

مورچل مجله دجهادي پيښو دخبرونو، راپورونواوشنونوسره څنګ کې دجهادي شهکارونو تصويري البوم هم خپروي چې دلوستونکو اومينه والودزياتي خوښۍ سبب ګرځي ، لوستونکي چې دغرب ديبان ازادۍ تر شعار لاندي دجهادي پيښوسانسورځپلي دي ، مورچل او نورجهادي نشرات يې جهادي تنده خړوبوي .

لکه څنګه چې لوستونکي پوهيږي لويديځ په تولوقضاياوو کې دوه مخې پاليسي تطبيقوي، همدا راز په مطبوعاتي ډګر کې هم که له يوې خوا ديبان ازادۍ چيغې وهي ، خوله بلې خوا بيادبيان ازادي زندۍ کوي ، لويديځ اومتحدين يې خپلوګټو ته دخطراو يا هوس په صورت کې نه هيڅ رازقوانين او ارزښتونه پيژني او نه هم ديبان ازادي زغملی شي ،تجربې اوشواهدو ثابته کړې چې دنړۍ په مختلفوسيمو کې همدا غربيان (امريکايان اوملګري يې) دي چې ديبان ازادي يې زندۍ کړې اوغوښتونکي يې په مرګ محکوم کړي دي .

يرغلګرو دافغانستان په شمول دنړۍ په مختلفو برخو کې ازاد مطبوعات هم دزر او زور له لارې رام کړي، ډيري زياتې رسنۍ اوژورنالیستان يې په ډالرو داسي معتادکړي چې اوس شپه او ورځ دتور په سپين او دسپين په تور اړولوګرمي هڅې کوي ، خود يو شمېر هغو رسنيو چې خپل مسؤليت ته يې لومړيتوب ورکړۍ پردفترونواوخبريالانو يې بياپرله پسې حملې کړې او په ډول ډول نومونو يې دبدنامولوهڅې کوي .

ښکېلاکګرواو دکابل اجير رژيم يې په مستقيمه توګه هم خورا ډيري چاپې اوبربښنايې رسنۍ تاسيس کړي چې شپه او ورځ تبليغات ورته کوي ، له مختلفو لاروپه پوره زور سره هڅه کوي چې دمجاهدينو ږغ ترخلګو ونه رسيږي، خو دخدای جل جلاله نصرت او دمجاهدينو همت دی چې خپله برحقه داعيه يې له بيلابيلو لارودنړۍ تر ولسونو پورې رسولې ده .

اسلامي امارت دفرهنګي کميسيون په چوکات کي دالیکترونیکي میډیاپه برخه کي دالاماره ، شهامت او اسلام په نوم په پښتو، دري، عربي،اردو اوانګريزي ژبو متعدد ویبسایتونه چلوي او په سمعي اوبصري بخش کي دالاماره ، منبع الجهاد، الهجرة او توره بوره په نوم جهادي ستوډیوګاني لري چي په لسهاوو جهادي حماسي ویډیوګاني يې خپرې کړي دي اوهمدا رازدپرینټ میډیاپه ډګر کي دمورچل ، شهامت ، څرک ، حقیقت، الصمود او شریعت په نوم په دري، پښتو،عربي او اردوژبومیاشتنی اودوه میاشتنی مجلې خپروي .

ددیري خوښی څای دی چي یادو شوو جهادی چاپي اوبرېښنایي خپرونودمجاهدینو پرضد درسنیوپه حاکم سانسور کي هم دجهادي ډګر ټول فعالیتونه اوخوځښتونه په تصویري،ږغیز او تحریري شکل ترهیوادوالو اونړیوالو رسولي دي .

مورچل مجله چي له نن څخه تقریبا اته کاله مخکي يې لومړی ګنه چاپ شوه ،لله الحمد ورځ ترېلي بنکلي شوې او غني شوې ده، بنکست او ډیزاین يې په زړه پوري شوی اود محتوی له لحاظه ښه پیاوړې شوې ده ،مورچل په توله کي دغربي بنکېلاک وحشتونه ، جنایتونه،او نه بخښونکي مظالم ترخلګو رسوي، دیتیمانو، کونډیانو، اسیرانو اومظلومو هیوادوالواهونه او فریادونه منعکسوي ، دجهادي مسؤلینوله خولې دجهادي ډګر ټودې اوسړې او دلومړي لاس معلومات خپروي او مورچل مجله دحاکم ژر ژورنالیزم په اوج کي دننني جهاد شهکارونه دتاریخ حافظې ته سپاري .

له نورو مجلو څخه دمورچل مجلې یو امتیاز دادی چي له پیل څخه تر اوسه پوري چي پنځه اویا(۷۵) ګنې يې چاپ شوي دزمان اومکان په سختوشرایطو کي هم ناغه نه شوه ، په تېره لسیزه کي دهیواد په مرکز او ولایتونو کي متعددي مجلې تاسیس اوچاپ شوې ، خو تر لنډ جریان وروسته ییرته بندي شوې ، اما مورچل مجله نه یوازي داچي دوخت په تېریدو سره تکنی نه شوه بلکي لاپسې غني ،بنکلې او وغوړیده .

خدای جل جلاله دي دا مورچل نور هم پیاوړی او غښتلی کړي . امین!

شاهد غزنیوال

طالبانو امریکایان مات کړل !

۱۴ کاله وړاندې چې امریکایان صلیبي غرور اخیستي او یواځې د توپک په خوله یې خبره کوله ، پرافغانستان باندې د یرغل په مهال یې دا په خیال کې هم نه ورګرځیده چې دوی دې بیا یو مهال همداسې مړه غوږونه له افغانستانه ووځي.

هغه مهال پر امریکایانو سربیره د بل چا هم دا زړه ته نه لویده چې دغه پرمختللی لښکر دې د تش لاسو افغانانو په لاس مات او افغانستان دې بیا د نړۍ پرمخ د یوه خپلواکه او مستقل هیواد په توګه پاتې شي.

خو الهی تقدیر بیا د دغو مادي اتکلونو خلاف یو بل ډول فیصله او پریکړه کړې وه او هغه داچې د همدغو تش لاسو ، خوږیدلو او جګړو څپلو افغانانو په لاس به نه یواځې داچې امریکایان له شکست سره مخ کیږي ،بلکې د هغوی ترځنګ به د نړۍ یو بل مقتدر پوځي ځواک د ناټو ټرون هم ماتې خوړې او د نورو ماتې خوړلو متجاوزینو په څیر به له افغانستانه په ځوړنده اورمیږونو پرشاکیږي.

سبحان الله ! افغانان که د ژوند په نورو مجالاتو کې د نړۍ د تمدن له قافلې ډیر وروسته پاتې دي ، خو دغه یو امتیاز بیا الله تعالی خاص پر دې میړنې ولس لورولی چې د نړۍ مستکبرین پر همدغه کمزوري ولس راپُر ځوي او د غرور او استکبار نشه یې له ککرۍ وړځخه باسي.

د بیلګې په ډول د چنګیز حشر او لښکر هغه وخت تالا ترغه شول چې د نیږدې ټولې نړۍ د فتح کولو له ځماره سره په افغانستان یر غل وکړ ، انګریز هغه وخت افغانانو په کوکارو کړ چې کله یې د امپراتوري حدود دومره پراخ شول چې لمر به نه ورکې ډوبیده ، پخوانې شوریان یې په داسې وخت کې په ترپکو کړل چې کله یې د ټولې منځنۍ اسیا او ختیځې اوروپا په لاندې کولو سره د

هند د تودو اوبو لامبو په خیال کې ورګرځیده او اوسنې مغرور امریکایان یې په داسې مهال کې مات کړل چې د یوه قطبي تکبر له املې یې ټولې نړۍ ته دا کرښه راکاږله چې یا به زمونږ خبره منی او یا مو د برید انتظار کوئ!

امریکایان چې له محسوساتو او مادیاتو ورهاخوا په مغیباتو او معنویاتو باور نه لري ملامت نه ول چې دغسې احمقانه بابولالې یې غږولې؛ ځکه هغوی له مادي لحاظه د خپل علمي، تخنیکي، پوځي او اقتصادي پرمختګ په مجال کې د نړۍ په کچه بل ځوک د ځان سیال نه لیدو، نو ځکه یې په دغه مغرورانه خطاب سره خپلو هغو سیالانو ته چې یو وخت د دوه قطبي توب پرمهال د دوی مقابل ول داخبره ورفهموله چې نورباید له مونږ سره د سیالۍ پرځای مونږ ته د تسلیمي تندی پرځمکه کیږدئ.

امریکایان له دې ناخبره ول چې داسې یو مقتدر ذات هم شتون لري چې د نړۍ د ترټولو کمزوري مخلوق (غوماشي) په وسیله یې د نړۍ ترټولو ستر طاغوت (نمرود) له منځه یوړ.

هماغه مقتدر ذات د خپل غیبي قدرت په ښکارکولو سره هماغه مغرور، پرمختللی او یو قطبي امریکایان له افغانانو سره په داسې حال کې په جګړه واچول چې د جګړه ځپلو افغانانو ټول توان د تیرو ۱۸ کلونو جګړو په اورکې اوبه شوی او تمام شوی و، مګر د هغه باوجود یې امریکایانو او د هغوی صلیبي اشروالو ته داسې ګذار ورکړ چې د دوی د یرغل د وخت ټول حماقت یې له دماغه ورځخه وایستی.

دلته پرځای خبره ده چې هغه د خواجه عبدالله انصار (رح) وینا را وړل شي چې وایي:

((الهی! هر که را خواهی که براندازی، با ماش دراندازی)).

امریکایانو چې کله پرافغانستان یرغل کاوه نو د هغه د تبریر لپاره یې د افغانستان



آزادي، ترقي ، سوکالي او په دغه وروسته پاتې هیواد کې د امریکایي ډیموکراسي پیاده کول پلمه کول، خو د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۱ نیټه چې کله یې په افغانستان کې د اشغال هسک کړی پوځي بیرغ بیرته رانغاړه دا یې له خیاله وتلي وه چې مونږ په ۲۰۰۱ لومړي کال کې افغانستان ته ولي راغلي او اوس ولي بیرته ترې وځو؟

په افغانستان کې د امریکایانو او ناټو فاحش شکست په دغه هیواد کې د ۴۰۰۰ خارجي یرغلګرو وژل کیدل او د سلګونو زره نورو ژوبل کیدل او لیوني کیدل دي.

او پر دوغو ځاني تلفاتو سربیره یې یوتریلیون (زرملیارده ډالره) مالي لګښت او په سلګونو زره پوځي وسائل یې هم له منځه تللي.

امریکایان په خپله پردې خبره اعتراف کوي چې د افغانستان جګړه د دوي په تاریخ کې تر ټولو اوږده ، خسته ګنه ، او له اقتصادي پلوه ملاماتوونکې جګړه ده چې دوی ورسره مخ شوي.

دلته دامریکایانو لپاره تر ټولو شرموونکې خبره داده چې په دې شکست کې له دوی سره نړیوال صلیبي ایتلاف (ناټو تړون) هم ګډ دی ، خو افغانانو د الله په نصرت په یواځې ځان له دغو ټولو مغرورو یرغلګرو څخه د مقابلې میدان یوړ ، او د خپل مقدس جهاد په برکت یې هغوی دیته اړیستل چې په مړو غوږونو له افغانستانه پښې سپکې کړې.

د یوویشتمې پیړۍ دغه تاریخ جوړوونکې جګړه افغان غیرتي ولس د طالبانو په جهادي قیادت کې وګټله او هم د دوی په نوم به د افغان غیور ملت په زرین تاریخ کې د تل لپاره ثبت وي.

هرگز نمیرد آنکه دلش زنده شد بعشق ــ ثبت است برجریده عالم دوام ما

د اسلامي امارت د جهادي نظم ځانګړتیاوې!

مولوی عبدالهادی (مجاهد)

داسې ښکاري لکه الله تعالی چې د کفري نړۍ د معاصرو لویو قدرتونو د زوال د پیل نقطه افغانستان ټاکلی وي. د انګریزانو د قدرت زوال هم له همدې ځایه پیل شو، د شوروي اتحاد زوال هم له همدې ځایه پیل شو، او دا دی ټولې نړۍ ولیدل چې د امریکا په مشرۍ د غربي دولتونو د نظامي قدرت زوال هم له همدې ځایه پیلېږي او تقریبا د غربي ایتلاف ټولو دولتونو لکه امریکا، کاناډا، برتانیې، فرانسې، ایټالیا، جرمني، هالنډ، هسپانیا، استرالیا او نورو هیوادونو یو په بل پسې خپلې قواوې د اسلامي امارت د مجاهدینو په مقابله کې د جګړې له ډګره و ویستلې او پرته له دې چې په جرأت سره د خپلې ماتې اعلان وکړي بالفعل یې د تېښتې لار ونیوله.

دا چې اسلامي امارت په تېرو دیارلسو کلونو کې څنګه د یوه ستر مجهز او نړیوال پوځي ایتلاف په خلاف خپله جګړه پر مخ یووړه؟ او څنګه یې د دغه ډول یوه لوی پوځي ځواک په مقابل چې د خارجي او داخلي ګډونوالو شمېر یې تقریباً شپږو لکو مسلحو پوځیانو ته رسیدو په خپل صف او خپل ولس کې د مقابلې وړتیا پیدا کړه؟ او څنګه یې له بېلا بېلو داخلي او نړیوالو توطیو سره مقابله وکړه او خپل صف یې له کمزوري کېدلو او په هغه کې دانشعابونو له رامنځته کېدلو وساته او لا نور یې هم د قوت او انسجام پر لوري سوق کړ؟ د دې هر څه تر شا د الله تعالی تر فضل او نصرت وروسته یو غښتلی، سنجول شوی جهادي نظم وجود لري چې دغه جهادي مقاومت یې له فکري، پوځي، اقتصادي، اداري، سیاسي، او لوژستیکي اړخونو د دښمن په مقابل کې فعال او د هرې مرحلې له غوښتنو سره سم عیار وساته، او پداسې یوه نامتوازنه جګړه کې یې له مادي لحاظه یو کمزوری او مغلوب قوت بېرته د یوه نړیوال لوی

او غالب قوت په مقابله کې د بري او غلبې پر پولو ودراوه.

په مجموع کې د اسلامي امارت د جهادي صف او په هغه کې د جهادي نظم ځینې ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

۱- پر شریعت تمسک او یوازې اسلام د تلقي مصدر ګڼل:

د طالبانو د ټول حرکت او د اسلامي امارت د نظام د قوت مصدر اسلامي شریعت ته د هغه انتساب او د هغه له احکامو سره د ژوند په ټولو ابعادو کې التزام دی. ځکه چې طالبان نه د کوم نړیوال پوځي ځواک له ملاتړه برخمن دي، نه د کوم قوي اقتصاد خاوندان دي، نه یې حرکت او امارت د کوم اوږده سازماني فعالیت په نتیجه کې تشکیل شوی او واک ته رسیدلی، نه کوم نشنلستیک نظر او بنسټ لري چې دیوه خاص قوم مادي قوت دې د دوئ قوت وبلل شي، نه په کوم نړیوال پوځي ایتلاف کې عضویت لري چې د هغه پوځي ټرون قوت دې د دوئ قوت وګڼل شي، او نه په پوځي لحاظ کوم داسې منظم په پوځي اصولو روزل شوي او په پرمختللو وسلوسمبال قوت دی چې د خپلې وسلې او خپل پوځي صنعت په زور دې د خپلې بقا او برلاسۍ عوامل برابر کړي. بلکه د طالبانو د حرکت نشأت او د دوئ د نظام د قیام مراحل ټولو په ستر ګو ولیدل چې یو خودجوشه دیني او افغاني حرکت وو چې مشران یې د پخواني جهاد د فکر او نظر خاوندان علماء او قومندانان ول، او افراد یې د مدارسو کشران طالبان ول چې په یوه قوي دیني شعور او احساس د خپلو مشرانو له حرکت سره یوځای شول او د شلو کلونو په تېرېدلو او د مبارزې د بېلابېلو پراوونو پر وهلو په فکري، سیاسي، اجتماعي او پوځي لحاظ د پخوالي دې حد ته ورسیدل چې په ښه بصیرت، صبر، مېړانه او قوت یې د امریکا په مشرۍ د یوه لوی نړیوال پوځي ټرون مقابله وکړه او هغه یې له افغانستانه وتلو ته اړ کړ.

د طالبانو دیني او شرعي حیثیت مسلمان ولس د دوئ ترشا ودراوه، دوئ ته یې یو فداکار، رضاکار اومخلص پوځ په لاس ورکړ، او همدغه دیني حیثیت په دوئ کې په معنوي او رواني لحاظ د مقابلې وړتیا پیدا کړه.

په شریعت باندې په هر حالت کې تمسک او د هغه پر اساس د نظام جوړول او له نا اسلامي نظریاتو سره پیوند نه اخیستل او د شریعت په مقابل کې وضعي قوانین ردول هغه ځانګړتیاوې دي چې د طالبانو حرکت او اسلامي امارت یې د نړۍ د مسلمانانو په ستر ګو کې دیوه داسې اصیل اسلامي بهیر په حیث وځلول چې د معاصرې نړۍ د کفري نظامونو له تأثیراتو خلاص او د اسلامي ویښتابه یوه داسې نمونه یې ورځخه جوړه کړه چې د نورو ولسونو لپاره د اسلام لپاره د پوځي او سیاسي فعالیت یوه ښه نمونه او سرمشق وګرځېدل.

د شلمې پېړۍ له پیل راهیسې په اسلامي نړۍ کې ډیر نهضتونه او حرکتونه په اسلامي نومونو جوړ شول خو دغو حرکتونو د وخت له

تېرېدلو سره خپل خالص اسلامي مصداقيت ونه ساتلی شو، بلکه په يوه او بل ډول يې له نورو مفکورو لکه کمونيزم ، ديموکراسۍ ، نشنليزم، او نورو نظرياتو سره په فکري، سياسي، اقتصادي او يا نظامي ډګرونو کې پيوند واخيست، او پدې کار سره يې د مسلمانانو اعتماد هم له لاسه ورکړ، او خپل ځان يې هم هماغو پردېو نظرياتو ته وربايلود چې په پای کې يا ديموکرات او غرب پلوي او يا هم نور نشلست او منحرف تنظيمونه او احزاب ورڅخه جوړ شول.

د طالبانو د قوت او عافيت راز په همدې کې دی چې پر خالص اسلام متمسک پاتې شي، په هېڅ شکل له بل چا سره پيوند وانخلي، او دسياسي او مادي امتيازاتو په بدل کې له خپلو هغو اسلامي اصولو اوتکلارو تېر نه شي د کومو لپاره يې تر اوسه په لسګونو زره شهيدان ورکړي دي. او که چېرې دوئ هم له نورو افکارو او سياستونوسره پيوند واخلي نو برخليک به يې په يقيني ډول د هغو اسلام ته منسوبو احزابو په څېر وي چې نن د ديموکراسۍ په چوکاټ کې له سيکولرو احزابو سره په ايتلافونو کې ورګډ دي، او د داسې حکومتونو برخه دي چې د جهاد او مجاهدينو په خلاف يې په ټوله اسلامي نړۍ کې علني جګړه اعلان کړې ده.

۲- په جهادي حل باندې باور لرل او له دښمن سره د جوړ جاړي نه کول:

د طالبانو د حرکت او د اسلامي امارت د نظام يوه بله ځانګړتيا دا ده چې د واقعي تبديلۍ لپاره دعلو او دعوت تر څنګ په جهادي حل باندې باور لري، او پدې لار کې يې نه تر اوسه له ځانه سستي ښکاره کړې، او نه يې له دښمن سره جوړ جاړی کړی دی.

طالبانو ته په اسلامي نړۍ کې د معاصرو اسلامي تنظيمونو او حرکتونو له ناکامو تجربو دا ورښکاره شوې چې تر څو واک او نظام د صالحو خلکو لاس ته نه وي ورلويدلی او حکومتونه پر اسلام نه وي درېدلي، نو مثبته تبديلي نه رائي. همدغه تګلاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم له سيرت او د واقعي بدلونونو د سترو رهبرانو له کړو هم ثابتيږي . په تقريباً تېرې يوې پېړۍ کې ډيرو حرکتونو او تنظيمونو له مسلح جهاده ليرې د فکر، دعوت، سياست، تعليم، او اقتصادي اصلاح له لارې د بدلونونو هڅې وکړې، احزاب يې تشکيل کړل، په ميليونونو اتباع يې په کار واچول، په ډيموکراسۍ ورګډ شول، له سيکولرو احزابو او حاکمو غرب پلوو او شرق پلوو ګوندونو سره يې ايتلافونه وکړل، او په ميلياردونو ډالر او په لسګونو کلونوعمرونه يې مصرف کړل، خو هېڅکله يې نه په ولسونو کې اصلاح راوسته، او نه يې نظامونه تبديل کړای شول، بلکه په خپله يې هم د سيکرلريزم او ديموکراسۍ نم کش کړ، او دا ځکه چې دوئ له زورواکو، مستبدو، پردي پالو او تحميلي نظامونو په عذرونو، زاريو او نصيحتونو تبديلي او اصلاح غوښتله پداسې حال کې د زورواکۍ، استبداد او پردي پالنې په منطق کې سوله ييزو او نرمو وسائلو ته ځای نشته، ځکه چې هغوئ يوازې د زور په ژبه پوهيږي او بس.

طالبان کـه څـه هـم چـې پـه فکـري لحـاظ داسـتاذ سـيدقطب د فکـر وارثـان نـه دي خـو پـه عملي ډګر کې يې د هغه دا نظريه په ډېر ښه ډول عملـي کـړه چـې موجـوده مفسـد او جـاهلي نظامونـه پـه پيونـد کاري او د هغـو پـه چوکـاټ پـه اصـلاحي دعـوت او کـار نـه اصـلاح کېـږي، بلکـه دغـه مفسـد او جـاهلي نظامونـه بايـد لـه بېخـه ونـړول شـي، خـاوري او خټلـې يـې ليـږي وغورځـول شـي، او پـر ځـای يـې لـه سـره پـر اسـلامي بنسـټونو او د اسـلامي عقيـدې او تصـور پـه رڼـا کـې نـوي نظامونـه جـوړ شـي. ځکـه چـې دغـه نظامونـه پـه هـېڅ حالـت کـې اصـلاح منونکي او شريعت ته تسليميدونکي نه دي.

طالبانو هم د بدلون لپاره د دعوت او جهاد فطري او نبوي لاره ونيوله چې نه يې له داخلي مفسدو او سيکولرو جهتونو سره جوړ جاړی وکړ، او نه يې د امريکا په مشری نړيوال سرتمبه صليبي ايتلاف ته سر تيټ کړ. نه يې له خپلو اصولو تنازل وکړ، او نـه يـې لـه دښمن سره د خپلـو اصـولو او تګلارو په قيمت سوله وکړه. هماغه وو چې الله تعالی يې په هڅو او جهاد کې برکت واچاوه، او داسې دښمن تـه يـې مـاتې ورکړه چې ټوله نړۍ ورځخه په وېره کې وه. د طالبانو دغه ډول سياسي او عسکري فهم دا ثابته کړه چې د مدرسی، منبر او محراب د بچيانو فهم د هغو پردي پالو او سيکولرو اشخاصو او جهتونو تر فهم ډېر پوخ دی چې ځانونو ته (روښانفکران) وايي خو په حقيقت کې د غرب دکفري نظرياتو په تيارو کې ورک او د خپل امت له ارمانونو څخه پردي شوي دي.

د دعـوت او جهـاد پـر نبـوي مـنهج ټينـګ پـاتې کېـدل، او دامـت ځوانـان د آزادۍ او اسـلامپالنې لارې تـه سـوق کـول د طالبـانو او اسلامي امارت يوه بله ځانګړتيا ده چې نور ډېر جهادي حرکتونـه بـه يـې د خپلـې مبارزې لپاره سرمشـق وګرځـوي. ځکـه چـې د همـدغې لارې افاديـت د اسـلامي نـړۍ پـه نـورو هېوادونـو کـې هـم پـه عملـي ډول ثابـت شـو او د ډېـرو طـاغوتي نظامونو د قدرت ستنې يې ور ولړزولې.

۳ - پراخه غېږ او د شخصيت محوری او خاندان محوری نشتوالی:

د طالبانو د حرکت او داسلامي امارت د نظم يوه بله ځانګړتيا دا ده چې دا جريان په يوه خاص توکم، قوم او سيمې پورې خاص نه دی، او نه هم پدې جريان کې څو داسې خاصې کورنۍ شته چې هماغه دې د قدرت محور وي او دې ټول ثانوي او فرعي حيثيت ولري.

د طالبانو په حرکت او داسلامي امارت په نظـام کـې پښـتانه، تاجـک، بلـوڅ، ازبـک، نورستانيان، پشه يان او د نورو قومونو خلک وجود لـري چې دې ځانګړتيا دغـه جريـان پـه طبيعي او اصلي ډول د افغانستان ټولو سيمو ته غځولی دی.

پـه تېـرو څـو لسـيزو کـې د اسـلامي نـړۍ پـه هېوادونـو کـې ډېـر مـنظم اسـلامي حرکتونـه او احـزاب موجـود ول، خـو د وخـت پـه تېرېـدلو پـر اصـولو او اسـلامي فکـر د ټينـګ پـاتې کېـدلو پـر ځـای د شخصـيت محـوری او خانـدان محـوری پـر لـوري لاړل، چې پدې کار سره يې په پرګنو

کې خپل پراخ نفوذ او ډیر ملاتړي له لاسه ورکړل، او تنظیمونه یوازې په یو څو شخصیتونو او څو خاصو کورنیو کې منحصر پاتې شول چې واضح مثالونه یې زمونږ د پخوانۍ جهاد د وخت تنظیمونه او په ګاونډیو هېوادونو کې ځینې اسلامي احزاب دي.

خو طالبانو پدې مجال کې له پوره هوښیارتیا کار واخیست، او کله یې هم ځان په یوه خاص قوم او یا یو څو خاصو کورنیو کې منحصر نه کړ، بلکه هر هغه چا ته یې په ځپل صف کې د کار او جهاد کولو لار خلاصه پرېښوده چې د کار وړتیا او د جهاد عزم او توانایي یې درلوده. نو ځکه خو هېڅکله او په هېڅ ځای کې پدې خطرناکې اوږدې جګړې کې چې د امریکا او اروپا په خلاف یې دا څوارلس کاله وکړه د بشري قوي له کمښت سره مخامخ نشول، بلکه که هر څومره ډېر مجاهدین او مشران یې اسیران او یا شهیدان شول تر هغو نور ډیر د جګړې ډګرته راغلل، او کله هم له بدخشانه نیولې تر هلمنده، او له هراته نیولې تر ننګرهاره پدې صف کې تشه احساس نشوه. او دا ځکه چې پدې صف کې هر چاته خپل ځان (اصلي) ښکاري، او دا تصور له هیڅا سره نشته چې یوه طائفه خلک دي ورکې (اصل) او نور دې ورکې (فرع) وي.

۴- د انشعابونو او انشقاقونو نه شتون:

په هغو حرکتونو او تنظیمونو کې چې د افکارو او نظریاتو پر ځای شخصیتونو باندې ډېر تمرکز کېږي، او د قیادت خلک پداسې حال کې په منصبونو پورې نښتي وي چې اتباع یې د قربانۍ ډګرونو ته ورټېل وهل کېږي کینې او کدورتونه ډېر رامنځته کېږي چې عواقب یې د انشعابونو او اختلافاتو په شکل کې راڅرګندېږي. خو په هغو حرکتونو کې چې تمرکز ورکې پر عقائدو او نظریاتو وي، او قیادتونه په خپله د قربانیو ډګرونو ته له افرادو سره یو ځای ورځي دغه ډول تجربې ډېرې نه پېښېږي.

دطالبانو صف هم همداسې دی چې قیادتونه ورکې په خپله د قربانۍ ډګرته وردرومي. او همدغه وجه چې د دوئ تقریبا اتیا فیصده قیادتونه داسې دي چې یا یې خپل د بدن غړي له لاسه ورکړي، یا یې د کورنۍ افراد شهیدان شوي، او یا یې هم په کلونو کلونو د زندان تیارې لیدلې دي. نو کله چې اتباع خپل مشران پدغه ډول حالت کې ګوري د هغوئ اعتماد لا نور هم وربانديې زیاتېږي.

د طالب په صف کې مشر کېدل یو غنیمت او منصب نه بلکه د مرګ او د زندان خولې ته د ځان د وربرابرولو په معنی ده. نو ځکه خو دلته مشري ته یوازې هغه خلک ځان تېنګوي چې له ژوند، خوندونو او راحت سره یې خدای پامانی کړې وي. او کله چې

وضعیت دغه ډول وي نو بیابه ولې دمنصبونو او مشرۍ لپاره انشعاب رامنځته کېږي؟

په تېرو شلو کلونو کې د طالبانو دښمنانو ډېرې هلې ځلې وکړې چې طالبان په څو ډلو ووېشي، خو یوه هڅه یې هم بریالۍ نشوه. د صف د دې وحدت نتیجه دا راووته چې په مادي او پوځي لحاظ یوه کمزوري جهت چې یوازې یو څو زره مجاهدین یې درلودل داسې یوه نړیوال پوځي تړون ته ماتې ورکړه چې د داخلي او خارجي ګډونوالو شمېر یې تقریبا شپږو لکو مسلحو پوځیانو ته رسېده.

د طالب صف به هغه وخت توپه کېږي چې پدې صف کې قومي، مذهبي او د مادیاتو پر سر کشمکشونه پیدا شي، او تر جهادي روحیې زیاتره پر سیاسي روحیې ارتکاز وکړي.

۵- د سیاسي او پوځي فعالیتونو اسلامي ماهیت ته التزام:

د طالبانو په سیاسي او پوځي فعالیتونو کې اسلامي ماهیت ته التزام د دوئ یوه بله ځانګړتیا ده او هغه پدې معنی چې لکه څنګه چې دوئ په عدلي، حقوقي، اخلاقي او ټولنیزو تعاملاتو کې اسلامي معیارونه خپل کړي همدارنګه یې په سیاست او پوځي فعالیتونو کې هم تر اوسه اسلامي اصولو او معیارونو ته التزام ښودلی دی، او د امریکا او غربي ټلوالې په خلاف یې خپله روانه جګړه هم له پیله تر پایه د یوې دیني او مشروعې جګړې په حیث روانه کړې ده. طالبانو خپله جګړه نه د سیاست لپاره وبلله، نه یې هغې ته قومي رنګ ورکړ، که یې له چا سره سیاسي تعامل وکړ هم نو د دین په اساس یې وکړ، او که د جګړې پر مشروعیت باندې خپل ولس او نورو خلکو د قناعت ورکولو لپاره دلائل وړاندې کړي نو بیا یې هم دین د مشروعیت بنیاد ګرځولی دی.

دطالبانو په جهادي بهیر کې دجګړې دمشروعیت دلائل، دجګړې لپاره روحیه او انګیزه، سیاسي او فکري ادبیات او له دښمن سره تعامل او تقریبا هر څه پر دیني اساساتو ولاړ دي. نو ځکه دوئ وکولای شول چې دي ته د همدغه قوي او عملي نسبت په برکت هم په خپل ولس کې په لسګونو زره مجاهد او شهادت غوښتونکي ځوانان له ځانه سره ملګري کړي، او هم د ټول اسلامي امت په سطحه د مسلمانانو عواطف، دعاګاني او مادي او معنوي مرستې له ځانه سره ولري.

د روسانو او کمونیزم په مقابل کې چې زمور جهادي صف ترڅو پر دیني بنسټونو ولاړ وو نو مسلمانانو یې جګړه اسلامي جهاد بالله او هر ډول مرستې یې ورسره کولې، خو کله چې د جهادي صف مشرانو په خپلو غلطو سیاستونو، فیصلو او اقداماتو د صف دیني حیثیت ورختم کړ او د خپلو شخصي اهدافو او غوښتنو د تحقق په خاطر یې له اسلام

دښمنو کړيو او دولتونو سره روابط ټينګ کړل نو نه يوازې دا چې الله تعالى هغوئ د اسلامي نظام د اقامه کولو له عزته محروم کړل بلکه پخپله هماغه مشران او د هغوئ ډلې هم د مافيايي، ملېشه يي، سيکولرو او غرب پلوو ډلو ټپلو په حيث د اسلام د دښمنانو په صف کې ودرېدل، او په ډېرې بې شرمۍ يې د امريکايي يرغل په خلاف د راپورته شويو مجاهدينو په خلاف د صليبي ايتلاف ملګرتيا وکړه، او د هغوئ د اهدافو لپاره د اوزارو په حيث استعمال شول.

۶-د جګړې په دوران کې د ټول هېواد لپاره د ملکي او نظامي تشکيلاتو لرل:

د طالبانو د ټول بهير د جهادي نظم يوه بله تر ټولو مهمه ځانګړتيا داده چې جګړه ييز حالات ورځخه په انارشۍ او بې نظمۍ بدل نشول، او د ټل لپاره يې جګړه منظمه او په خپلو سيمو کې جګړه ييز وضعيت او حالات په خپل کنترول کې وساتل.

طالبانو اجازه ورنکړه چې له جګړه ييزو حالاتو څخه په استفاده دې په ولس کې غير مسؤوله ډلې ټپلې او خپلسري ټوپکوال سر راپورته کړي، بلکه د جګړې له پر مخ بيولو سره سره يې د خپلو سيمو ټول ملکي او نظامي وضعيت د منظمو تشکيلاتو په چوکاټ کې منضبط کړ. هغوئ د ټولو ولايتو لپاره واليان، ولسوالان، عدلي او قضايي مسؤولين، نظامي قومندانان، د ډلګيو مشران او د چارو د ځارنې لپاره د قيادت له طرفه د ځارنې سيار کميسيونونه وټاکل چې پدې کار سره يې له يوې خوا جګړه ييز حالت منظم کړ، او له بلې خوا يې په ولس کې د بې نظمۍ، بې عدالتيو او د غير مسؤولو ډلو او ټوپکوالو د رامنځته کېدو مخنيوی وکړ.

له همدې امله خو په آزادو سيمو کې امنيت او د عدالت تأمين دهغو سيمو په نسبت ډېر قوي دی چې د امريکايي پلوي حکومت تدر تسلط لاندې دي، او دهمدې امتياز له امله دولس عام خلک خپلې عدلي او قضايي قضيې د دولت پر ځای د طالبانو محاکمو ته راجع کوي.

د طالبانو اداري او محاکم که څه هم چې د بېلابېلو مشکلاتو له امله مثالي اداري ندي خو په هر حالت کې يې وضعيت دامريکايي پلوي حکومت تر ادارو او محاکمو غوره دی.

د طالبانو بهير د بل هر اسلامي بهير په څېر يو دانسانانو بهير دی چې د ځانګړتياوو او کمالونو تر څنګ نيمګړتياوې هم لري چې په نورو ځانګړو ليکنو کې به يې يادې کړو، خو دا يو منل شوی حقيقت دی چې طالبانو په خارق العاده ډول د نړيوال زبرځواک مقابله په پوره تدبير او مېرانې وکړه، او او د نړۍ ډېرو ولسونو ته يې د طاغوتانو په خلاف د پاڅون او مقابلې الهام ور وبانبه.

۲۰۱۴ میلادي - هنه کال

چې ناټو په کې د آسیا له لوبو ورغېده !

(أبو عابد)

۲۰۱۴م کال دافغانستان په تاریخ او دروانې جګړې په بهیر کې یو مهم او تاکونکی کال و، ددې کال تر ټولو ستره لاسته راوړنه د یرغلګرو ځواکونو عملي تیښته ،دیرغلګرو بیرغونو رانسکوریدل او د امریکایي یرغلګرو لخوا په پوځي شکست ځرګند اعتراف و.

ددې ترځنګ دې کال د افغان اولس او مجاهدینو لپاره نورې هم ګڼې تاریخي لاسته راوړنې او سوبې درلودې.دغه کال په کابل کې د بهرنیانو په یوه پټنځای چې رسنیو د لبنانې رستورانت نوم ورکړ له یوه تندریز برید ځخه پیل شو،چې د ګنو بهرنیو استخباراتي منسوبینو په وژل کیدو یې اشغالګرو ته سخت ټکان ورکړ،د همدې او ورته نورو بریدونو پایله وه چې څه موده وروسته د مارچ په میاشت کې کناډایي یرغلګرو خپل بیرغ رسما راکوز او له افغانستانه یې پښې سپکې کړې.

کاناډایان وتښتیدل خو نور اشغالګر ملګري او ګوډاګیان یې د مجاهدینو تر ځپونکو بریدونو لاندې و، په کابل ، جلال اباد ، کندهار، غزني، هلمند او دهیواد په نورو سیمو کې ښاري بریدونه پرلپسې روان و،د اپریل میاشت وه چې په جنوب ختیځ کې بدخشان په جوش راغی،مجاهدینو نه یوازې په بیا بیا په وردوج کې دښمن ته عبرتناک درسونه ورکړل بلکې یمګان ولسوالي یې هم په بشپړه توګه تړې ونیوله، د بدخشان سوبو ددښمن وارخطایي یو په دوه کړه.

د اپریل په میاشت کې چې لومړني انتخابات ترسره کیدل، مجاهدینو په درست هیواد کې سرتاسري عملیات وریاندې ترسره کړل،چې په یوه ورځ کې په دښمن د جهادي بریدونو شمیر تر

۱۰۰۰ واوښت، د مې په میاشت کې مجاهدینو خیبر عملیات په امریکایي سفارت له برید څخه پیل کړل،د عملیاتو په لومړۍ ورځ د بګرام هوایي ډګر او دهیواد په مختلفو سیمو کې ددښمن نور مهم مراکز د مجاهدینو تر سختو بریدونو لاندې راغلل.

د مې میاشتې په وروستیو کې مجاهدینو ددښمن هغه ستر عملیات له سختې ماتې سره مخامخ کړل چې دغزني په ګیلان ولسوالۍ کې یې پیل کړی و،همدغه مهال خیبري عملیات له کمې او کیف ارخه د عروج په حال کې و او دهیواد په لراوبر کې د یرغلګرو پښې په سستېدو وې .

د ۲۰۱۴ م کال د جون میاشتې په پیل کې داسلامي امارت د سیاسي دفتر د هلو ځلو په برکت د اسلامي امارت پنځه تنه لوړرتبه مشران د ګوانتانامو له زندان څخه راخلاص او له خپلو ملګرو سره وصل شول، دغه برېا چې دښدیانو دتبادلې په توسط تر لاسه شوه ځکه بیساري وه چې امریکایانو تردې وړاندې کومه داسې تبادله نه وه ترسره کړې .

د جون په میاشت کې مجاهدینو د روزګان په دهراود کې هم ستر عملیات پیل کړل چې دپام وړ لاسته راوړنې یې درلودې، دهمدې میاشتې په ۱۶ مه چې دوهم ځلي انتخابات ترسره کیدل ، مجاهدینو یوځل بیا ددښمن مراکز تر سختو هماهنګو بریدونو لاندې ونیول ، چې دښمن ته یې درانه تلفات درلودل.د جون میاشتې په وروستیو کې مجاهدینو د تیر په څیر یوځل بیا د ننګرهار په تورخم کې د یرغلګرو په اکمالاتي مرکز برید وکړ او سلګونه موټر یې داور په لمبو کې لولپه کړل .

د تیر کال د جولای په میاشت کې مجاهدینو د هلمند په سنګین، نوزاد، کجکي، ګرشک او خانشین کې هم د پامور عملیات ترسره کړل، په دې عملیاتو کې ترټولو خبرساز او بریالي عملیات د سنګین د څاروان کلا و چې په نتیجه کې یې دغه پراخه سیمه په بشپړه توګه ددښمن له شتون څخه پاکه شوه ، په همدې مهال د یرغلګرو د ماتې په بهیر کې یوه بله پېښه د افغانستان لپاره د امریکایي حکومت د ځانګړي استازي ډوبینز استعفاء وه چې په سیاسي ډګر کې یې د اشغالګرو له بشپړې ناتوانۍ او ګنګستیا څخه پرده پورته کړه .

د جولای په میاشت کې د کابل ښار په څنډه د ارغندۍ په سیمه کې مجاهدینو په تاکتیکي برید سره ددښمن سلګونه په تیلو بار ټانکر موټر د اور په لمبو کې لولپه او اشغالګرو ته یې درونده مالي زیان وروړاوو،په همدې میاشت کې د پکتیا په زرمت کې د حامدکرزي په ځانګړي ګارد چې پکتیکا ته په لاره و مجاهدینو تندریز برید وکړ

چې د ساعتونو جګړې په پايله کې ورته درانه زيانونه واوښتل.

په ورپسې مياشت اګست کې تاريخي کابل يوځل بيا د تاريخي کارنامې شاهد و، ددې ښار په يوه پوځي مرکز کې د رفيق الله په نامه يوه نفوذي مجاهد د امريکايي پوځ لوړرتبه کسان په ننبه کړل چې په نتيجه کې يې د تورنجنرال په شمول ګڼ بهرني لوړپوړي پوځيان قتل او څو تنه نور تپيان شول، دا برید يو بيساری برید و چې په نړۍ والو مطبوعاتو کې يې هنګامه راپورته کړه .

د سيتمبر مياشت په پلازمينه کابل کې يوځل بيا د فدايي بريدونو د شدت مياشت وه ، چې په ګڼو حکومتي اهدافو ترسره شول، دهمدې مياشتې په پيل کې مجاهدينو په غزني ښار کې هم په حکومتي مراکزو څپونکي فدايي بريدونه ترسره کړل چې د پخوا په پرتله بيساري و په دې سربيره د غزني د اجرستان په ولسوالۍ کې ګډواګي عسکر سخت وځپل شول او پراخې سيمې ترې تصفيه کړای شوې،د غزني او هلمند د مهمو سيمو غوندې د تير کال په اوږدو کې په فاريياب ولايت کې هم مجاهدينو پراخ فتوحات درلودل ، دغه راز په ننګرهار،پکتيا، هرات، کندز،سرپل، غور،فراه ، زابل،بدخشان،کونړ، نورستان کندهار او ګڼو ولاياتو کې مجاهدينو پراخې سيمې ددښمن له شتون څخه پاکې کړې او حتی د مکملو ولسوالیو په کچه سيمې يې فتحه کړې.

د اکتوبر مياشت د يرغلګرو د تيښتې اوبه شکست د اعتراف يوه تاريخي مياشت و ددې مياشتې په پيل کې د المان د بهرنيو چارو وزير فرانک والتر شتاين اعترا ف وکړ چې په افغانستان برید د ناټو او المانې حکومت تر ټولو ستره اشتباه وه . د همدې مياشتې په وروستيو کې د افغانستان د اشغالګرو له جملې له امريکا وروسته دوهم مهم هيواد برتانيې هم رسما شکست ومانه او د شوراب په پوځي اډه کې يې خپل بيرغ راکوز او شکست خوړلیو لښکرو ته يې دتيښتې قومنده ورکړه .

د برتانويانو تيښتې په امريکايانو هم وارخطايي ګډه کړه نوځکه يې د تيښتې تصميم ونيو او دخپلو پخو اډو په رنګولو يې پيل وکړ .

برتانويان وتښتيدل او امريکايانو هم د بار بسترو په تړلو پيل وکړ، دوی په دې اميد له افغانستانه وتل چې تر شا پاته کارونه به يې روزل شوي ګډواګيان ترسره کړي، خو د مجاهدينو د څپونکو بريدونو په وړاندې د اشغالګرو غوندې ددوی ګډواګيان هم په شکست محکوم و، د نومبر مياشتې په لومړيو کې په لوګر کې په اريکيانو خورا اغيزمن برید ترسره شو چې له املې يې ددې

سیمې داریکیانو د یو مهم قومندان په شمول ګڼ اریکیان ووژل شول.

نو مېر میاشت د یرغلګرو د د پیلوماتیکي تیښتې پیلامه هم وه و دهمدې میاشتې په ۲۱ مه بلجیم هیواد اعلان وکړ ، چې دپوځیانو غوندې خپل سیاسي استازي هم له افغانستانه وباسي او خپل سفارت ته قلف ور اچوي، دهمدې میاشتې په وروستیو کې د اسلامي امارت څو تنو فدایانو په هلمند کې د یرغلګرو په لوی مرکز شوراب بریالی عملیات ترسره کړل چې دری ورځې یې جریان درلود ، په دې برید کې ددښمن لسګونه عسکر مړه او ژوبل او پراخ مالي زیانونه هم ورته ورسیدل .

د ۲۰۱۴ م کال په وروستیو کې هغه مهال چې په کابل کې له انتخاباتي رسواییو وروسته د امریکا په مستقیمه مداخله یو نوی ګوډاګی حکومت رامنځته او له یرغلګرو سره یې د امنیتي ترون موافقه لاسلیک کړه، مجاهدینو ګوډاګیانو او دهغوی بادارانو ته د درس ورکولو په ترڅ کې یوځل بیا په کابل کې په دښمن بریدونه پیل کړل، په کابل کې ددې وروستیو بریدونو څپه خورا بې ساري او کم سابقه وه، تردې چې په کابل کې ددښمن په ترټولو حساسو مراکزو فدایي بریدونه،چاودنې او ددښمن په افرادو چریکي حملې د ورځې خبره وګرځیده، دې عملیاتو نه یوازې داخلي ګو ډاګیان له وارخطایي سره مخامخ کړل، بلکې بهرني اشغالګر عسکر او دهغوی ملکي کارمندان خو یې عملي تیښتې ته مجبور کړل .

د کال په وروستیو کې مجاهدینو د کونړ ولایت په دانګام کې په دشمن څپوڼکي عملیات ترسره او دغه مهمه سیمه یې له اریکیانو تصفیه کړه،د کال په اوږدو کې همدا پرلپسې عملیات و چې بالاخره یې د دسمبر په وروستۍ اونۍ کې نه یوازې د ناټو په مشرۍ اشغالګر دخپل بیرغ کوزولو او د تیښتې رسمي اعلان ته مجبور کړل، بلکې بارک اوباما هم د امریکایي پوځ دیارلس کلنه جګړه پای ته رسیدلې اعلان کړه .

هو کې په ۲۰۱۴ م کال کې دامپراطوريو په هديره افغانستان کې ديوې بلې امپراطوری غرور هم دفن شو، دلته هغه لښکر مات شو چې د تلپاتې اشغال په نيت راغلی و او غوښتل يې له دې هيواده خپل اسيايي سنګر جوړ کړي

په ۲۰۱۴ م کال کې د پوځي ډګر دتاندو حماسو او لاسته راوړنو غوندې په سياسي ، تعليمي،روغتيايي او نورو برخو کې هم داسلامي امارت فعاليتونه په خورا بريالیتوب او ښه ډول روان و، د دعوت او ارشاد په برخه کې دهغو او هاند په برکت په زرګونو ددښمن تيت پوړي او لوړپوړي افراد ددښمن له صف څخه راجلا او داسلامي امارت له صف سره يوځای شول، بايد ووايو چې په دې برخه کې داسلامي امارت د عفوې پاليسي لا هم ثابته ده او ددښمن په صف کې ولاړ ټول عسکر،اربکيان،مامورين او منسوبين ترې استفاده کولای شي .

په نشراتي برخه کې داسلامي امارت د فرهنګي کميسيون تر اشراف لاندې په ټولو نشراتي برخو کې رسنيز فعاليتونه روان و، الاماره سايت په پنځو ژبو، پښتو ، دري، عربي،انګليسي- او اردو لوستونکو ته نه يوازې ورځني جهادي خبرونه رسول، بلکې مرکې، تحليلونه، رسمي بيانات، چاپي مطبوعات،تراني ، جهادي ويډيوګانې او د آنلاين راډيو له لارې خپرونې يې هم ورته وړاندې کولې .

د چاپي مطبوعاتو په برخه کې الصمود، څرک، مورچل، شهامت،حقيقت او شريعت مياشتنی مجلې په پوره مواظبت سره چاپيدلې او لوستونکو ته يې په ټول پوره ادبي،سياسي،علمي او تحقيقاتي مطالب وړاندې کول،په چاپي برخه کې په مجلو سربيره دامارت د مشرتابه پيغامونه،کتابونه او نور نشراتي مواد هم چاپ او تر مينه والو رسول کيدل .

د ويډيوګانو په برخه کې د الاماره ، منبع الجهاد، الهجرت او توره بوره جهادي ستوډيو ګانو لخوا وخت په وخت بصري اصدارات کتونکو ته وړاندې کيدل چې په پراخه کچه په اجتماعي شبکو او رسنيو کې هم ترې استفاده کيدله .

په هر حال ۲۰۱۴ م کال له هره اړخه يو له بريالو، لاسته راوړنو، حماسو او ويارونو ډک کال و، چې د جهاد په تاريخ کې به يې يادونه په زرين عنوان وليکل شي، ددې کال په ترڅ کې تر هرکله زيات بهرني اشغالګر زموږ له پاکې خاورې وتښتيدل چې همدا امتياز يې اشغال څپليو هيوادوالو ته نه هيريدونکی زيری بلل کيدای شي .

اسلام کې د صحافت (ژورنالیزم) منزلت!

(مفتي شاهد حقاني)

ديوه جامع ،بشپړ اوافاقي دين په حيث اسلام، دصحافت او ژورنالیزم غوندې ټولوهغو فنونو او علوموته دلوړمنزلت اوارزښت په سترګه ګوري، چې له برکته يې انساني ټولنه پرمختګ کوي او دنويو اختراعاتواو ابتکاراتولامل ګرځي ،داسلام مبارک دين چې څنګه له روحانيت ،تعبدي اموراتو او دټولنې، بلکې دانساني جامعې له همګي اصلاح سره سروکار لري، همداسې له سياست ،ادب ،معاشري اوټولوهغو معنوي علومواوفنونوته درشد او پراختيا هڅونه کوي ،چې پايله کې يې ټولنه دهوسايي او سوکالي،خواته درومي اودتمدن پرمختګ لاره طی کوي .

ژورنالیزم چې تردې دمه دادب پوهانو په آند دادب يو ژانر يا صنف بلل کيده، او او س يې يو بيل هنر يا فن بولي ،فنپاري يې په خبريالي ، تبصره ليکنه ،مرکې او په ټوليز ډول دتازه پيښو او ټولنيزو تراژيديو يا کميدي ډولو صحنو قلمدادولو او راټولو پرمحور څرخي ،اودصحافت مزايا وې دخبر،فيچراوکالم ليکنې منځپانګواوټولې شوي خبري معلوماتي پانګې سره نيغ په نيغه اړيکه نيسي ،داسلام مبارک دين ته همداسې صحافتي مزايا وې او رښتيوني ژورنالستيک آرونه ارزښت لري او دهغې تمرکز لپاره يې خورا قيمتي بولي .

لکه چې ديوه کره خبرخورا مهمه ځانګړنه داوي، چې پرحقايقو ولاړاو دپيښې عيني انځورګري وکړي ،داسلام مبارک دين هم د خبر د صداقت او رښتياوالي په نورمونو باندې ډير ترکيز کوي ، دهغو ځانګړتياوو نه چې خبريال بايد ورته دکار په بهير کې پاملرنه وکړي، رښتياني ويل دي،خبريال بايد پيښه په هماغه

ډول چې پېښه شوې وي خپره کړي، نه هغه ډول چې دده زړه يې غواړي،سره له دې چې ډيرى رسنيو ،په ځانګړې توګه لويديزو هغورسنيو دبې پريوالي له ټکي په مسلکي ډول ناوړه ګټه پورته کړي،دخبر دترلاسه کولو او خپرولو پرمهال بايد دسياسي،شخصي او ټولنيزو ګټو او دغه راز دکينې،مينې او احساساتو له کارولو ډډه وشي،نا پلوى ته نه ځيرنه ددې لامل کيږي ،چې اوريدونکې او ليدونکې خپل باور پر پام وړ رسنۍ له لاسه ورکړي او په دې توګه رسنۍ له ماتې سره مخ شي،کلاسيکو دوروکې چې (اخبار)دابلاغي وسايلو خورا مهم مرکز و،او خلکوبه لا هاغه مهال چې نور بريښنايي او طباعتي ماشينونه منځ ته نه وو راغلي، په خپله رائجه بڼه له اخباره استفاده کوله او دوخت پاچايانو به دولسونو دخبرولو لپاره ورته مختلفې وسيلې په کارولې ،مشهور ژورنالیست (سيد عبدالسلام زيني)پخپل يوه کتاب (اسلام اوژورنالیزم) کې ليکي چې : اخبار دخبر جمع ده ،اودا نوم دهغو خبرنامو لپاره غوره شوي و،چې داسلام نه مخکې به دايران پاچايانودهيواد هرې برخې ته دخبرونو درسولو په خاطرترتيبول ،چې ددې مقصد دترسره کولو لپاره به يې ټاکلوخبريالانوته اخبار ليکونکي ويل ،نومورى ژورنالست ليکي :چې داضرورت دحضرت پيغمبر صلى الله عليه وسلم او راوروسته دخلفاى راشدينورض په دوران کې هم محسوس شو،پيغمبرصلى الله عليه وسلم او صحابه وو رض ،به خپل ځانونه له حالاتو نه خبر ساتل،تردې چې دويم خليفه حضرت عمررض به دشپې تياره مهال پلى دمدينې په کوڅو کې ګرځيده اوخپل ځان به يې دمسلمانانو له حالاتو څخه خبراوه ، دې وضاحت کې (حضرت مفتي محمد شفيع رح)په (اداب الاخبار)يوه مضمون کې ليکي چې :پيغمبرصلى الله عليه وسلم او صحابه وو رض به ځکه ځان دمسلمانانوله حالاتو نه خبراوه، چې ترخبريدو وروسته دمظلوم مرستې ته ځان ورسوي ،دناروغ پوښتنه وکړي ،کمزوريوته لاس ورکړي او محتاجوخلکوسره دمادي او روحاني مرستې په خاطر خپلې ذرايع په کار واچوي ،اوکه چاسره يې دمادي مرستې وس نه درلود ،نو اقلا ددعا په کولو سره ځان ورسره په غم کې شريک کړي .....

کله چې په تيره پيړۍ کې ماشينونه جوړ شول ،کمپيوټر،انټرنيټ ،فکس ،ټوټيټراو فيسوک بريښنايي وسايلو غوندې چاپي مطبوعات هم معياري او ډټاپيپينګ ماشين پرځاى دعصريت له خوږو برخمند شول، نو اوس چې په ذرايعو کې انقلاب راغلى، نو صحافتي کوايفو کې هم ستر بدلون تر سترګو شو،خو ددې پرځاى چې بدلون داسې شکل خپل کړي ،چې اسلامي اصطلاحات او اصول نورهم پياوړې کړي ، خبره سرچپه شوه ،دصحافت فن دلويديځ تر سيورې راغى او آن دصحافت او صحافي عربي کلمات هم په

انګلیسي ـ (ژورنالیزم او ژورنالسیت)باندې واوختل ،دصحافت اسلامي روح دلویدیځوالو سیکولرستانوپه پرله پسي فریبونوپه خپل حال پاتې نشو،نن خبریالي دیوه مستکبرهیوادد ګټو اوشومو اهدافو قرباني ده، خبریال دبي خرته پیسو په پیرلو سره دهغوئ لپاره درواغجنه خبریالي کوي اودواقعیتونو خلاف صحنه په مزخرف شکل عکاسي کوي ،ترڅو دکومې استخباراتي اداري پریمانه ډالر ترلاسه کړي او دصحافت خپلواک ضمیر په پڅه چاړه ذبح کړي !

که څه هم دادول ژورنالیستیک انحرافات دصحافت له اصولو سره اړخ نه لګوي، بلکې دا دافرادوجرم وي ،خودمسلمانانو دنه پاملرنې اونه توجه لامل داشوی، چې لویځوال دفن لوری پرخپل طرف وڅرخوي او دخپلوګټولپاره یې استعمال کړي ،مونږچې دلته داسلام مبارک دین کې دصحافت ارزونه کوو،موخه به مو یوازې اسلامي صحافت وي،اودغرب هغه به مومنظورنظر نه وي!

دصحافت مقصد: دغربي صحافت دځانګې کارپوهانو، دژورنالیزم یا صحافت په باب یې ځینو داسې لیکلي دي : دژورنالیزم مقصد دورځنیو او تازه خبرونوځخه دخلکو خبرول ،دننې پیښې شرح اودراتلونکې روښانه کول دي ،داددې لپاره چې خلکوته دهغو لاره خلاصه شي ،ډاکتر مسکین علي حجازی لیکي :دصحافت اوصحافي (ژورنالسیت)بنسټیزمقصدخلکوته دمعلوماتو پیداکول ،هغوئ ته روزنه ورکول ،هغوئ ته لارښوونه اوهغوئ ته تفریح پیدا کول .

ډاکتر عبدالسلام خورشید،په فن صحافت کتاب کې لیکي :صحافت دخلکو دکړو وړو ترجمان اوعکاس هم دی او هم دخلکو دلارښوونې دنده پر مخ بیایي ،دخلکو خدمت یې لومړنی فریضه ده ،پدې خاطر صحافت دټولنې دیوې مهمې اداري حیثیت لري .....

خو(نذرالحفیظ ندوي) په خپل اردو ژبي کتاب (غربی میڈیااوراس کی اثرات)کې داسې لیکي :قرآن کریم چې درسنیو ، ذرایع ابلاغ یا میډیا دمفهوم دادا کولو لپاره دکوم لفظ انتخاب کړی دی،هغه د(دعوت)لفظ دی ،دا داسې طاقتور او مضبوط قرآني تعبیر دی، چې تر نورو بلیغ دی او ددې کوم بدیل نشته ،دې تعبیر سره قرآنکریم دتبلیغاتي یا ابلاغي وسایلو او ذرایعو له لارې نه داسلام دتعریف او تعارف کار اخلي ،اسلامي میډیا یا صحافت دمسلمانانو دپیغام رسولو ډیره مهمه اړتیا ده او قرآن او سنت کې ددې مؤیدات هم شته ،اسلام ته ددعوت او داسلامي احکامو دنشرواشاعت لپاره ،نن سبا همدا فن صحافت یا میډیا اغیزمنه وسیله ده . د دعوت طریقه په قرآنکریم کې داسې بیان شوی :

ادْعُ إِلِى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ (النحل ١٢٥).

((بلنه کوه (ای محمده ص! خلکو ته) لاری د رب (ج)خپل ته په حکمت سره اوموعظه (پند) نیک سره په ښه ډول او مباحثه کوه له دوئ سره په هغې (طریقې) چه هغه ډیره ښه وي)).

د(حکمت)د معنی په اړه علماءکرامو ډیرځه لیکلي دي, خو په لنډ ډول حکمت په عامه اصطلاح کې په خپل ځای کې د هرشئ ایښودلو ته وایې ،مگر دلته د حکمت نه مراد, کوم چې د حق د لاری داعیان پر هغه متصف وي ,غالباً حکمت په وینا کې چه علم او موعظه او یا حکمت د نورو سره په برخورد کې دنیکی طرف ته د تشویق لپاره او بدی نه منع کول دي .

ابن زید (حکمت) داسې تعریفوي : هر ه هغه وینا چې دچا د نیکی,د دعوت سبب شي اویا څوک د بدی څخه منع کړي حکمت دی .

په قرآنکریم کې حکمت د آسماني کتابونو ،نبوت ،هدایت ،علم ،عدالت او حلم په معنی راغلی دی .

دخیر طرف ته د دعوت فضیلت اودفساد پروړاندې د بې پروایې وعیدونه :

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ١٠٤ الاعمران .په تاسې کې باید څه خلک هرومرو داسې وي, چې دنیکی لورې ته بلنه وکړي, په ښوکارونو امر وکړي او له بدو کارو خلک منع کړي, کوم خلک چې داکار وکړي, هم هغوئ به بریالي شي . إذا عملت الخطيئة في الأرض كان من شهدها فكرهها كان كمن غاب عنها، ومن غاب عنها فرضيها كان كمن شهدها".(ابوداود ٤٣٤٥).حضرت عرس بن عمیره (رض)د رسول الله (ص)نه روایت کوي, چې هغوی ص وفرمائیل :چې کله په یوه ځمکه کې ګناه وکړای شي, نوچې کوم خلک هلته موجود وي او په ګناه خفه شي, دوئ د هغه خلکو په شان دي ،چې هلته موجود نه وي (یعنې د دوئ څخه د دغه ګناه په اړه پوښتنه نه کیږي) اوچې کوم خلک په دغه ځمکه کې نه وي او پدې ګناه راضی وي, نوهغوئ د هغې خلکو په شان دي ،کوم چه دغه ځای کې اوسي (د دوی په ګناه کې به شریک وي).

عن ابن جرير، عن جرير قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: "ما من رجلٍ يكون في قومٍ يعمل فيهم بالمعاصي يقدرون على أن يغيروا عليه فلا يغيروا إلا أصابهم الله بعذابٍ من قبل أن يموتوا(ابوداود ٤٣٣٩).

حضرت جابر وايي چې ما له رسول (ص) نه واوريدل چې فرمائيل يې : چې په يوه قوم يا ټولنه کې داسې څوک وي ،چې دشريعت خلاف کارکوي (ګناه کوي) اوددغې ټولنې خلک د توان او قدرت سربيره دهغه اصلاح نه کوي ،داکسان به الله ج له مرګ نه مخکې په عذاب ګرفتار کړي .

مطلب داچې دفساد پروړاندې بې پروايې اختيارول دالله په نزد داسې ګناه ده چې دآخرت دسختې سزا سربيره به په دنيا کې هم سزا ورکوي .

عن أبي هريرة؛ أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال "من دعا إلى هدى، كان له من الأجر مثل أجور من تبعه، لا ينقص ذلك من أجورهم شيئا. ومن دعا إلى ضلالة، كان عليه من الإثم مثل آثام من تبعه، لا ينقص ذلك من آثامهم شيئا".(مسلم ٢٦٧٤).

کوم بنده چې دنيکۍ طرف ته خلکو ته دعوت ورکړ, نو ده ته به دهغو ټولو خلکو هومره اجر اوثواب وي ،څوک چې دده د دعوت سره يې نيک عمل شروع کړی وي .

او ددې نيک عمل کونکو له عمله به هيڅ نه کميږي .

او چاچې خلک د يوې ګمراهۍ طرف ته دعوت کړل, نو ددغې ګناه به هومره وي, چې کوم ګناه کونکی دده د ګمراه کونکې عمل په وجه بې لارې شوي وي او ددغه خلکو په ګناه کې به هم کوم کمی نه راځي (رواه مسلم).

عَنْ أَبِي رَافِعٍ ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لأَنْ يَهْدِيَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى يَدَيْكَ رَجُلا خَيْرٌ لَكَ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَغَرَبَتْ. (الطبراني ٩٢٥). که الله ستا په لاس يو بنده ته هدايت وکړي ،ستاسو دپاره د ټولو کايناتو نه چې لمر پرې راخيژي او پريوزی غوره دی (طبرانی) .

عن جابر قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم اوحى الله عزوجل الى جبرئيل عليه السلام ان اقلِب مدينة كذا و كذا بِاهلِها فقال يا رب ان فيهم عبدك فلانا لم يعصك طرفة عين قال تعالي اقلِبها عليه و عليهم فان وجهه لم يتمعر في ساعة قطُّ (رواه البيهقي في شعب الايمان).دحضرت جابر (رض) نه روايت دی ،چې رسول الله (ص) وفرمائيل : چې الله تعالی(ج)جبرائيل عليه السلام ته حکم وکړ, چې فلانی کلی سره له خپلې ټولې آبادی په بل مخ کړه ، جبرائيل عرض وکړ ،چې پدې کلي کې خو ستا فلانی بنده هم دی – چې د سترګې د رپ په اندازه يې هم ستا نافرماني نده کړی, دالله (ج) دطرف نه حکم وشو, چې دغه آبادي سره ددغه بنده په ټولو باندې واړوه, ځکه چې د يوساعت د پاره هم

ددغه بنده مخ زما لـه وجـې متغـير شـوی نـدی (البيهقي في شعب لاايمان).

دصحافت او ژورنالیزم فن داسلام ددعـوت او اشاعت پیاوړې او داسې ذریعه ده، چې ددنیـا هرکونج وکنار ته داسلام دعوت په ډیـره اسانی سره رسولای شي او دشرق او غرب ستړې انسان ته، هغه چې دمنبر او محراب څخـه یـا لیـرې یـا دظالمو واکمنوله امله محروم او داسلام داعیـان نشي ورسیدلای ،نو دامیډیا او صحافت یې ورتـه دسترګو په رپ کې ورسولای شي !

همداسـې دصـحافت فـن ، اخبـار ،مجلـه ،راډیـو ،انټرنیـټ ،فیسـبوک او ډټـویټر او نـورو وسـایلو لـه لارې دوخـت حکومتونـو تـه دمسـلمانانوداموراتو اواسـلامي احکامویـه بـاب وخت پـه وخـت مشـورې ورکـولای کیـدلای شي ،اودچارو واکمنانو باندې چې کلـه کومـه حادثـه نازل شي ،یا ورته کوم مشکل پیـدا شي ، او ورتـه تګلاره نه وي روښانه، نواسـلامي میډیا داسـلام ددې حکم په ورانتقـال کـې پـوره مرسـته ورسره کـوي ،او اهـل خـبره او اهـل نظـر خلـک خپلـې مشورې ورسره شریکوي ؛دشوری دا اصـل قـرآن مجید کې داسې راغلی : وَالَّذِيـنَ اسْـتَجَابُوا لِـرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَـاهُمْ يُنْفِقُونَ(٣٨)سورت شوری .

همداسې په سورت آل عمـران کـې فرمـایي چې :(فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَـوْ كُنْـتَ فَظّـاً غَلِيظَ القلب لاَنْفَضُّواْ مِـنْ حَوْلِـكَ فـاعف عَـنْهُمْ واسـتغفر لَهُـمْ وَشَـاوِرْهُمْ فِي الأَمـر } [آل عمـران : ١٥٩].دلته پورتنیو آیتونو کې چې دمشـوررې پـه اصل ټینګار شوی او امـام شـافعي رح هـم ددې مذکور آیت په تفسیر کې فرمایي :چې الله تعالی چې حسن رح فرمایي چې که څـه هـم نبـي علیـه الصلاة والسلام لـه مشـورې څخـه غنـي و،لـیکن غوښـتل یـې چـې دمشـورې اصـل واکمنـو اوچارواکیو ته دیوه سنت په دود پریـږدي ،امـام شافعی رح فرمایي چې کله په حاکم وقـت کومـه پیښه را نازل شي ،یا ورته کوم مشـکل پیـدا شي، نو باید چې دعلم او امانت اهل خلـک راوغـواړې اودمشکل په باب ورسره مشوره وکړي، لکه چـې فرمایي : (قال الشافعي قال الله عز و جل وشاورهم في الأمر وأمرهم شـورى بينهم قـال الشـافعي قـال الحسن إن كان النبي عن مشـاورتهم لغنيـا ولكنـه أراد أن يستن بذلك الحكام بعده

قال الشافعي وإذا نزل بالحـاكم أمـر يحتمـل وجوها أو مشكل انبغى له أن يشاور من جمع العلـم والأمانة وبسط الكلام فيه(احكام القـران للشـافعی ج٢ص١٢٠).

چاپې او بریښنایي رسنۍ همداسې ظـالمو حاکمانو ته دحق ویلو سره دافضـل جهـاد دنـده هم ترسره کوي ،هاغه وخت چې حکام او واکمـن ناروااو مظالم پیل کړي، نـو همـدا مطبوعـات او غږیزیـا تصـویرې رسـنۍ یـې پـرخلاف دبغـاوت

نارې وهي اودوخت واکمنو په وړاندې دحق وينا جرأت کوي، چې همدې وينا ته رسول الله صلى الله عليه وسلم افضل جهاد ويلى دى، لکه چې فرمايي : عن أبي أمامة Y أن رجلا قال عند الجمرة : يا رسول الله أي الجهاد أفضل ؟ قال : أفضل الجهاد كلمة حق عند سلطان جائر. (المعجم الكبير للطبرانى).

په احكام القرآن ج۷ص۳۰۲)کې ليکي چې :

والجهاد بالنفس على ضروب منها

الخروج بنفسه ومباشرة القتال ومنها بيان ما افترض الله من الجهاد

وذكر الثواب الجزيل لمن قام به والعقاب لمن قعد عنه ومنها التحريض

والأمر ومنها الإخبار بعورات العدو وما يعلمه من مكايد الحرب وسداد

الرأي وإرشاد المسلمين إلى الأولى والأصلح في أمر الحروب.....خلص مفهوم :جهاد بالنفس په څو ډوله دى :يودادى چې پخپله مباشرة قتال کې برخه واخلي ،بل دادى چې دجهاد دفضايلو په باب او هم دتارکينو دجهاد په هکله تقارير،موعظې او بيان وکړي ،بل قسم يې دادى چې خلک ورته وهڅوي ،تشويق ،ترغيب او تيز يې کړي،داهم پکې دي، چې ددښمن پټ رازونه مجاهدينو ته ورسوي ،ددوئ جنګي پلان او نقشه باندې مجاهدين خبرکړي ،په غښتلې رأيه مجاهدينو ته لازمه مشوره ورکول،دمسلمانانو ښې جنګي او جهادي لارې ته رهنمايي کول هم دجهاد برخه ده .....

که وګورو ننې معاصره دنيا کې د لساني بيان اوژورنالستيک جهاد خواته دبيان او دعوت له لارې بلل ډيراسان شوي ،ترټولو اسانه ذريعه يې بريښنايي ذرايع دي ،چې هره خبره په څو ثانيوکې دنړۍ تر کونجونو پورې رسوي او همدا چاپې او بريښنايي ډله ايز يا جمعي وسايل دي ،چې دمجاهدينو دفتحې او بري هره تازه او توده پيښه دثانيوو په ضرب کې تر شرق او غربه رسوي او هم ددې لارې نه جهاد ته دخلکو بلل ،او ديوې الهي فريضې په توګه يې په خلکو منل ،ژورنالستيکې رسنۍ په ښه او اسانه طريقه ترسره کولای شي .

همداسې داسلام يو بل مهم اصل (امربالمعروف والنهى عن المنكر)چې څومره ننۍ

سبا دصحافت له لارې ممکن او له اسانتیاوو سره مل دی ،دومره به دبلې لارې نه وي ،علماء او مسلمان لیکوالان دمطبوعاتو له لارې خپلې دیني او اصلاحي لیکنې خپروي او ټولنه له منکراتو څخه پاکوي، نوددې مهم دیني کار په ترسره کولو کې ،داسلامي میډیا رول یا نقش له هیڅا ندی پټ ،او هرچاته یې فواید معلوم دي .لکه چې الله تعالی فرمایي :(كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ (١١٠ ال عمران).

خوددې سربیره که بل چاته پرې دنیکیوامرکوو، نو خپل ځان به مو هم نوي هیر کړی ،که نه (خدای ج مکړه)بیا به ددې وعید لاندې راشو، چې : عَنْ أُسَامَةَ (رض) قال: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ(ص) يَقُولُ: «يُجَاءُ بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ فِي النَّارِ، فَيَدُورُ كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِرَحَاهُ، فَيَجْتَمِعُ أَهْلُ النَّارِ عَلَيْهِ فَيَقُولُونَ: أَيْ فُلَانُ، مَا شَأْنُكَ أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَانَا عَنِ الْمُنْكَرِ؟ قَالَ: كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَلا آتِيهِ وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ». (بخاری: ٣٢٦٧).

ژباړه : اسامه رض وایې چه له رسول الله ص نه مې اوریدلي، چې ویې فرمایل :دقیامت په ورځ به یو کس راوستل شي او دوزخ ته وروغورځول شي اوپه تیزی سره به یې کولمې د باندې توپې شي، په خپلو کولمو به دخره د څپر په شان غوبل کوي دوزخیان به دده چاپیر ه راټول شي، ورته وایې به ای فلان ! په تا څه شوي دی؟ آیا ته نه وي چې مونږ ته به مو امربالمعروف او نهی عن المنکر نه کاوه؟وایې به هو! تاسې ته به مې په نیکی امر کاوه ،خو خپله به مې نه کوله او تاسې به مې د منکر کار څخه منع کولئ خو خپله به مې کاوه .

که خبره رالنده کړو!

نو وبه وایو، چې دژورنالیزم یا د صحافت فن داسلام ددعوت ،جهاد ،ټولنې کې دمنکراتود مخنیوي او دجامعې د اصلاح په شمول دنور وعلمي او خیریه کارونوپه ترسره کولو کې خورا اغیزمن نقش لوبوي او نن سبا یې مؤثریت خورا زیات دی، نو څکه ویلای شو، چې دغه ډول فن صحافت یا ژورنالیزم په اسلام کې خورا درونډ مقام لري او اسلام داسې رسنیو ته دمنبراو محراب نه راوروسته په درونډ حثیت قایل دی، نوځکه ددې اړتیا ده، چې یو مسلمان صحافي یا ژورنالیست دې ددې پرځای چې دا سپیڅلی فن داسلامي اهدافو په تصویراو تمثیل وځرخوي ،دلویدیځ ددې دسیسې مخه دې هم ډب کړي، چې دوئ دژورنالیزم سپیڅلتیا دخپلو شومواو ناروا موخو په کارولو بدرنګه کوي او دنړی دځوان نسل دبې لاریتوب په پار ترې کار واخلي !

سبا دصحافت له لاري ممکن او له اسانتیاوو سره مل دی ،دومره به دبلې لاري نه وي ،علماء او مسلمان لیکوالان دمطبوعاتو له لاري خپلې دیني او اصلاحي لیکنې خپروي او ټولنه له منکراتو څخه پاکوي، نوددې مهم دیني کار په ترسره کولو کې ،داسلامي میډیا رول یا نقش له هیڅا ندی پټ ،او هرچاته یې فواید معلوم دي .لکه چې الله تعالی فرمایي :(كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ (۱۱۰ ال عمران).

خوددې سربیره که بل چاته پرې دنیکیوامرکوو، نو خپل ځان به مو هم نوي هیر کړی ،که نه (خدای ج مکړه)بیا به ددې وعید لاندې راشو، چې : عَنْ أُسَامَةَ (رض) قال: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ(ص) يَقُولُ: «يُجَاءُ بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ فِي النَّارِ، فَيَدُورُ كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِرَحَاهُ، فَيَجْتَمِعُ أَهْلُ النَّارِ عَلَيْهِ فَيَقُولُونَ: أَيْ فُلانُ، مَا شَأْنُكَ أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَانَا عَنِ الْمُنْكَرِ؟ قَالَ: كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَلا آتِيهِ وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ». (بخاری: ۳۲۶۷).

ژباړه : اسامه رض وایې چه له رسول الله ص نه مې اوریدلي، چې ویې فرمایل :دقیامت په ورځ به یو کس راوستل شي او دوزخ ته وروغورځول شي اوپه تیزی سره به یې کولمې د باندې تویې شي، په څپلو کولمو به دخره د څپر په شان غوبل کوي دوزخیان به دده چاپیر ه راټول شي، ورته وایې به ای فلان ! په تا څه شوي دی؟ آیا ته نه وي چې مونږ ته به مو امربالمعروف او نهی عن المنکر نه کاوه؟وایې به هو! تاسې ته به مې په نیکی امر کاوه ،خو څپله به مې نه کوله او تاسې به مې د منکر کار څخه منع کولې خو څپله به مې کاوه .

که خبره رالنده کړو!

نو وبه وایو، چې دژورنالیزم یا د صحافت فن داسلام ددعوت ،جهاد ،ټولنې کې دمنکراتود مخنیوي او دجامعې د اصلاح په شمول دنور وعلمي او خیریه کارونوپه ترسره کولو کې خورا اغیزمن نقش لوبوي او نن سبا یې مؤثریت خورا زیات دی، نو څکه ویلای شو، چې دغه ډول فن صحافت یا ژورنالیزم په اسلام کې خورا درونـد مقام لري او اسلام داسې رسنیو ته دمنبراو محراب نه راوروسته په درونـد حثیت قایل دی، نوځکه ددې اړتیا ده، چې یو مسلمان صحافي یا ژورنالیست دې ددې پرځای چې دا سپیڅلی فن داسلامي اهدافو په تصویراو تمثیل وځرخوي ،دلویدیځ ددې دسیسې مخه دې هم ډب کړي، چې دوئ دژورنالیزم سپیڅلتیا دخپلو شومواو ناروا موخو په کارولو بدرنګه کوي او دنړی دځوان نسل دبې لاریتوب په پار ترې کار واخلي !

افغانستان - قبرستان امپراتورها!

(سعید بدخشانی)

لله

الحمـــــد

همـه ابرقـدرت هـای

متجاوز وخونخوار جهانی پس از

اشغال افغانستان به شکست وذلت جبران ناپذیر

مواجـه شـدند وبرنـدگی را در اهـداف شـوم شـان

حاصل نکردند. بریتانیا برای اشغال این سرزمین

مجاهـد پـرور کوشـش کرد، قشـون سـرخ جمـاهیر

شوروی به نوبه خویش هم حملات تهاجمی وبی

شـرمانه نمـود تاکـه تصـرف کننـد امـا

نتواستند. درتاریخ امپراتوری بریتانیا بزرگترین

کشتار دسته جمعی عساکر شان در افغانستان رخ

داده است. وبینی استکبار جهانی (امریکا) نیز بـه

خاک مالیده شد وازآتش افروخته آن جز خاکستر

چیزی دیگر نخواهد ماند.

بلی! افغانستان سرزمین اولیا کرام است هر

قـدرتی طـاغوتی بـه ایـن کشـور تجـاوز نمـوده آن

ابرقـدرت بـه ذلـت وزبـونی ازایـن سـرزمین

دلیران خارج شده است. تا جائیکه مشاهد میشود

این ذهنیت بیگانه ستیزی وضد استعماری زاده

واقعیت های تاریخی واجتماعی است.

اگر صفحات تاریخ این مرز بوم صفحه زده

شـود مشـاهده میگـردد هـر زور گو، قلدر، بیگانـه

ومتجاوزدر ایـن مهـد بیگانـه شـکنان محکـوم بـه

نیستی وشکست شده اند. به ویژه سلی های محکم

تاریخ در چند قرن اخیر همواره از طرف ملت متدین

وغیور افغان بر روی اشغالگران وابرقدرت های خونخوار جهان زده شده است.

بهر صورت اگر بتاریخ مراجعه شود وحساسیت علیه استعمار وخصوصیت بیگانه ستیزی ملت مسلمان افغان و همچنان مقاومت همیشه آنها را علیه نیرو های خون آشام خارجی بازگو کنیم در آنصورت مقاله به طوالت کشانده میشود بنا به همین اکتفا میکنیم که امروز در ادبیات جهان افغانستان منحیث گورستان امپراطوری ها شناخته میشود.

نقطه محوری این مقاله شکست فلاکت بار وخروج حتمی آمریکا از افغانستان می باشد. البته این موضوع بر اساس آرمان وآرزو مطرح نیست بلکه استوار بر شواهد و واقعیت های عینی جامعه افغانستان وحالات ناگوار امریکا ومتحدان اش میباشد. بیاید عوامل شکست بیگانگان را از داخل این کشور آغاز کنیم.

تاریخ به اثبات رسانده زمانیکه بیگانگان به این نتیجه میرسند مهره انتخاب شده دیگر موثریت در اجرای پلان شوم آنها ندارد، آنها را عوض نموده و مهره های سیاسی دیگر را روی کار میاورد. شوروی سابق نیز در افغانستان عین پالیسی را به پیش گرفته بود زمانیکه رجال روی صحنه سیاست نزد مردم بی اعتماد و منفور می شد، خاموشانه دست پنهان شوروی گلون آنها را می فشرد و به زندگی شان پایان میداد. امروز امریکا به عین معضله در افغانستان مواجه است. دولت بارک اوباما به عمق موضوع پی برده بود و میدانیست که کرزی که دست نشانده خود آنها بود دیگر هیچ نوع موثریت برای بقا قوا بیگانه در افغانستان ندارد. لذا امریکا در جستجوی کسی شد که شایسته تر و مناسبتر به مقام بردگی وتطبیق اهداف نامشروع شان در این کشور باشد. پس انتخاب امریکا بین بد و بدتر خواهد بود وهست چونکه مهره های بازیچه امریکا همانند اشرف غنی وعبدالله ودیگر کاسه لسان از حمایت مردمی برخوردار نیستند.

زمانیکه امریکا ودیگر بیگانگان به افغانستان حمله نمودند هدف شان معلوم بود مردم می دانستند اینها برای چه به کشور حمله نموده اند. اما امروز بعد از سیزده سال آیا اشغالگران به اهداف مطروحه و از پیش تعین شده خویش رسیده اند؟ نخیر وهیچ گاهی هم این سفاکان به اهداف نافرجام شان نخواهند رسید.

امریکا نه تنها که برای مردم افغانستان خدمتی نکرد وزیر بنای نساخت بلکه برای رسیدن

به اهداف خود از خشونت کار گرفت و قربانی خشونت امریکا در افغانستان نه تنها مجاهدین نبود بلکه در آتش خشونت امریکا مردم مظلوم ما اعم از اطفال، زنان و کهن سالان به شهادت رسیدند، وباغیات، زراعت مردم را قلع وقمع وخانه وکاشانه مردم را به مخروبه و ویرانه مبدل ساختند. بناً بعد از سیزده سال هیچ نوع امید و آرزوی بهبودی در موجودیت بیگانگان در کشور دیده نمیشود آنها شعار و عمل کرد شان زمین و آسمان تفاوت دارد، در شعار دوست ملت افغان هستند اما در عمل کرد خون ریز ترین دشمن ملت به اثبات رسیدند. وجود بیگانگان در افغانستان فاجعه می آفریند امریکا به پیمانه بلیونها دالر آهن و باروت به جامعه سرازیر نموده طبیعی است هر انسان عاقل می داند به این پیمانه ای بزرگ باروت و آهن چه ارمغان را بملت ستمدیده و زیر پاه شده افغان خواهد آورد. از سوی دیگر مردم افغانستان و جهانیان مشاهده نمودن که به مردم غریب و بی وسع ما امریکایان وبیگانگان اندکترین کمک هم ننمودند بلکه کمک های امریکا وجامعه جهانی حیف ومیل چند مزدور و وطن فروش گردید وبس.

قابل یاد آوریست مردم متدین کشور نه تنها از بیگانگان روی گردان شده اند بلکه از حکومت دست نشانده نیز متنفر می باشند. بیگانگان در شروع وعده های بسیار دادن و چهره نا شناخته را روی صحنه سیاست آوردند بنا در بین مردم روزنه های امید دیده میشد اما امروز بیگانگان هیچ دروغ عوام فریبانه در خریطه ندارند تا ملت را فریب بدهند.

بلی! در طول تاریخ در هر جامعه خواب اشغالگران و متجاوزان را مقاومت فرزندان اصیل اسلام حرام نموده، مقاومت که عزیز ترین فرزندان ملت را در خود دارد کسانیکه حاضر و آمده اند سر و جان بدهند اما هیچگاه حاضر نخواهند شد تا لحظه حضور بیگانگان و متجاوزین را در حریم ملت خود تحمل کنند. امریکا دقیقا پی برده است عناصر مخلص بردین و محب وطن را هیچگاه نمیشود از خود نمود چون آنها عکس العمل و ریزیش بر سنگر علیه تجاوز می باشند. در هر زمان مقاومت مردمی هدفمند بوده و اعلی ترین هدف را آنها دنبال میکنند، مبارزه آنها برای اهداف انسانی است، آنها مبارزه میکنند تا حقوق انسانی شان را حصول نمایند و جامعه خود را آزاد کنند. بیگانگان بانگ تبلیغاتی خویش را براه انداخته تا از مقاومت چهره موحش و مخشوش به جهانیان نشان بدهند و در جستجو اند تا فرزندان ملت و

مقاومت را انسانهای وحشی طبیعت، عقب افتاده، ضد تمدن و بی فرهنگ معرفی کنند اما تاریخ به اثبات رسانده که بهترین های جامعه به مقاومت بر میخزند، کسانیکه از خلاقیت بر خوردار هستند و وجدان بیدار و آزاد منشی برای آنها حکم میکند تا در دفاع از دین و عقیده، حریم، نوامیس ملی، ارزشهای اخلاقی و اجتماعی مردم اش بپردازند. مقاومت یک عمل اخلاقی و معنوی است، آنها به مقاومت برخاسته اند تا از هویت جامعه خویش دفاع کنند. پس از آنجاکه مقاومت عمل رشید و خلاقانه است زاده وحشت، عقب افتاده گی و بی فرهنگی نمی باشد بلکه مقاومت توده ئی بیانگر بیدار بودن وجدان دینی و اجتماعی ملت می باشد.

مقاومت موجود انسان را وحشت زده می سازد چگونه امکان دارد بیشتر از ۴۲ پیشرفته ترین کشور های جهان بکمک همسایه ها بارها خود بزبان خویش ناکامی و شکست را در افغانستان علنا اعلان بدارد. مگر این ملت با خود چی دارد؟ که امپریالیسم جهان خوار را وادار بقبول شکست نموده است. کسانیکه افغانستان شناس هستند و معرفت دقیق از جامعه افغان دارند بیشتر متوجه میشوند که یگانه چیزی که زیاتر در جامعه می تابت آن باور های دینی می باشد. این ملت روحیه جازم دارد، امیدوار هستند و باورمند می باشند راه انتخاب شده حق است و قدم گذاشتن در این راه با توفیقات الهی همراه می باشد. بهرصورت تاریخ به اثبات رسانده هیچ ابرقدرت عزم و اراده ملتها را سست و شکسته ننموده است بلکه همواره و همیشه اراده ملت ها هر مانع و سد را از بین برده است. باورمندیم عنقریب همه چه قلم بدستان، شاعرها، نویسنده گان، محصلین پوهنتون ها، استادان، کسبه کاران و کافه ملت صدا و سنگر واحد اتخاذ نمایند و به بهترین های ملت خویش خطاب نمایند بشکنید زنجیر های اسارت و استعمار را چون توهین بزرگتر از یک لحظه زیست در فضاء اسارت و اشغال نخواهد بود. حقا که امروز بازهم ملت افغان بچشمان خود مشاهده نمودند که این سرزمین به گورستان امپراتوری غرب (امریکا) مبدل شد و شرمسارانه وبدون کدام دست آورد پا به فرار نموده پرچم اشغال خویش را دراختتام سال ۲۰۱۴ سرنگون و به زمین انداختند. به آرزوی گسترش نظام اسلامی در هرگوشه و کنار کشور هستیم. وماذلک علی الله بعزیز.

آیا امریکایي بمباری به

د کابل شړېدلې اداره وساتلی شي؟

عبید کوچی

که سړی د بهرنۍ یرغل تېر دیارلس کلن عمر ته په غور سره وګوري نو په څرګنده ښکاري چې د امریکې په فرمایش جوړه شوې اداره تر بل هر وخته اوس ډېره شړېدلې او ګډه وډه ده . ځکه له یوې خوا یې ملګری سازمان (ناټو) له جګړې لاس واخیست او خپل پوځونه یې واپستل ، له بلې خوا یې د دواړو ملکانو د اختلافاتو او ناندریو له امله کابینه لا نه ده جوړه او له بلې خوا سخت مالي بحران سره مخ ده . په دې هکله موجوده حکومت وایي چې دا مهال د هېواد ټول کلنې عواید دوه میلیارده ډالره دي خو بل لورته په کلنې ډول پنځه میلیارده ډالره یوازې د پوځ او پولیسو لګښت دی . خو دا ګرد سره جنګي ځواک یوازې د امریکې د پلي پوځ دنده ترسره کوي ځکه دوی سره هوایي ځواک نشته نو په دې حساب د کابل اداره مجبوره ده چې که د هېواد هر ګوټ کې زور پرې راشي نو د امریکایانو پښتو ته به پرېږدي ، ډېر عذر او زاړې به کوي تر څو دوی سره هوایي مرسته وکړي او مخالفین یې ورته وځپي . او بیا وروسته له هغه چې د امریکایانو له خوا یې پر هېوادوالو بښې ډېرې بمباري وشي او مجاهدین هم د خپلو تلفاتو کمولو په موخه له سیمې ووځي ، نو دوی پرمختګ وکړي او بیا فوراً رسنیو سره په مرکه کې ووایي چې د دوستانو د بمباری په اثر یې په لسګونو (ترهګر) وژل شوي او دا وخت د سیمې مهمې نقطې د (افغان ملي ځواکونو!) په لاس کې دي . دا یې د پوځ او پولیسو حال دی . همدارنګه یې راتلونکې کابینه درواخله چې خدای خبر له څرنګه شرمندګي سره به مخ کیږي . ځکه د دواړو مشرانو د خپل منځي ژمنو په اساس د کابینې (۲۵)پنځه ویشتو وزیرانو له جملې به دیارلس د اشرف غني او دولس د عبدالله وي . چې تقریباً د واک یو کلي مساوات تشکیلوي . د داسې اداري د راتلونکې په اړه ډېر ساده سړی هم ښه څرګند اټکل کولای شي . بل پلو د نوموړې اداري د افرادو اخلاق ، چلند او اخلاص دی چې ټوله نړۍ یې فساد او درغلۍ ته حیرانه ده . تر

دې چې د نړیوالو څېړنو له مخې په فساد کې دویم او دریم لمبر هېواد ګڼل شوی . په هر صورت ددغې اداري مهم مکلفیت دادی چې په سیمه کې د امریکې او نورو غربي هېوادو ګټې وساتي او د اسلامي امت پر خلاف د یوې جبهې کار ورکړي . له همدې کبله اړوند چارواکي مجبور دي چې په هره پېښه کې د امریکایانو ننګه وکړي ، که پر هېوادوالو یې بمبارۍ کړي او که یې نورو مواردو کې خپلې ملي ګټې په خطر کې لوېږي. ددغې اداري مسؤلین وظیفه لري چې د امریکې د بې پیلوټه بمبارېو ننګه به کوي او چې هر څنګه وي ، دا به وایي چې واقعاً په دغه هوایي برید کې ترهګر وژل شوي ! خو دې خبرې ته مو باید پام وي چې د بهرنیانو له وتلو سره جګړه د هېواد ګوټ ګوټ ته رسېدلې تر دې چې ولسوالۍ خو لا پرېده په هر کلي او د اردو او پولیسو په هر مرکز او هره پوسته باندې وسلوال بریدونه روان دي نو ځکه دا امکان نشته چې د هېواد هر کلي ته بې پیلوټه الوتکې ورشي او بمونه پرې واچوي . او که فرضاً د امریکې هوایي ځواکونو له خوا همدومره ډېرو بمبارېو ته چمتووالی ونیول شي نو بیا یې طبعاً لګښت هم زیاتیږي ، حال دا چې اوس مهال امریکایي پوځ د همدغه اقتصادي بوج له کبله زمور له هېواده وتلې او نور دا توان نه لري چې تردې زیات تاوانونه په سر واخلي . مانا دا چې د کابل اداري پوځ که هر څومره ځواکمن شي ، پرته له هوایي ملاتړه د مجاهدینو مقابلې ته نه شي ټینګېدای ، نو حتمي پایله دا شوه چې د هېواد امنیت به نور هم ترې شړیږي او ستونزې به یې لا هم زیاتیږي له دغو واقعیتونو سره سره که د روسانو له وتلو وروسته حالات وخېړو نو له اوسنیو سره یې چندان ډېر توپیر نه لیدل کیږي هغه مهال چې کله روسان ووتل نو افغان لوري ته یې خورا مهمې درنې وسلې پرېښودې ، لوی توغندي ، درانه توپونه ، زغروال ټانکونه او په سل ګونو ښې پخې او عصري جنګي الوتکې خو دا چې روسان هم له اقتصادي بحران سره مخ وو ، دا وس یې نه درلود چې تر ډېره د افغان پوځ لګښت پر غاړه واخلي ، هماغه ډ چې د روسي ځواکونو له وتلو دوه نیم کاله وروسته د کابل اداره وشړېده او واکمني یې پای ته ورسېدله . اوس داسې ښکاري چې بیا هماغه حالات تکراریږي . نو دابه ومنو چې تر څه وخته به د غربیانو غور و پښې وي خو د کابل چارواکي دې په دې ښه پوه شي چې د تل لپاره د بهرنیانو پر مټ او مرستو تکیه نه شي کولای او دوی به خامخا د خپل هغه ولس په مقابل کې ماتې خوري چې تر کلونو یې د بهرنیانو خوشالولو او خپل جیب ډکولو په موخه وځوروه او بې پته کړل . لنډه دا چې د کابل چارواکو ته لازمه ده څو خپلې خوماړې سترګې وغړوي ، د خپل ملت دیني او ملي ارزښتونو درناوی وکړي او د هېواد په اساسي ګټو له سوداکولو توبه وباسي.

نامتو مسلمان فاتحين!

دکابل فاتح

حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه

مفتي حبيب الله قاسمي

یادونه : اسلام په خپل تاریخ کې ستر فاتحین لري چې دهغوی دلوړینو له برکته په نړۍ کې داسلام بلنه خپره شوه ، دلته په لنډ ډول دهغو ستر و فاتحینو یادونه اوپېژندنه کووچې نومونه یې په لاندې ډول دي :

۱- دکابل فاتح حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه : ۲- دبلخ اوهرات فاتح حضرت احنف بن قیس رحمه الله ۳-دفارس فاتح سعدبن ابي وقاص رضی الله عنه ۴.دمصر اوبیت المقدس فاتح حضرت حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه ۵- دعراق فاتح حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه ۶- دافریقا فاتح حضرت عقبه بن نافع. رحمه الله ۷.داندلس فاتح : طارق بن زیاد . رحمه الله ۸ــ دمنځنۍ اسیاء فاتح قتیبه بن مسلم باهلي رحمه الله ۹ــ دسندهـ فاتح محمد بن قاسم رحمه الله ۱۰-دبیت المقدس فاتح صلاح الدین ایوبي رحمه الله

په دې فاتحینوکې لومړی دکابل فاتح نامتوصحابي حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه پیژندنه اویادونه کوو چې دنومورې په وخت کې داسلام بلنه تر کابله را ورسېدله . که څه هم تر ده دمخه داسلام بلنه دهرات له لارې دلومړی ځل له پاره دنامتو تابعي حضرت احنف بن قیس رحمه الله په لاس رارسیدلی وه . که خدای کول دهغه یادونه ترحضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه وروسته کوو :

[۱]دحضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه پیژندنه

عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه قریشي واودنسب لړۍ یې په دریم پښت کې له پیغمبرصلی الله علیه وسلم سره یوځای کیږي. نومورې دمکې دفتحې په وړځ ایمان راوړ ، د لوړ حیثیت او لوړې سینې خاوند و، دتبوک له

کړاوه ډکه غزا کې يې هم ګډون کړی و. نامتو فاتح و، دری کاله دسيستان والي و، ډير متواضع انسان و ، ټول کارونه به يې په خپل لاس کول ، دروازې به يې تل د عاموخلکوپرمخ پرانيستې وې او د باران په ورځ به يې له عامو خلکوسره دښار کوڅې پاکولې .

دحديثو په کتابونو له دغه نومیالی صحابي څخه څوارلس حديثونه روايت شويدي چې دوه حديثونه يې امام بخاري اوامام مسلم هم روايت کړي دي .١

[٢] : دحضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه داسلام را وړلو کيسه

د مکې دفتحې په ورځ پيغمبرصلی الله عليه وسلم د کعبې دروازه پرانيستله د حضرت بلال رضی الله عنه او حضرت اسامه رضی الله عنه په ملتيا ورننوت ، اودروازه په ځان پسې يې وتړله ، دا مهال په کعبه کې دننه اودباندې ٣٦٠بتان ولاړوو ، لومړی يې په کعبه کې دننه ټول يې ونړول دوه رکعته نفل يې وکړل ، په ټوله خونه کې راوګرځيد دالله اکبر نارې يې ووهلې د کعبې دروازه يې چې پرانيستله ګوري چې دحرم غولی له مشرکانو ډک دی اودټول دځان په اړه دپيغمبرصلی الله عليه وسلم دوروستۍ پربکړې په اړه اندښمن ناست ووا و انتظار يې يوست چې د دوی په اړه به څه وروستۍ پربکړه څه کيږي .

پيغمبرصلی الله عليه وسلم دکعبې مبارکې د دروازې دواړه بازوګان ونيول اوله حمد اوثنا وروسته يې وفرمايل : تاسوڅه فکر کوئ چې زه به له تاسوسره څه ډول چلند وکړم ؟ ټولوپه يوغږ ورته وويل : ته لورونکی اود لورونکي ورور ځوی مويې ، بياپيغمبرصلی الله عليه وسلم ورته وويل : نن پرتاسي هيڅ ملامتيانشته ورځئ ټول ازاديياست .

دښنې دغه ستر اعلان دمکې پراوسيدونکو ښه اغيږ وکړ اوزيات شمېريې ايمان راوړ اوپه دغو ايمان راوړونکو کې يوهم يونوی ځوان او زمورې دکابل فاتح حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه و. کله يې چې دايمان راړولو اعلان دپيغمبرصلی الله عليه وسلم په وړاندې کاوه نوپيغمبرصلی الله عليه وسلم ته يې ځان داسې ور وپېژانده : د خدای رسوله ! زه ستادتره زوی (عبدالکعبة) يم، پيغمبرصلی الله عليه وسلم په ډيره مينه ورته وويل : له نن ورسته به ستا نوم عبدالرحمن وي.٢

---

١ دمشري غوښتنې دغندنې په اړه يې مشهور حديث يې په صحيح البخاري: ١٣ / ١١٠،صحيح مسلم (١٦٢٥)سنن نسائي په کتاب الامارت کې او مسند احمد: / ٤٧٦،. ٥ / ٦١، اوالمستدرك: ٣ / ٤٤٤کې راوايتونه په همدې شميرو موندل کيږي.

٢ ددغه نامتو صحابي پېژندنه له لاندې کتابونو څخه راواخېستل شوه :

لومړی : دامام ذهبي رح سير اعلام النبلاء : دوهم ټوک ٥٧١ .

[۳] : حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه دسیستان والي په توګه:

. یووخت زمور دهېواد جنوبي سیمي دپخواني سسیتان هېواد برخې چې پکې داوسني کابل ښار اوهرات او کندهار په ګډون اودهېواد جنوبي سیمې راتلې. ۳دحضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کې د خراسان او اوسني افغانستان خلکو چې زیاته سرزوری وکړې نو د خراسان والي عبدالله بن عامر رضی الله عنه دحضرت عثمان رضی الله عنه په مشوره نومیالی صحابي اودپوهې خاوند حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه دسیستان د والي په توګه له ته زره مجاهدینو را واستاوه ،نومورې دسیستان بغاوت ارام کړ اودخپلو فتوحاتولمن یې ترزابله ورسوله. حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه دری کاله د سیستان والي پاتې شو۴

دوهم : دامام ابن معین التاریخ: ۳٤۹.

دریم : دنامتو خلیفه رح :طبقات خلیفة: ۱۱، ۱۷٤.

څلورم :دنامتو خلیفه رح : تاریخ خلیفة: ۲۱۱.

پنځم: دامام بخاري رح التاریخ الکبیر: ٥ / ۲٤۳ ۲٤۲.

شپږم:دامام قتیبه رح المعارف: ۳۰٤، ٥٥٦.

اوم : دامام فسوي رح تاریخ: ۱ / ۲۸۳.

اتم: دامام رازي رح الجرح والتعدیل: ٥ / ۲۳۸.

نهم:دامان ابن عبدالبر رح الاستیعاب: ۲ / ۸۳٥.

لسم:دامام ابن عساکر رح تاریخ دمشق : ۹ / ٤۸۱ / .

یولسم: دامام ابن اثیر رح :أسد الغابة: ۳ / ٤٥٤.

دولسم:دامام مزي رح تهذیب الکمال: ۷۹۳.

دیارلسم : دامام ذهبي رح تاریخ الاسلام: ۲ / ۲۳۱.

څوارلسم : دامام ذهبي رح العبر: ۱ / ٥٥.

پنځلسم :دحافظ ابن حجر رح تهذیب التهذیب: ٦ / ۱۹۱ـ ۱۹۰.

شپاړسم:الاصابة: ٦ / ۲۸٤.

اولسم:خلاصة تذهیب الکمال: ۲۲۸.

اتلسم:شذرات الذهب: ۱ / ٥۳ و ٥٤ و ٥٦.

نولسم :تاریخ افغانستان بعد ازاسلام . ۱٦۰- ۱٦۱مخونه داستاد عبدالحی حبیبي لیکنه .

شلم: دافغانستان لنډ تاریخ دپوهاند عبدالحي حبیبي لیکنه او د استاد عبدالروف بینوا ژباړه .

۳ دافغانستان لنډ تاریخ دپوهاند عبدالحي حبیبي لیکنه او د استاد عبدالروف بینوا ژباړه . ۲۰مخونه .

[۴] : دحضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه په لاس په زرنج کې دیوښکلی مدرسې تاسیس :

په ۳٥هجري کال دحضرت عثمان رضی الله عنه له شهادت وروسته حضرت معاویة رضی الله عنه یوځل بیا حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه سیستان ته راوستاوه ،له هغه سره داځل نومیالی تابعي حضرت حسن بصري رحمه الله هم ملګري و ، عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه د زرنج له نیولو وروسته دزرنج ښار په ((ادینه)) کې یوه ښکلی جومات

٤ طبقات الکبری : اوم توک ۱٥۷مخ اوعبارات یې داسي دي (وروی الحسن عن عبد الرحمن بن سمرة أنه غزا معه کابل والأندقان والأندغان وزابلستان ثلاث سنین)

اوپه همدې طبقات کبري دحسن بصري روایت ده : قال حدثنا عبد المؤمن أبو عبیدة قال سمعت رجلا سأل الحسن فقال یا أبا سعید هل غزوت قط قال نعم غزوة کابل مع عبد الرحمن بن سمرةاوم توک ۱۷٥مخ

اوښکلې مدرسه ودانه کړه او حضرت حسن بصری رحمه الله پکې شپږ میاشتې تدریس هم وکړ .۵

[۵] : دحصرت عبدالرحمن بن سمرة په لاس دهلمند د((زمینداور)) بوت ماتېدل :

په دې موده کې حضرت عبدالرحمن بن سمرة ﷺ دهلمند په (زمینداور) کې (زور) نومی دسرو زرو لوی بت چې په (کوه زور) کې ولاړ و او سترګې یې له یاقوت جوړې وې، مات کړ اودبت ترماتولو وروسته یې د هغه ځای خلکو ته وویل : داسره زر او قیمتې کاڼي تاسو در واخلئ زموږ ورته اړتیانشته)٦.

[٦] : دحضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه په لاس

دکابل فتحه :

ترهغه وروسته پر کال ۴۳هجري کې عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه دکندهار اوعزني له لویې لارې دکابل د(اوسنۍ ګذرګاه) له لارې کابل ښار ته راغی ،دکابل ښار یې کلابند کړ اوپه کاڼو یې د منجنقونو په مرسته دکابل له ښار تاوی شوی کمربندي دیوال وویشت ،په دیوال کې درز اولاره پیدا شوه، که څه هم دکابل ښار دهغه مهال واکمن کابل شاه فوځ دمقابلې له پاره له دیوال څخه دباندې راووت اوله مسلمانانو سره یې سخته جګړه وکړه خو مسلمانانوبیرته جوابي برید ورباندې وکړ (کابل شاه) که څه هم دجګړې په ډګر کې ډیر غښتلی و،خوله ډیرې جګړې وروسته یې وویل :له داسې لښکرو سره دجګړې له لارې هېڅ ډول بریالیتوب نه شي ترلاسه کېدلاي) له ډیرو خونړیو جګړو وروسته مسلمانانو کابل ونېو او ګڼ شمېر مسلمانان شهیدان شول. ۷

[۷] : دافغانستان په فتوحاتوکې ددری سوه صحابه وو رضی الله عنه ګډون

دکابل په فتحه کې له حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه سره دحضرت عمر رضی الله عنه زوی حضرت عبیدالله رضی الله عنه .۸ او امام حسن بصري رحمه الله هم ملګری وو.

له دوی سره په دې عزاګانودری سوه صحابه رضی الله عنهم برخه لرله ،امام بخاري رحمه الله په (تاریخ کبیر) دامام حسن بصري

---

۵ تاریخ افغانستان بعد ازاسلام . ۱٦۰- ۱٦۱مخونه داستاد عبدالحی حبیبي لیکنه

دسیستان تاریخ ۸۵مخ اوفتوح البلدان : ۴۸۸.

٦ تاریخ افغانستان بعد ازاسلام . ۱٦۰- مخونه داستاد عبدالحی حبیبي لیکنه

دسیستان تاریخ ۸۵مخ اوفتوح البلدان : ۴۸۸.

۷ طبقات الکبری دابن سعد پنځم ټوک ۴۷مخ اودسسیتان تاریخ ۸۵مخ .فتوح البلدان : ۴۸۸مخ. الاصابه اوم ټوک ۲۲مخ دحافظ ابن حجر رح لیکنه . تاریخ افغانستان بعد ازاسلام دپوهاند حبیبي لیکنه ۱٦۰مخ .

۸ الاستعیاب : لومړی ټوک ۳۱۱مخ دحضرت عبیدالله رضی الله عنه پیژندنه

رحمه الله له خولي روايت کوي : له موږ سره دخراسان په غزاګانو کې دری سوه صحابه ملګري وو .اودامام حسن بصري رحمه الله دخولي عبارات داسې وو : (لقد غزوتُ إلى خراسانَ معنا فيها ثلاثُ مائة من أصْحَاب محمَّد صلى الله عليه و سلم)۹

[۸] :دکابل په فتحه کې د نامتو امام حسن بصري رحمه الله ګډون اوپه افغانستان کې دری کلنه استوګنه

امام حسن بصري رحمه الله په خپله وايي :چې له ماحضرت عبدالرحمن سره دکابل سفر هم کړی اواودامام حسن بصري توري داسې دي : (سافرتُ مع عبد الرحمان بن سمرة إلى كابلَ) ۱۰.

دغه راز امام حسن بصري رحمه الله وايي : مادکابل په فتحه کې له حضرت عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه سره ګډون لاره اوعبارات يې داسې دي چې ديوه سړي دپوښتنې په ځواب کې يې وويل : يا أبا سعيد هل غزوت قط ؟ قال: نعم غزوة كابل مع عبد الرحمن بن سمرة۱۱.

امام حسن بصري رحمه الله وايي :ماپه خراسان (اوسني افغانستان)کې دری کاله تير کړل ۱۲ اودکابل په ګډون دزابل په غزاګانو کې مې ورسره ګډون درلود اوامام حسن بصري رحمه الله عبارات داسې دي :(وروى الحسن عن عبد الرحمن بن سمرة أنه غزا معه كابل والأندقان والأندغان وزابلستان ثلاث سنين ۱۳)

[۹] : له افغانستانه دحضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه بيرته ستنېدنه

حضرت عبدالرحمن بن سمرة ﷺ له کابله دبېرته ستنيدلو پرمهال ځوتته افغانان دغلامانو په ډول له ځانه سره بوتلل چې وروسته يې ازاد کړل اودمسلمانانوستر امامان وګرځيدل ۱۴ چې دری تنه دزيات شهرت خاوندان شول اونومونه يې دادي :

۱ـ امام محکول کابلي چې دامام زهري له ويناسره سم په فتواله هغه څخه زيات بل د پوهې خاوند په خپل وخت کې نه و۱۵ نومورې دشام

---

۹ تاريخ کبير دامام بخاری رحمه لاله پنځم توک ۴۵۲مخ اودغه راز همدغه خبرې امام ابن عدي دالکامل لومړی توک ۱۶۶مخ .کې راغلی دي .

۱۰ دحافظ مزي تهذيب الکمال ۶/ ۱۲۳مبارک بن فضاله.

۱۱ طبقات الکبری دامام ابن سعد اوم توک ۱۷۵مخ.

۱۲ طبقات الکبری : اوم توک ۱۵۷مخ

۱۳ طبقات الکبری : اوم توک ۱۵۷مخ

۱۴ اودسيتان تاريخ ۸۵مخ تاريخ افغانستان بعد ازاسلام ډيوهاند حبيبي ليکنه ۱۶۳مخ .

۱۵ تاريخ افغانستان بعد ازاسلام ډيوهاند حبيبي ليکنه ۷۹۰مخ .الاعلام اتم توک ۲۵۲مخ .تذکرة الحفاظ لومړی توک ۱۰۱مخ تهذيب التهذيب دحافظ ابن حجر ليکنه لسم توک ۲۸۹مخ دابن خلکان تاريخ دوهم توک ۱۲۲مخ ، اودامام ذهبي تاريخ اسلام پنځم توک ۵مخ اودمام ذهبي ميزان الاعتدال ؛ دريم توک ۱۹۸مخ اوحلية الاولياء پنځم توک ۱۷۷مخ . (۱) الطبقات الكبرى ابن سعد (۴۵۳/۷)، والتاريخ الكبير للبخاری (۲۰۰۸/۸)، والجرح والتعديل (۱۸۶۷/۸)، وسير أعلام النبلاء

نامتو محدث وبلل شو اوهلته وفات هم شو اوپه حديثو کې دنوموړي دستر مقام له امله يې امام ذهبي رح پيژندنه دنامتو محدثينو په کتار کې په خپل کتاب (تذکرة الحفاظ) کې راوړي ده .١٦

٢ـ عمروبن عبيد کابلی.١٧

٣ـامام نافع کابلي رحمه الله : نوموړی نامتو تابعي ګڼل کيږي د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه ازاد کړی غلام و. له نامتو صحابه وو لکه ابوسعيد خدري اوعبدالله بن عمر اوحضرت ابو هريرة، او حضرت عائشة رضی الله عنهما څخه يې روايتونه کړي دي امام بخاري رحمه الله دنوموړي سند ترټولو غوره سند (اصح الاسانيد) بولي .١٨ د حديثو نامتو امامانو لکه ابن شهاب زهری او اوايوب سختياني او په ځانګړي ډول امام مالک رحمهم الله ترينه راويتونه اخيستي دي اوپه ١٢٠هجري په مدينه منوره کې وفات شوی دي .١٩

[١٠] : دحضرت عبدالرحمن بن سمرة رضی الله عنه وفات

په ٤٥هجري کال کې بېرته دعراق بصرې ته ستون شو اوپه ٥٠هجري کال په بصره کې له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه او نامتو صحابي زياد بن ربيع رضی الله عنه يې دجنازې لمونځ وکړ .٢٠

په بصره کې يو کوڅه دده په نامه د((سکة ابن سمرة)) يادېده ،اوپه بصره کې يې ځانته په خپل کور کې يوجومات دکابل د ودانيو په څېر له ځان سره د بيولوافغانانو په لاس جوړ کړ .٢١

نور بيا.....

(١٥٥/٥)، وتاريخ الإسلام (٣/٥)، . وتهذيب التهذيب (٢٨٩/١٠ - ٢٩٣)، تقريب التهذيب (٦٨٧٥).

١٦ تذكرة الحفاظ لومړی توک ١٠١مخ .

١٧ دسيستان تاريخ ٨٥مخ مروج الذهب دوهم توک ١٩٢مخ .

١٨ علوم الحديث دامام ابن صلاح رحمه الله ٣٨مخ .

١٩ دزرکلي الاعلام پنځم توک ٢٥٢مخ . دابن خلکان تاريخ لومړی توک ٣٨٤مخ. تهذيب التهذيب دحافظ ابن حجر ليکنه لسم توک ٣١٢مخ .دامام ذهبي تاريخ اسلام پنځم ټوک ١٠مخ دامام بخاري تاريخ کبير (٢٢٧٠/٨) ودامام رازي الجرح والتعديل (٢٠٧٠/٨) اوامام ذهبي سير أعلام النبلاء (٩٥/٥) اوتاريخ الإسلام (١٠/٥). تاريخ افغانستان بعد ازاسلام دپوهاند حبيبي ليکنه ٧٩٢مخ.

٢٠ تهذيب التهذيب اودنوموړي دپيژندني مخکنی اخيست خايونه .

٢١ فتوح البلدان :٤٩٩ مخ. دسيستان تاريخ: ٨٩مخ. دامام طبري تاريخ : څلورم ټوک ١٧٠مخ . داستاد حبيبي تاريخ افغانستان بعد ازاسلام: ١٦٤مخ .

د لیکنې او لیکوالۍ علمي آرونه او معیارونه

م شمس... منصور

دکاغذ په سېنه چې قلم ښوري توري (حروف) او لفظونه جوړوي او د تورو او الفاظو له ګډ ترکیب کلمې جوړېږي، د هدف بیانولوپه موخه کلمې د یو بل پورې نښلول کېږي او په همدې اساس دیو شمېر کلمو او الفاظو په نښلولو او ترکیب سره کلام اوجملې رامنځته کېږي،بیا دجملو په ترکیب اویو ځای کولو پراګراف جوړېږي، بیا دګڼو لفظونو، جملو او څو پراګرافونوپه یوځای کولو یو مضمون یا یوه لیکنه رامنځته راځي.

د ورځینو یادښت لیکونو نیولي تر ورځپاڼو، مجلو اوکتابونو پورې ټول د تورو او الفاظو ترسیم شوې بڼې دي ، هر تن (که لوستی وي یا نالوستی) هغه دالفاظو اوکلمو کارولو ته اړتیا لري او په نن پرمختللې زمانه کې دالفاظو سره لوبیدو خو دومره عامه اهمیت مندلی، چې شاید په وړاندې بشري تاریخ کې یې دومره نه و مندلی، په نړۍ کې نن سبا لکونه ورځپاڼې، جریدې او مجلې له چاپ را وځي

او په هغو کې ځیني دچاپ د تیراژ له پلوه ملیونونه تیراژ لري ، خو داحقیقت هرځای هرڅوک مني ، چې ترخلکو دپیغام رسولو لپاره ښه ذریعه او مؤثره وسېله لیک دی... په دې اړه څوک اختلاف نلري.!

که څه هم نن سبا دبریښنایې میډیا شور او څوږ دی؛ خو داهم څرګند حقیقت دی چې دبریښنایې میډیا (تلویزون،کمپیوټر اوانټرنیټ) دلارې انسان کوم علوم اومعلومات ترلاسه کوي، سره ددي چې له دغولاروڅخه دمعلوماتو په ترلاسه کولوکې زیاته اسانتیا اوتیزې رامنځته شوي، د"سې ډې سافټ ویر" په جوړیدو ګڼ ټوکونه اوضخیم کتابونه تردې پورې چې بسته اومجهز کتابتونونه په یوه کوچنۍ سې ډې کې راځي او په کاله کې یو ناست سړی هم دخپل کمپیوټر په شېشه هغه بې پناه علمي مواد اومعلو مات مندلی شي، لیکن پرلپسي تجربو ښودلي چې هغه علم اومعلومات چې له چاپي میډیا، یا کتابونو اولیکنو څخه ترلاسه کېږي، د هغو (چې دانټرنیټ، تلویزون اوکمپیوټره ترلاسه

کیږي) نه زیات مؤثر اوګټور دي او هم دا راز کوم رابښکون او خوند چې دکتاب، ورځپاڼې او مجلې په مطالعه کې شته دی ، هغه په کمپیوټر او بل څه کې نشته.

لنډه داچې دتورونه الفاظ منځته راځي او دالفاظو نه جملې جوړیږي، دځو جملو په ترکیب اویوځای ټولولو فراګراف منځته راځي او دځو فراګرافونو مجموعې ته مضمون او دځو لیکنو اومضامینو ټولګې ته کتاب ویل کیږي؛ خو دهر مضمون اوهر کتاب اساس توري او الفاظ دي...

اوحرف هغه کلمه ده، چې نه دچا لپاره نوم دی اونه له کوم مصدر نه اخیستل(مشتق) شوی دی،بلکې دنورو کلمو سره په ترکیب ټولولو او ټولو معنی پیدا کوي، لیکن دحرف پرته اسم اوفعل هم بیکاره دي، د حرف پرته په کلام کې ربط نه شي رامنځته کېدای یا په بله وینا دحرف راوړو پرته هره خبره بې خونده او بې معنی وي، هم دا وجه ده چې دهرې ژبې یادولو اوپه هره ژبه کې دلیک لوست لپاره دحروفو ډولونه او پخپل پخپل ځای دهغو دکارولو هنر پیژندل له ضروریاتو او اول یاتو څخه ګڼل کیږي او هم د هرې ژبې دحروفو سهي املاء او انشا دلیکوالۍ لومړی مرحله ده، که هر تن په دغه مرحله کې بریالی ووت دهغه په اړه دا وړاندینه کول اسانه ده، چې هغه به د پر لپسي زیار او د علمي ذوق په درلودو د یو کامیاب قلموال په حیث ځان څرګند کړي.

ترهر څه دمخه راځو هغو ګرامري معیارونو او اصولوته، چې دهغو په مټ یوه لیکنه یا مضمون دمعیاري لیکنې اومعیاري مضمون بڼه خپلولی شي، چې په دې لړ کې اول دمعاصرلیکدود؛ دلیک ډولونو غورچاڼ را اخلو :

لیک ډولونه :

لیک ډولونه هغه دي، چې دیو عبارت په ظاهري بڼکلا، لوستنه اوپوهېدنه کې لازمه اساني راولي، جملې اوکلمې سره ببلوي، له پخوانه په لیکنو کې دلیک ډولونو کارول دود دي، چې دوخت په تېریدو سره پکې ځینې بدلونونه هم رامنځته شوي،لیکن دا اتفاقي ده چې دهر دور لیکوالو اوعالمانو دوامدار پخپلو مضامینو او لیکنو کې دلیک ډولونو کارولو اصل ته شا نده ګرځولي او په کلکه یې رعایتاو راوړي دي.

دلیک ډولونو کارول که یولورته لوستونکي سره دمعانیو اومفاهیمو په لوستنه اوپوهېدنه کې مرسته کوي او دهغه په ذهن کې مفهوم په اسانۍ سره کینوي، بل پلو د املاء او انشا د معاصر ادبي ذوق او سلیقې سره دلیکوال دبلدیتا اوپوهې بڼکارندویه هم دي.

په موجوده دور کې دنړۍ په هېڅ یوه ژبه کې هېڅ یو معیاري کتاب دلیک ډولونو پرته نه چاپیږي،په ورته توګه دنړۍ په هېڅ معیاري ورځپاڼه اومجله کې دلیک ډولونو پرته دکوم لیکوال لیکنه یامضمون منل کیږي نه ، نو هغه

درانه ملګري چې معاصره ليکوالې يادول په پام کې لري، هغوئ بايد دليک ننبو کارولو تمرين ته متوجه شي او هغوئ بايد خپلوليکنو ته دليک ننبو ښکلا ور وبښي او بايد وپيژنو چې ليک ننبې دکومې خاص ژبې او کوم خاص ادب نمايند ګي نه کوي، بلکې په پښتو، فارسې،عربې اونورو کې ژبو کې ورته ښه لري او په ډېرو کمو ځايونو کې يې ترمنځ توپير شته او هغه هم ډېر کم... د يوې ژبې په ليک ننبو پوهېدنه د ټولو ژبو د ليک ننبو پېژندل اسانوي.

که څه هم دليک ننبو تشريح دلته دبحث موضوع نده، خو داچې دنن معاصره ليکوالي دليکنو ننبو په استعمال ډېر زيات ټينګارلري او دليک ننبو پرته هېڅ ليکنه ياکتاب معياري مقام نلري، نو دلته په لنډ ډول هغه ليک ننبې چې د پښتو ژبې د معاصر ليکدود څخه جز ګرځيدلې تشريح کوو:

۱.تکی(.) دغه ننبه دجملې په پای کې اينبودل کيږي، چې دجملې پای ته رسيدل،تمبدل اوتوقف ښيي لکه:

زه پرون مدرسې ته لاړم،يوکتاب مې ووايه، بيا ژربيرته راغلم.

دکومې جملې په پای کې چې دتوقف کومه ننبه شتون ونلري،هغه جمله مستقله نه وي،حتی که نه کله دجملې له اصلي شکل و وزي اوښايې ديوې کلمې ياکوم عبارت حيثيت پيدا کړي. په همدې توګه که چېرې ديوې کلمې يا کوم عبارت په پای کې دتوقف ياتمبدو ننبه رانشي هغه ديوې جملې بڼه پيدا کوي لکه

- راشه

- راشه.

په لومړي مثال کې چې دراشه کلمې وروسته تکی نشته نو فقط يوه صرفي کلمه ده خو په دوهم مثال کې دراشه. ترکلمې وروسته تکی راغلی دی، نويې داسې جمله جوړه کړېده چې مستقله معنا لري اودمفرد او امر حالت ښيي

هم داشان تکی(.)دهغو ټولو جملو وروسته راځي، چې نه دپوښتنې حالت ولري او نه دغږ لکه:دظلم کاسه نسکوره ده.

بل ډېر ځلې په يوه ليکنه کې دمخففاتو د ليکلو اړتياپېښه وي او يونوم دتکرار او يا اوږدوالي له وجې نشي راتلای، هغه په مخفف شکل ياتورو ليکل کيږي، هلته دهر لنډ شوي توري وروسته دتکي اينبودل لازمې دي لکه:

- م.م.م. (دملګروملتونو موسسه)

.ا.ا.ا. (اسلامي امارت)

.د.ا.ع.ش. (دولت الاسلامی عراق والشام)

په نورو ژبو کې تکی دحسابي رقمونو منځ کې داعشاريې په توګه اينبودل کيږي خو په پښتو کې يې اينبودل ګډوډي راولي ځکه پښتو کې تکی اوصفر يوشکل لري نوغوره داده چې په

پښتو کې د حسابي رقمونو په منځ کې داعشاریې دنښې په توګه کامه وکارول شي لکه:

۳۰،۲(ديرش افغانۍ اودوه پوله) ۴۰،۵۰(څلويښت افغانۍ او پنځوس پوله، بل دهغو عدودونو اوتهجي تورو په پای کې چې دهغو په وسيله مطالب ياعناصر... شمېرل شوي وي لکه: ۱. لومړی. الف.

۲.چپه پېښ يا کامه(،):

دغه نښه ديوې لنډې درېدنې ووقفې لپاره کارول کېږي، او ددو کلمو اويا دوه نيمګړو جملو په مينځ کې استعماليږي، خو په نسبت ټکي(.) ته دتمېدو توان يې لږدي،کامه دنورو نښو په خلاف داستعمال دېر ځايونه لري اونه يوازې دمعنا سره مرسته کوي بلکې دليکنې حرکت اوتوازن هم تنظيموي، دکلمو په مينځ کې چې استمعال شوي وي لکه: احمد، محمود اومحمد په امتحان کې بريالي شول.

حمزه خان شنواری دپښتو غزل نوښتګر غزلبول،لوی شاعر، ادیب او مفکرو.

۳.ټکی اوچپه پېښ، يا ځنډ نښه(؛):

داوږدې وقفې او دريدنې لپاره ليکل کېږي اوپه هغو مرکبو جملو کې چې دمعنا له مخې شريکې وي، استعماليږي لکه:

له هغه علم نه چې اخلاق ورسره نه وي؛ ناپوهي غوره ده.

ځينې ليکوالان ددې لپاره چې دځنډنښې ددقيق استعمال نه ځان خلاص کړي، په ځا يې کامه ليکي او په داسې حال کې چې ددغې نښې استعمال دبلې هرې نښې سره توپير لري او لويه ځانګړتيا يې داده چې دمتوازنو جملو اوفقرو په منځ کې بايد راشي،کله چې دوه عمده فقرې په (او،خو،دپاره) اوديته ورته نورو کلمو ونه ترل شي، هلته ځنډنښه حتمي ده لکه:ماشوم ته په وخت سزا ورکول لازمي کاردی؛ په بې ځايه وهلو سره سپين سترګی عادت کېږي.

۴.دوه ټکي(:):

ديوې کلمې يايوې جملې دتشريح اوتفسيرلپاره استعماليږي، يعنې داچې له جملې اوکلمې وروسته مطلوبه شرح ليکل کېږي:

لکه: دمحمودباغ دېر ښکلی دی:ښه ګلان، خوږې ميوې او روانې اوبه لري.

يالکه:دبرې ستنې دادي:پوهه، تقوی، روغتيا،اخلاق اوروزنه.

۵.پوښتنه نښه(؟)

دغه نښه دپوښتنې پروخت استعماليږي او دهغې سوالیه جملې په پای کې راوړل کېږي، لکه: داسې څوک دی؟ دلته څه کوي؟

۶.غږنښه (ندائيه) !

که څه هم غږ نښه داستعمال لپاره کې ځايونه لري، خو په ليکلو کې يې غور پکاردی،

دغږ اونداء لپاره کارول کېږي له منادی او امریه جملې وروسته لیکل کېږي لکه:هلکه راشه! ژرراځه!

کله چې په یوه جمله کې افسوس اوحیرانیتا ښول وي لکه: دا څومره لوی غردی؟! ایا دومره ظلم هم څوک کوي؟!

هم دا راز د"افرین" تنبیه، تعجب اوخوشالۍ په وخت کې راوړل کېږي، لکه:سبحان الله!ماشاء الله! دا څومره ښکلی باغ دی!څومره ښکلې مرغۍ ده!افرین ستا په میرانه! کله چې تنبیه اوپوښتنه دواړه مطلوب وي،هلته دپوښتن نښې(؟) سره یوځای لیکل کېږي لکه:دخدای لپاره داځه حال دی؟!

د ارزو(تمني) لپاره هم راوړل کېږي، لکه: کاشکې!هغه... دامریکا غلام نه وای!

۷ـ کش یاکربنې(ــ):دغه کربنه د دوه مهمو جملو او کلمو دتفریق لپاره لیکل کېږي لکه صرف ـ نحوه،معاني بیان اوبدیع ټول ژبني علوم دي.

دغه نښه دشدت له مخې دکامې سره چندان توپیر نلري، په ډېرو ځایونو کې دکامې په ځای لیکل کېږي،خوبیا یې هم شدت دکامې نه ډېر دی؛ لکه: امام شاه ولي الله ـ دهندوستان مشهورعالم ـ پخپل مشهور کتاب "ازالة الخفاء" کې:دخلافت په موضوع دومره جامع اوغوره بحث کړ -چې تراوسه بل عالم او امام نه دی کړی.

هم د سوال اوځواب د دوو جملو لپاره راوړل کېږي، لکه: احمده څه کوي؟ خط لیکم- چاته؟ خپل ورورته.

اوبل دشمېر اوشمېرلې(عدد اومعدود) دبلولو لپاره هم لیکل کېږي لکه:فعل دزمانې له مخې په درې ډوله دی ۱- حال ۲- مستقبل۳- ماضی.

کله کله دکربنې سره دوه ټکي هم استعمالیږي لکه (:-) دغه نښه دتفصیل راوړو لپاره لیکل کېږي، له دې وجې تفصیل نښه هم ورته ویل کېږي،دمثال اوممثل ترمنځ او دبغلي عنوانو راوړو وروسته هم لیکل کېږي

۸ـ(=):دغه دوه کربنې ددوه څېزونو دبرابرۍ اومساوات ښودنې لپاره هم کارول کېږي،لکه: ۲+۲=۴

دوه قوسونه یا دوه لیندۍ():

ددغو دوو نښو ترمینځ یوه غوره او دپاملرنې وړ جمله یا وینا لیکل کېږي، لکه: زما ورور(محمود) حج ته لاړدی.

همدارنګه دمعترضه جملې دښودنې لپاره هم راوړل کېږي، لکه:زه غواړم راتلونکې اوونۍ له احمد سره(چې زما نښه ملګری دی) جهاد ته لاړشم.

په بل عبارت دلیندیو ترمینځ تشریحي اوفرعي عبارتونه هم لیکل کېږي، یا په بله وینا:په لیندیو کې غیر اصلي تبصره راوړل کېږي

لکه: فلسفه(چې زده کړه يې کتوره ده)ښه مشهور اومهم علم دی.

کله کله دیو شخص دزیږېدو او مړینې نیټه هم پکې لیکل کېږي لکه: احمدشاه بابا(۱۷۲۳م،۱۷۷۲) پاني پت کې مرهټیانوته سټره ماته ورکړېده.

ځیني وخت په لیندیو کې شمېر یاکوم توري ددې لپاره لیکل کېږي، لکه:دمحمود دکور کرایه(۳۰۰۰) افغانۍ ده د دوکان بیه(۱۰۰۰۰) افغانۍ ده.

هم هرکله چې سوالیه(پوښتن ښنه)دشک اوطنز په توګه لیکل هدف وي، بایدپه لیندیو کې راوړل شي لکه:په ازاده نړۍ(؟) کې میډیا(!) نړیوالو ته دمظلومو خلکو پیغام رسوي(!) یا لکه:خالد جانه څومره زړه ور (!) یې.

خو دیته باید پام ولرو چې دلیندیو راوړو څخه وړاندې په کومه جمله کې به لیک ښنه نه وي راغلي، که دکامې ایښودلو ضرورت هم و؛ بیا هم لازمه ده چې دلیندیو وروسته راوړل شي.

۱۰.غبرګې لیندکې(( ))

ددغې ښنې په مینځ کې دیوتاکلي کتاب عبارت، دیو شخص وینا یا مهمه نظریه راوړل کېږي لکه: رسول الله ﷺ فرمایلي((علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین))

یا په دې ورځوکې د((مود)) او((میتودود)) کلمې ډېرې استعمالیږي.

۱۱.درې ټکي(...)

دانښه هم زیات اهمیت لري، کله چې دیونوم یایوې جملې څرګندیدل لازمي نه وي، هلته پرلپسې څو پرلپسې ټکي ایښودل کېږي، لکه:ماته دپښتو... معلوم دی.

۱۲.درې ستوري(***):

درې ستوري دیوې مقالې یایوې رسالې یایوې برخې ترپای ته رسیدو وروسته ایښودل کېږي، چې زیاتره دچاپ په وخت کې کارول کېږي.

۱۳ـ نیخکونه([ ]): په عمومي توګه دغبرګولیندیو دننه دیوبل شخص وینا لیکل وي،یعنې هغه وخت چې په غبرګو لیندیو کې دننه کومه بله وینا راوړل ضروري وي،هلته نیخکونه ایښودل کېږي،البته دغه ډول لکه اشاره چې ورته وشوه، کله کله په مفردو نقلي ښنو کې دننه هم راځي لکه: خالد ویل: ابن جریر دتاریخ ښه کتاب لیکلی [خوزما په نظر دابن کثیر البدایه والنهایه دتاریخ ښه کتاب دی]

۱۴ دټینګار نښه(ـــــ):

کله کله لیکوالان په لیکنو کې داسې کلمې، جملې اوفراګرافونه راوړي، چې نسبت نورو کلمو، جملو اوفراګرافونوته یې اهمیت زیات وي، یاغواړي پرځینو مسایلو او عناصرو تاکید وکړي هلته تري لاندې اوږده کرښه کش کېږي لکه:خبردار! دلته دریدل منع دي ـــــــــ

املاء اولیکدود:

دتورو،کلمو،اشارو اولیک نښودلیکلوطریقې ته املاءوایي او پښتوپوهان یې لیکدود بولي.

ژبپوهان اتفاق لري، چې هېڅ ژبه دلیکلو دطرز اودهغو دنښو له پېژندنې پرته په ښه توګه نشي لیکل کېدای، له دې وجې املائي قواعد او اصول دیوې ژبې د لیک لوست اساس ګڼل کیږي.

په ټولو پرمختللو ژبو کې داملاء او انشا قواعدو یادولو لپاره دپخوانیواثارو او لیکنو پیروي لازمه ګڼل کیږي، که یولفظ دتلفظ له پلوه هرڅومره له مروجې املاء څخه مغایروي،خو په لیکلو کې داملاء او لیکدود د اصولواو قواعدو په مروجه بڼه لیکل کیږي او نه دتلفظ په بڼه...

املاء دافعال باب عربي مصدردی، عربي کې ورسره پای کې همزه لیکي ، په ځینو نورو ژبو لکه اردو شوه له همزه پرته (املا) لیکل کیږي، خو دپښتو املاء لپاره دعربي لیکونو له ډلې دوه ډوله (نسخ اونستعلیق) لیکونه ټاکل شوي، په دې سره پښتو "اقرب الی العربی"ده، پښتو پوهان له املاء کلمې سره همزه لیکي، په لغت کې داملاء معنا ده خط لیکل یا رسې غوړول او صطلاح کې دتورو، کلمو، اشارو اولیک نښو لیکلو طریقې ته املاء وایي، یا داملاءنه مرادیولفظ دټاکلو قواعدواوضابطو سره موافق لیکل چې په ویلو اولوستلو کې ورباندې تلفظ کول په اسانه او صحیح ډول کېدای شي او دا هغه مهال ممکن دی:

چې کله هر لفظ د هغو مخصوصو تورو په مرسته ولیکل شي، کوم چې دهغه دلیک لپاره مخصوص دي مثلاً:علم معنا ده "بیرغ"خو دع.ل.م.په ځای یې په ا.ل.م. لیکل سم ندي.

بله داچې په هره ژبه کې مضمون لیکل؛ ځینې ظاهري اوباطني اداب لري،یا په بله وینا: په هر مضمون یا هره لیکنه کې د ځینو لفظي محاسنو ترڅنګ د ځینو حقیقي او معنوي محاسنو راوړل هم ضروري دي،لیکوال به دا دواړه (لفظي او معنوي) عنصرونه په پام کې نیسي او دپوره کولو کوښښ به یې کوي، ځکه په دې سره دهغه د قلم لاندې لیکنه معیاري ګڼل کېدای شي او هم هغه ته دیو تجربه کار قلموال ویاړ ور په برخه کوي.

هم داراز د هر،لفظ صحیح لیکل؛ یعنې په هر لفظ کې چې څومره توري راو ړل وي او په کوم ترتیب راوړل پکار وي،په هم هغه بڼه د هرتوری لیکل پکاردي، په دې سره یوه لیکنه بیا داملاءله پلوه سهي ګڼل کېدای شي اوکه څوک د املاء اولیکدود په واحده بڼه توري نه لیکي ، د هغه لیکنه د املاء له پلوه خطاء او ناسمه ده ، یعنې په سمه بڼه دتورو لیکل اوراوړل املاء ده او هره طریقه چې دتورو د راوړو او لیکلو لپاره استعمالیږي هغې ته رسم الخط(لیکدود)ویل کیږي،داملاء اولیکدود ترمنځ

معربه بنه يې رواج موندلی اوس په اصلي بنه ليکل کيږي لکه: سابون، لال، مرکه، کتره، کتار اونور...

۴ــ دشول مصدر ټول فعلونه دسول(سوختن) مصدر له فعلونو سره دالتباس دمخنيوي په منظورپه (ش) ليکل کيږي لکه: وشو، شوی دی، شوی ؤ، وبه شي،همدارنګه شته اونشته بايد په (ش) وليکل شي، نه په (س) نن سبا ځيني فيسبوکي ليکوال له دغه اصل څخه په ښکاره سرغړونه کولو دشول مصدر فعلونه؛ دسول(سوختن) مصدر دفعلونوپه بنه په سين(وسو،سوی دی،سوی ؤ،ياسته، نسته) ليکي چې داکار دپښتوژبې د ليکدود اوګرامر د قواعدونه ښکاره سرغړونه ده.

انشا:

دمضمون ليکلو لپاره دژبې د قواعدو او انشا (که بشپړه نه وي،دضرورت ترحده) سره بلدتيا ضروري ده،دهرې ژبې دقواعدو او انشا موضوع يوه لويه موضوع ده، چې په باب يې دهرې ژبې ژبپوهانو او وينپوهانو ارزښتمن خدمتونه سرته رسولي،دپښتو ژبې داملاء او انشا په لړ کې که څه هم هغسي چې اړتيا ده کارندی شوی،خو بياهم ترڅه ځايه دپښتو ادب استادانو او پوهانو يومخ ميدان خالي پرې ايښی هم ندی بلکې په اړه يې ګټورې څېړنې اوليکنې کړي دي او دپښتو انشايې قواعديې په روښان شکل ترتيب او ليکلي دي،چې په دې سره واقعاً هغوئ د ستاينې وړ دي او دپښتوژبې د ځوانو قلموالو لپاره دهغو قواعدو اواصولو يادول ضروري دي، دلته يوائي ديومثال په راوړو اکتفا کوو.

"دی،دي، دې،ده" اونور... شايد ديو و يناوال لپاره دومره ستړي کونکي اوځورونکي نه وي؛ ځومره چې ديومضمون ليکوال ځوروي؛دمذکر اومونث ترمنځ، دواحد، تثنيه اوجمع ترمنځ توپيرونو ته دقيق پام لرل شايد يو خطيب او مقرر ته ستونزه ونلري، خو د يو ليکوال اومضمون ليکونکي لپاره دپام وړ ستونزه ده، دهرليکنې په ليکوال لازمي ده، چې هغه به دالفاظودتذکير،تانيث ترکيب او مزاج نه خبروي،د معنا لرونکو تورو په کارولو کې دمبتداء،خبر،فعل اوفاعل ترمنځ به دمطابقت له قوانينو هم اګاه وي...

متضاد اومتقابل الفاظ:

ځيني الفاظ دمعنی له پلوه متضاد او ديو بل مقابل وي،لکه " ورځ" د"شپې" ضد ده،يا "امير" د "غريب" ضد دی، ديته متضاد الفاظ ويل کيږي اوځيني الفاظ ديوبل ضدنه؛ ديو بل مقابل وي،هغو ته متقابل الفاظ ويل کيږي،دا دواړه په عظيم الشان قرآن کې زيات استعمال شوي لکه: ثواب و عذاب، جنت و جنهم، وعدو وعيد، ترغيب و ترهيب، کافر و مومن، صالح و فاسق، عالم وجا هل داټول هغه الفاظ دي چې ديوبل سره مقابل دي.

د متضـادو او متقـابلو الفـاظو صـحيح اومناسب استعمال ليکني اومضمون ته ښکلا ور ښـي، پـه دې اړه لانـدې دري اقتباسـونه ولولئ او وګورئ چې فاضـل اديـب دليکـوالي دامهم صنعت په څومره ښه رابنکونکي سليقه کارولی دی:

۱ـ زمونږ پـه وړانـدي دوه لارې دي: "مـن شاء فليومن و من شاء فليکفر"

کفر يا اسلام، شرک يا توحيد، صدق يا کذب، حق يا باطل ،هرشخص واک لري، چې هغه ددې دوو نه يوه غوره کړي؟!

۲ـ مو نږ دې بازارته دنفع په سودا پسي نه؛ بلکې په زيان اوتاوان پسي راغلي يو!له چانه شـابس او آفـرين... نـه؛بلکې نفـرت او رټـل غـواړو، دعـيش اولـذت ګلونـه، نـه؛بلکې د اضطراب اوزحمـت ازغـي لټوو! د دنيـا د مـال اومتاع ... د پاره نه ؛ بلکې د خپـل تـن قربـانولو پسي را وتلي يو!

په لا ندينې اقتبـا س کـې هـم وګـورئ چې دتضـاد او تقابـل هنـر پـه څـومره ښـه او رابنکونکي بڼه کارول شوی:

دتضاد اوتقابل کمال:

په منځنيوپيريو(قرون وسطی) کـې صـليبي جنګونو اروپا او منځنی ختيځ ديوبل په وړاندې ودرول، اروپا هغه مهال دمسيحي ذهن اسـتازې وه او منځنی ختيځ داسلامي ذهن استازيتوب کـا و او د دواړو متقابل حالت لـه وجـې د هغـو دواړو متضـاد اړخونـه هـم څرګنـد وو اروپـا دمذهبي جنون او جوش علمبرداره وه او په ختيځ کې مسـلمانان دعلم او دانـش علمبـرداران وو اروپـا ددعـاوو پـه وسـله جنګيـده او مسلمانانو داور او وسپنې په وسلو جنګيدل، داروپا باور يواځې په خدايي مرستو لاره او د مسلمانانو هم په خدای او هم دخدای په پيدا کړيـو وسـايلو بـاور درلـود؛ يـو لـوری يـواځې دروحـاني قـوت معتقـد و او بـل دروحـاني اومـادي دواړو معتقـد و؛ لـومړي دمعجـزو ظهور ته انتظار کاو او دوهم بيا د خپل عمل د نتايجو ظهـور تـه...؛معجزې ښکاره نشـوې؛ خـو دعمل نتايج څرګند شول، دفتحې اوبـري پرېکړه يې وکړه؛ د "ژواين ويل" سرتيري په يادابنـتونو کـې هـم دا متضـاد او متقابـل منظـر انځـور شوی، کله چې مصري فـوځ لـه منجنيقونـو څخـه د اورلمبـه لرونکـي مردکـي ويشـتل ، د فرانسـويانو لاسـونوکې هـم هغـه پخـوانۍ او زړې وسلې وې او په وړاندې يې بې وسه شول "ژوا ين ويل" ليکي:

يوه شپه مونږ د ځار هغـو پوسـتوته چې دسيند په غاړه وي،د پهرې لپاره لاړو، نو مونږ ناڅاپـه ولـيدل چـې مسـلمانانو يـو انجـن ورتـه څېز چې دوئ منجنيق باله راوړو اومونږ تـه مخامخ يې نصب کړ، لږه شـېبه وروسـته يـې د هغه نه د اور لمبه لرونکو مردکيو باران پيل

کړ، ددې حالت په لیدو زمونږ صاحب منصب ماته نژدې راغې، هغه ویل:

اوس مونږ د بد حالت سره مخ یو! که دا مور چلې پرېښږدو؛ مونږ به پکې یو او مسلمانان به ورته اورونه واچوي چې مونږ به هم دلته خاورې اړې شو!اوکه خالې کوو یې ، دا به زمونږ لپاره شرمونکې وي، ځکه مونږ دلته پهرې اوځارته ګومارل شوي یو، په دې وخت کې دخدای پرته بل څوک مونږ نشي ژغورلی،زما سلا داده چې هرکله مسلمانان داورلمبه لرونکی(مردکی) ز مونږ په لور راتوغوي، مونږ به خدای ته پریوزو! اوله خپل نجات ښښونکي څخه به دنجات دعاء غواړو!! څوهغه مونږسره په دې مصیبت کې مرسته وکړي،مونږ ټولو هم داسې وکړل،هرکله به چې د مسلمانانو لخوا د اور لمبه لرونکي مردکي دراتلو غږ پورته کېد، مونږ ټول به په زنګنونو ټېټیدو اوپه دعاء به مشغول وو.

داورلمبه لرونکی مردکی چې دمنجنیق نه را وت دنېزې اومره اوږده لکۍ به یې وه ؛ څه مهال چې بره په هوا کې راته، ورسره دو مره ډاروونکی غږ به و لکه چې تندر را پریوت؛ شکل یې اتشي اژدها ته ورته و چې په هواکې به یې الوتنې کولې؛ رنا یې دومره تېزه وه، چې زمونږ شاوخوا علاقه به یې داسې سپینه رنا کړه لکه چې ورځ راختلې وي؛ دهر غږ په اوریدو به زمونږ ولي صفت پاچا له خپلې بسترې را پورته شو او په ژړه،ژړه کې به یې زمونږ نجات ښښونکي ته زارۍ اوفریاد کاو؛ مهربانه!زما د خلکو ساتنه وکړې! زه باور لرم چې زمونږ دپاچا هغو دعاګانو ضرور مونږ ته فایده رسوله.

دفایدې باورله خوش باورۍ او وهم پرته بل څه نه و؛ یا الاخر هېڅ دعاء ګټه ورنکړه، د اورلمبو او شغلو دهغوئ هغه ټولې مورچلې وسیزلې او خاورې اوایرې یې وګرځولې، داحال ددیارلسمې مسیحي پیړۍ و او څو پیړۍ وروسته چې بیا کله اروپا او ختیځ سره مقابلې ته ووتل، هغه مهال حالت یومخ او ښتی و، البته د دواړو لوریو متضاد خویونه بیا ښکاره وو، ځنګه چې د پخواني صلیبي جنګ پر مهال وو، خو دومره بدلون راغلی و، هلته په کوم ذهني ځای اروپا ولاړه وه، اوس پرې مسلمانان ولاړوو او په هغه ځای چې مسلمانان وو، هغه ته اروپایان ور رسیدلي وو، داتلسمې پیړۍ په پای کې چې کله نپولین په مصر حمله وکړه،نو"مرادبک" دجامعه ازهر علماء راغوند کړل او له هغوئ سره یې مشوره و کړه، چې اوس څه کول پکاردي؟د ازهر علماوو په اتفاق سره هغه ته رایه ورکړه، چې په جامعه ازهر کې دبخاري شریف ختم شروع کول پکاردي؛ دا ددښمن دهلاکېدو لپاره یوه مجربه نسخه ده؛ هم داسې وشول،دبخاري شریف ختم پای ته نه ورسیدلی، چې د اهرام په جګړه کې دمصري حکومت تخته نسکوره شوه، شیخ "عبدالرحمان

الجبرتـــي" پخپـــل قلـــم دهغـــه وخـــت د سترګوليدلي حالـت کـوم انځورکښـلی،هغه ډبر دردونکـی او دعبـرت ډک دی اوبیـا دنولسـمې پیړۍ په پیل کې چې کله روسانو بخارا کلابند کړه، دبخارا د امیر په حکم په ټولو مدرسو اومسجدونو کې "ختم خواجګان" پیل شو، له مقابل لوري نه روسانو دخپلو توپونو اوټانګونو په بریدونو د بخارا د ښار د دیوالي دفاع کړنې نړولې ،خلک دختم خواجګان د حلقونه و پورته شوي او په دعاوو مشغول وو، چې بالا خر هم هغه څه پیښ شول،کوم چې په داسې مقابله کې پیښیدونکي وو، دا سمه ده چې دعاء فایده رسوي...! خو هغه چاته ... چې هغوی دپولادو پشان قوي عزم او کلک همت ولري...! هغو بې همته اوبزدلو خلکوته فایده نه رسوي؛ چې هغوی دعمل د نه کولو لپاره پلمه او د قواوو د تعطل لپاره دعاء وسیله او حیله کړځوي...(ازاد، مولانا ابوالکلام، غبار خاطر)

اوس غور وکړئ! که ددې عبارتونو څخه دتضاد اوتقابل حسن وترورل شي،څه شی به پاتې شي؟

مترادف اومتقارب الفاظ:

هغه الفاظ چې سره یوه معنا ولري، هغو ته مترادف یعنې دیوبل پوره کونکي الفاظ ویل کیږي اوهغه الفاظ چې دیوبل سره په معنی کې قریب (قریب المعنی) وي هغو ته متقارب الفاظ ویل کیږي، لکه: په ظلم ، ستم ، خپلواکې او ازادې کې ترادف دی، په متحد،منظم کې تقارب دی، دورانديني صنعت پشان دترادف او تقارب صنعت ته په لیکنه یا مضمون کې پام درلودل او په مناسب ځایونو کې یې راوړل او کارول دلیکوال دلیکنې قوت او ښکلا دوه واړه زیاتوي اوپکې تازه ګي رامینځته کوي.

تشبیهات:

په کلام کې دفصاحت اوبلاغت پیدا کولو او دحسن زیاتولو ا د یو رانښکونکي کلام لپاره ښه موزون اومناسب تشبیهات راوړل دمعیاري لیکنې یا مضمون کلام ته حسن ورکوي ښکاره ده تشبیه درې ارکان لري، (۱) مشبه: هغه څېز چې دهغه تشبیه ورکړای شي(۲) مشبه به: هغه څېز چې دهغه سره تشبیه ورکړای شي (۳) وجه دتشبیه:دمشبه اومشبه به ترمنځ هغه ګډ وصف چې دهغه په اساس تشبیه رامینځته شوي لکه: احمد لکه زمری دی،په دې جمله کې احمد مشبه دی،زمری مشبه به دی اوزړورتیا یې دتشبیه وجه ده.

په پښتو کې دتشبیه ادات دوه دي (لکه ــ غوندې) خو لاندې یو شمېر کلمې هم ددوه څېزونو یا معناوو ترمنځ دورته والي(تشبیه) لپاره استعمالیږي:

په څېر،پشان، په رنګ، په دود، دا راز، داخپـــل، داډول، دارنـــګ، لکـــه چې،څنګـــه چې،دغسي، هغسي، داسې، همسې، شانته، ورته، ته به وایې. اونور...

څو مشهور تشبيهات په لاندې ډول دي

داسمان پشان لوړ، دايوب غوندې صابر، دعمر غوندي عادل، دتيږي په څېر سخت، محمود غزنوي شانته فاتح، احمد شا ابدالي غوندې افغان،دسپوږمۍ په څېر ښايسته، دفرهاد په څېر مين،دفرعون پشان مغرور، دنمرود غوندې ظالم، دخره په څېر ناپوهه، دسپوږمۍ غوندې ښکلی او کله کله" غوندې" ادات د مشبه به په پای کې هم راځي: لکه: فرهاد دجليل غوندې دی.

تلميحات:

دکومې تاريخي، سياسي، ديني، ياافسانوي پېښې لور ته په لنډو الفاظو کې اشاره کولو ته تلميح ويل کيږي. لکه په لاندې بيتونو کې:

دنمرود دظلم سره سره دوزخونه
دپتنګ خوږلن ايرې ته نه رسيږي
(ناګار)

دنمرود دظلم سره سره دوزخونه .... تلميح ده، دحضرت ابراهيم (علیه‌السلام) د واقعې په لور اشاره ده؛ په دې تلميح سره دابرهيم (علیه‌السلام) ټوله واقعه ذهن ته رازي او تازه کيږي.

يا:

په دفتر دي که هم اور بل شي ناګاره!
دميوند يوې مسرې ته نه رسيږي

دميوندې يوې مسرې ته .... تلميح ده پکې دميوند د تاريخي جګړې اوپه هغه کې د شهيدې ناوکۍ (ملالۍ) لاندې مشهورې ټپې ته اشاره ده:

که په ميوند کې شهيد نه شوي
خدايږو لاليه! بې ننګۍ ته يې ساتينه

يا لکه:

کنعاني مينې کچکول په لاس کې راکړ
مسافره شوم دمصر په کوځو
(پروين ملالۍ)

کنعاني مېنه... تلميح ده ديوسف (علیه‌السلام) حسن، دهغه دورونو لخوا دکنعان په کوهي کې د هغه غورځولو واقعې او بياد مصر په بازار کې ديوسف(علیه‌السلام) دپلورلو او به هغه باندې زليخا دمينتوب تر داستان ټول رانغاړې او لوستونکي ذهن ته يې را ولي .

غرض داچې دکومې مهمې واقعې، يا علمي اصطلاح، يا دعظيم الشان قرآن کوم ايت او درسول الله (ﷺ) کوم حديث ته په نظم او نثر دواړو کې اشاره کولو ته تلميح وايي. په دې اړه د يو فاضل اديب الفاظ دي:

تلميحات څه دي؟ زمونږ دقوم دقدمونو نښې دي؛چې په هغو باندې په قدم ايښودو مونږ د خپلو پلرونو او نيکونو اندونو، رسمونو، دودونو او فکرونو ته لار مومو!

څو مشهور تلميحات

توپان نوح:نوح(علیه‌السلام) د خپل قوم اصلاح غوښته ، خو هغه په لار ه نشو، بالا خر تنګ

راغی، ورته ښېرې او ازار يې وکړ، توپان راغی او په هغه کې هغه قوم ټول غرق شو، داتلمیح ده د هغه واقعې لور ته اشاره ده.

کوه طور:

د راز او نیازه سره ډېرې کیسې سترې شولې
دې کوه طور ته لاتر اوسه څوک ختلې ندې
(جهانی)

دې کوه طور ته .... تلمیح ده،هغه دسینا غر ته اشاره ده کوم ته به چې موسی(علیه‌السلام) دالله (ﷻ) سره خبرو ته ورته.

قارون خزانه:هغه شتمن سړي ته اشاره ده چې هغه قارون نومیده اودموسي (علیه‌السلام) دقوم نه و،دزیات مال دولت ځښتن و، خو دخدای نه منکر او ظالم و، موسی(علیه‌السلام) ورته نصحیت وکړ،خو بیا هم دظلم نه لاس په سرنشو، اخر الله(ﷻ) دخزانو سره یوځای په زمکه کې خښ کړ.

دجمشید جام: تلمیح ده، پکې دجمشید هغې پیالې ته اشاره ده، چې پکې به هغه دعالم اودنیا کوایف مشاهده کول، او س پکې په تخفیف کولو جامِ جم کارول کیږي.

بزاخفش:دنحوي یولوی امام اوعالم اخفش نومیده، هغه دتدریس دتمرین لپاره یوه ووزه ساتلې وه، نوموړي به چې هرځه یادول، هغه به یې هغې ته هم اورول، کله به چې هغې سر وښوراوه، ده به حس کړه، چې کواکې درس یې ښه یاد شو،داتلمیح دهغه چا لپاره کارول کیږي چې هغه په درس باندې دپوهېدو پرته سر ښوروي...

فرهاد به غر په همت ونړوي.

یا دشودو نهر روانول:فرهاد یوسنګ تراش و، هغه دشیرینې په نوم یو پېغله باندې عاشق شو،هغې فرهادته وویل:چې ته! غر څېرې کړه اوپکې دشودو نهر روان کړه، بیا به زه له تاسره واده وکړم، هغه دشیرینې لپاره دې سخت کارته هم ملا وترله،آخر یې غر څېرې کړ،خو چا ورته دروغ وویل: چې شیرینه مړه شوې؛ په دې سره یې خپل سر په مارتول وواهه اومړشو.

دغه ډول تلمیحات په نثر او شعر کې استعمالول دلیکوال اوشاعر دعلمي قوت ښکارندوی کړي اوپه مرسته یې هغه کولی شي چې ډېر اوږده مفاهیم په لنډو الفاظو کې ځای کړای شي او هم دهغه دمطالعې وسعت جوتوي په نړۍ کې ټول منلي لیکوالان اوقلموال پخپلو لیکنو کې د تاریخي، سیاسي، ادبي، دیني او افسانوي مفاهیمو په لړ کې د دغه ډول تلمیحاتو اوکلماتونه کار اخلي

نوربیا...

یادونه: اخذلیکونه دلیکنې په پای کې راوړل کیږي

په ننۍ نړۍ کې د رسنیو اهمیت

او د مسلمانو قلموالو مسئولیت !

حسن نوری

د سیدنا حذیفه رضی الله څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :ماسره ستاسوپه باره کې ماته ترټولو زیاته وېره ددې خبرې ده چې تاسوبه په خپل علم هغه څه ته تر جیح ورکړئ کوم چې وینئ ؛ تاسو به بې لارې شئ اوتاسوبه خبر هم نه یئ (ابن ابي شیبه)

داحدیث چې مورِ بیا بیا ولولو اوپکې فکروکړونوراته به جوته شي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې پدې حدیث کې کومه وړاند وینه کړیده هغه اوس مورِ په انساني تولنې کې په عملي اوژوندي شکل کې وینو څکه چې ننې خلک په هغه څه چې پخپله پرې پوه وي له پامه یې غورځوي اوهغه څه چې په نړیوالورسنیوکې نشرکېږي زیات داعتباروړپې بولي نوربنتیاده چې داد دمیډیا یا رسنیو دور دی؛ میډیا ته په ډېرې لویې سترګې کتل کېږي ؛ مطبوعات یا رسنئ به چې د دولت څلورمه ستن یا رکن بلل کېدلو اووبل کېدل به چې دا د دولت د ۳ګونو نورو قوو یانې قضائیه قوې مقننه قوې او اجرائیه قوې تر منځ ربط ساتي ؛ ولس ددې ادارو د فعالیت نه خبروي او د ولس ستونزې او مشکلات د دولت تر غوږو رسوي ،داتولې اوس زړې خبرې دي؛ په عمل کې اوس خبره له دې ډېره وراخوا ده.

هو! د یوهبواد دمطبوعاتو یا رسنیواصلی حیثیت همدا دی چې د دولت څلورمه ستن یا رکن دې وي اودنده یې همدا ده چې باید د دولت د۳ ګونو نورو قوو تر منځ ربط وساتي ؛ ولس ددې ادارو د فعالیت نه خبرکړي او د ولس ستونزې او مشکلات د دولت تر غوږو رسوي خواوس عملا داسې نده ؛ اوس برقي او چاپي خپرونودپرمختګ ټول پراوونه وهلي اودترقي عروج ته رسېدلي دي همدې رسنیو نړۍ ته دیو کلي حیثیت وربښلی دی او دنړۍ په هر ګوډ کې چې کومه پېښه رامنځته کېږي په بل ګوډ کې تړې نه یواځې دا چې هر څوک خبرېږي بلکې د انټرنیټ او تلویزونونو په پردو یې څو دقیقې پس په

خپلوسترګوويني هم ،او دا چې د همدې رسنيو له لارې د نړۍ د هر قنج وکنار د حالاتو نه په ډېرې اسانۍ هرڅوک خان خبروالی شي نوځکه وايو چې اوس خبره د دولتونو د ځلورم رکن نه وړاندې نړيوالتوب ته تللې ده ؛اهميت يې نړيوال دی او اغېزې يې هم نړيوالی دی.

دخلکوترغوړو خبرونه رسول اوخلک دنړۍ دحالاتو نه خبرول درسنيوو ستره ځانګه وه خو اوس دا ځانګه اصل هدف ندی بلکې دهدف دترلاسه کولولپاره دآلې په توګه کارول کېږي ؛ له دې لارې رسنۍ شهرت اومقبوليت ترلاسه کوي اوطبعي ده چې مشهورې اومقبولې رسنۍ خپل هدف ته په اسانه رسېدای شي همدا لامل دی چې نن رسنۍ نه يواځې دمافی الضمير داظهاربلکه دخلکوژبې اوذهنونه دخپل مافی الضمير تابع ګرځول اود اهدافو او مقاصدو د تر لاسه کولو لپاره تر ټولو ستره ، مهمه او کامياب وسيله کنې کېږي .

دخلکوپه فکرونواونظرياتو داغېزوخپرولو ؛ نوروته دخپلوافکارودانتقالولو اوپه نتيجه کې يې خپل همفکره ګرځولو لپاره کامياب لار ده نوځکه يې نړيوال سترطاقتونه دخپلې برلاسۍ لپاره دکامياب وسلې په توګه کاروي ؛ امريکا چې پدې مادي نړۍ کې دامهال په نظامي ډګرکې ترټولو سترځواک دی نوبې له شکه چې رسنۍ يې هم په نړۍ کې ترټولوځواکمنې رسنۍ دي اوسره له دې چې دلته ديهودوشمېر ډېرکم دی خو همدوئ ددې هېواد په هغه رسنيوو قابض دي کومې رسنۍ چې ددې هېواد لپاره په سياسي ، اقتصادي اوټولنيزودګرونوکې پاليسي اوخط مشي تاکي ؛ ډېرې حيرانتياوړ خبره ده چې ددې هېواد دفلم ، چاپې خپرونوتلويزونونو، راديوګانو ، کېبل ، ايف ايم ځومره سترشرکتونه دي ټول ديهودو ملکيت دی ؛ والټ ډزني نومې دنړۍ ترټولوستر ميډيا شرکت ديهودو ملکيت دی ؛ سی اين اين ، سی بي ايس ، ای بي سي او اين بي ايس دنړۍ دا ستر تلويزونونه هم ديهودو دي اوواشنګټن پوسټ ،نيويارک ټائمز اووال سټريټ جورنال چې دنړۍ ترټولومعتبر اخبارونه ګڼل کېږي اوترټولوزيات خپرېږي دا ۳واړه هم ديهودو دي ؛ همدا درې واړه اخبارونه دي چې نه يواځې دامريکا بلکې دنړۍ په سطحه پرېکړې کوي چې نبه څه دي اوبدځه ؟ څه کول پکار دي اوڅه نه ؟ دامريکا بهرنۍ اودننۍ پاليسي دهمدې درې واړو اخبارونوتابع ده اوسترې پرېکړې هم اصلاًهمدا درې واړه اخبارونه کوي ؛ که يوه خبره سل په سلوکې له حقيقت نه لرې وي خو چې دا درې واړه اخبارونه يې حقيقت وګڼي څوځلی پکې نښکته پورته شي اوپه اړه يې مقالې راشي امريکايې ولس يې حقيقت وګڼي نودولت يې هم په اړه پرېکړه وکړي ؛ دا درې واړه اخبارونه چې ووايي اسلامي امارت دامريکا په شمول ټولې نړۍ ته ډېر ستر خطر دی اوبياپدې اړه په مقالو کې څه خودساخته شواهد اودلايل هم وړاندې کړي ؛ امريکايې ولس دړندو ،کنو په څېر ووايي هوهمداسې ده نو دولت پرېکړه وکړي چې بايد

اسلامي امارت له منځه يوړل شي نوحمله پرې پکارده ؛ دنړۍ نورې رسنۍ بيا دهمدوئ تقليد کوي اودهمدوئ له لورې په خپرو شويو موا دوشخوند وهي نوځکه ويل کېږي چې دنړۍ په رسنيوو ديهودو قبضه ده ؛ددې ترځنګ چې په ډېرى چالاکۍ ،فريب ،چل اوهنر يهودوخپلې رسنۍ دنړيوالو په فکرونوکې ترټولومعياري ګرځولې دي ترڅويې دنړۍ نورې رسنۍ تقليد وکړي ترځنګ يې د پيسو له لارې هم دنړۍ مطبوعات خپل تابع ګرځولي اوپيسې هم خوشې نه ورکوي بلکې ددې پيسو له لارې بېرته درسنيو نه مادي ګټې هم ترلاسه کوي هغه داسې چې دنړۍ ملتي نيشنل شرکتونه کابو ټول ديهودو دي ؛ ددې شرکتونوپه سونوزره اشتهارات دنړۍ مطبوعات ډډبروسترو معاوضو په مقابل کې خپروي چې ورسره ددې شرکتونومالونه ښه شهرت مومي اوښه ماريکيټ په نړۍ کې پيداکوي ؛ داملتي نيشنل شرکتونه خپل اشتهارات يواځې هغورسنيو ته ورکوي کومې چې ددوئ له لورې دورکړل شوې پاليسۍ سره سم نشرات کوي ، هغه پاليسي- چې دنړۍ دمطبوعاتو پاليسي يې بولي اودبيان ازادۍ ته ژمنتيا يې ترټولو مهم اصل دى نود کوم شخص ، اداري ، ګوند بلکې د يو هېواد پوره ولس د قبوليت معراج ته رسول اود مقبولو اشخاصو ، ادارو ګوندونو او ولسونو خبرې نړۍ ته منفورې وړاندې کول ؛ په شپو شپو کې د ګيدړانو نه اتلان او د اتلانو نه ګيدړان جوړول هم دبيان ازادي ده اود فحشې خپرول ؛ دانسانانوترمنځ نفرت ، دښمنيو اوجنګونو ته لمن وهل او اشخاصو ، ډلو، ګوندونو ، ولسونو، کلتورونواوحتى مذهبونوته سپکاوى هم دبيان آزادي ده چې دا هرڅه اوس زمور دهېواد په شمول داسلامي هېوادونوپه نشراتو کې شتون لري ؛ څو ورځې دمخه مې يوه کوچنۍ ويډيو وليدله چې پکې دجورنالستانو په جامه کې ديوې مېرمنې په شمول پنځه ياشپږلندغر په چوکيوو ناست دي ، دجهاد پر ضد لګيادي خبره کوي په داسې انداز چې دجنت اوپکې دحوروپه شمول دشتونعمتونو نه نه يواځې داچې انکارکوي اودا خيالي دنيا ګڼي بلکې منونکي يې لېونيان ګڼي اوورپورې خندا ګاني کوي .

بايد داومنو چې دنړۍ په رسنيوو ديهودواقبضه خوشې نده راغلې بلکې دا اوږدو اومسلسلوهڅونتيجه ده؛ دتاريخ هرطالب پدې پوهېږي چې دجورنالېزم ، صحافت ،ميډيا اوماس کميونيکيشن اصطلاحات که څه هم ډېرې وروستنۍ دي خوپه مختلفو شکلونو اوصورتونوکې ابلاغ اودابلاغ ذرائع اوسائل ډېر پخواني بلکې دانسان دپيدايښت سره ملګري اوداهميت نه برخمن دي ؛ يهود چې دخپلواهدافو لپاره اوږده پلانونه جوړول ددوئ زور عادت دى اوهمدايې موخوته درسېدلوراز دى ، په ۱۸۹۷ کې دسوزرلينډ په بال نومې ښار کې دنړۍ دګودګوډ نه راغلي ددوئ ۳ سوه ترټولوسرکرده پوهان دهرټزل په قيادت کې ددې لپاره سره کېناستل چې کوم داسې اقدامات وشي چې په نتيجه کې يې ظاهري واکمنان نور خو حقيقي

واکمنان مور شو؛ داسې وکمنان چې دنړۍ هره ستره پربکړه زمور دخوښې سره سمه کېږي ؛ پر نړۍ دخپل حاکمیت راوستلوپه موخه دې اوږدې ناستې کې چې دټولوشریکوالو په اتفاق کوم پروتوکول رامنځته شو هغه په ۱۹ مادومشتمل وچې پکې دګنو نورو څیزونو ترڅنګ دنړۍ پر رسنیوو دقبضې راوستلو ډېر تاکید شوی و؛ پکې راغلی دي چې مور به دمېډیا په سرکش آس سپرېږو اوواګې به يې په خپل لاس کې نیسو؛ ددښمن په لاس کې به داسې یوداعتبار ور اخبار نه پرېږدو چې پرمټ يې خپله رایه په اغېزمنه توګه وړاندې کړای شي اونه به يې دې ته پرېږدو چې زمور له اجازې پرته کوم لوی خبرخپورکړي ؛ موربه په نړۍ کې ددا سې قوانینو دنفاذ لپاره هڅې وکړوچې له مخې به يې زمورله اجازې پرته څوک پخپل سر څه نه شي چاپ کولای ؛ زمورپه لاس کې به داسې اخبارونه اومجلې وي چې دولس ترڅنګ دمختلفوډلو اوګوندونود تائید اوحمایت نه برخمن وي ؛ داګوندونه دجمهوریت داعیان وي اوکه دانقلاب حامیان ؛ مور به راتلونکي کې ددا سې اخبارونواو مجلو سرپرستي هم کوو چې انتشار ، بې لاریتوب ،جنسي- اواخلاقي ګډوډي خپروي اوداستبدادي دولتونو اومطلق العنان حاکمانو حمایت کوي ؛ خبرونه به په داسې طریقې خپرووچې دولتونه او ولسونه دواړه يې قبلولو مه اړ وي ؛ مور به بد کردارو اوبداخلاقو لیکوالانو ، مدیرانو اونمایندکانو ته حوصلې ورکوو او څارنه به يې هم کوو ؛ مور چې دنړۍ کوم تصویر وړاندې کوو نونړیوال باید ټوله نړۍ په همدې تصویر کې وګوري.

دنړۍ په رسنیو چې مخامخ یابالواسطه دیهودو قبضه ده نونه یواځې دا چې دنړۍ رسنۍ د همدوئ د شومواهدافو د لاسته راوړلو لپاره په ډېر ناوړه ډول کارول کېږي بلکې دیهودانوپه نوم دامات چې تل نوروته په شررسولو کې خپل خیر ویني نو په نړیواله سطحه اوس له رسنیوډېر لوی شرخپرېږي اوبله داچې دیهودوچې کوم فکرو هغه فکر اوس ټول لویدیځ ته منتقل شویدی؛ لویدیځ چې په سر کې يې امریکا ده پر ټولې نړۍ خپله بادارې ؛ د ټولې نړۍ په وسایلو خپله قبضه ؛او د نورې ټولې نړۍ خلک خپل ذهني غلامان کول غواړي چې بدبختانه دې ټولو هیلو ته د رسېدو یواځینۍ لار دوئ پر نړۍ د خپل غربي کلتور مسلط کول ګڼي او د دې لارې یواځنۍ خنډ حقیقي اسلام ؛ ریښتوني مسلمانان؛ په نړۍ کې د اسلام سریع اشاعت ؛داسلامي فکروده ؛ اسلامي تهذیب و تمدن ؛ اسلامي ټولنیز نظام او اسلامي حاکمیت بولي نو ځکه يې چې د دې ټولو پر ضد پراخه عسکري جنګ پیل کړی نوترڅنګ يې د رسنیو په وساطت ډېر وسیع او خطرناک تبلیغاتي جنګ هم روان ساتلی دی ؛ دغه تاړاکګر دپر مخ تللې او عصرې ټیکنالوژۍ پر مټ زمور سیمې او هېوادونه قبضه کوي خو د رسنیو د تبلیغاتو له لارې مود خلکو د زړونو ، تمدن ، تهذیب ، قومي اقدارو او کلتور د مسخ کولو هڅې کوي ، او د همدې رسنیو د

زهرجنو تبليغاتو له لارې مود نوو نسلونو د ذهنونو او د دماغو د مفلوج کولو او په فکري لحاظ يې د غلام جوړولو کوششونه کوي ، ځکه چې رسنۍ د مافی الضمیرد اظهارنه بلکې د رسنیو د مافی الضمیر سره د خلکو د ذهنونو او فکرونو د برابرولو یواځنی کامیابه او مؤثره وسیله ده ؛ د اسلام او مسلمانانو پر ضد داعلان شوی صلیبي جنګ په لړ کې چې امریکا او متحدین يې په هر اسلامي هېواد یرغل کوي لومړی يې پر ضد دومره منفي تبلیغات وکړي چې کله پرې فوځي یرغل کېږي نو دا یرغل هر څوک پر ځای عمل بولي او په بهر نړۍ کې یو هېواد یا ولس دا ناروا مسلط شوی جنګ نه ګڼي .

مورِ بیا وینوچې دیرغل پرمهال امریکا او نورلویدیځ د کمزورو او مظلومو انسانانو پر ضد ډېر بې دریغه طاقت کاروي ؛ د خطرناکو وسلو پرمت عامه وژنې کوي ؛ عام المنفعه تاسیسات له منځه وړي ؛ابادۍ کورونه په کندوالو بدلوي ؛ ګڼ شمېر بې ګناه انسانان د زندانونو د تورو تمبو شاته غورځوي خو دنړیوالو رسنیو کمال دی چې سره ددې ستر ظلم او وحشت دا ظالمان سپین بازان وي او دا مظلوم ، مقهور او مجبوره وګړي ظالمان جابران او تروریستان ګڼلی شي .

د ۱۱ ستمبر نه پس لویدیځ د رسنیو مؤثر کولو او تقویه کولو ته ډېره زیاته توجه کړیده او پدې لار کې زښت زیات مصارف کوي ؛ د وسله وال جنګ تر څنګ تبلیغاتي جنګ هم اوس مستقله بڼه غوره کړیده او دایقیني خبره ده چې یرغلګرو دمسلمانانوسره په روانې مقابلې کې د وسله وال جنګ بریا لیتوب او شکست دهمدې مطبوعاتي جنګ دبریالیتوب او شکست سره تړلی دی ، ځکه چې جنګونه یواځې په زیاتو پیسو ،ډېرو وسلو او وسایلو نه ګټل کېږي بلکه جنګونه اصلاً د ولسونو او جنګیالو په لوړ مورال ،نه ستړی کېدونکې حوصلې او دینی احساس ګټل کېږي ، او ګټل يې هغه مهال لا پسې یقیني کېږي کله چې مقابل لوري مورال وبایلي ځکه خوپه غربي رسنیو کې شپه او ورځ ددې لپاره تبلیغات روان دي چې د مسلمانانو حوصلې ماتې شي ، مورال يې وغورځېږي په هر ډګر کې ماتې ومني او بر عکس غربي ولسونه او جنګیالي مورال ونه بایلي ، حوصلې يې ماتی نه شي او ژرماتې خوړلو ته تیار نه شي ؛ دایې بیله خبره ده چې پدې هڅو کې دوئ ته هغه بریالیتوب نه ورپه برخه کېږي دکوم چې تمه کوي او سره ددې زهر جنو تبلیغاتو ، د کامیابۍ د سترو دعوو او مسلمانانو ته د ماتې ورکولو د لویولاپو هم د مسلمانو شازلو مورال د هندوکش له غره نه لوړ او د غرب د ولسونو او جنګیالو مورال د ټیټوالي په هغه حدودو کې دی چې شاید لاندی به تري بله مرتبه نه وی .

مورِ باید داهم ومنوچې په نړیوالورسنیووکې چې داسلام اومسلمانانو پرضد کوم زهرجن تبلیغات روان دي له امله يې داسلام او مسلمانانو دلورو اخلاقو ، مثبت سیاست ، تولنیزو مثبتو انقلابي بدلونونو، بشري همدردیو، تهذیب ، ثقافت ، تمدن او صالحه افکارونه

نه يواځې دا چې نړۍ بې خبره او محرومه پاتې ده بلکې د نړيوالو افکار داسلام اومسلمانانوپه اړه بيخي د حقيقت معکوس ګرځېدلي دي نو ځکه د مسلمانانو د خپلو رسنيو سره دا هيلې ترڅ کېدای شي چې د اسلامي عالي اخلاقو ، سياسي ، تهذيبي او ثقافتي اقدارو او خوبيا نو سم اشاعت او نګراني به وکړی شي چې د اسلام اومسلمانانوپر ضد د تبليغاتو غاښ ماتونکی جواب وګرځي .

داهم بايد له ياده ونه باسوچې نړيوالې رسنۍ يواځې په کفري نړۍ کې داسلام اومسلمانانو دبدنامولو اوداسلام داشاعت دمخنيوي لپاره نه کارول کېږي بلکې زمور په اسلامي نړۍ کې دمسلمانانوپه تولنيز ژوندهم اوس د مطبوعاتو اغېزې ډېری جوړې دي ، په اسلامي نړۍ کې د فحاشۍ په خپرولو او د اسلام د عملي ، فکري ، تهذيبي او لوړ اخلاقي تشخص نه د مسلمانو ځوانانو د لری کولو لپاره غربې ميډيا شپه او ورځ پر ځان يوه کړيده ؛ چې ددې دجالي پروګرامونو مخه هم يواځې د مسلمانانو خپلې رسنۍ نيولی شي .

د نړۍ په مختلفو برخو کې د کفارو ياد هغوئ د لاسپوڅو ديکتاتورانو له لورې پر مسلمانانو ډېر ستر ظلمونه او وحشتو نه روان دي خو نړيوالې رسنۍ ددې مظلومو مسلمانانو په حالت سترګې پټوي او د ظلم او وحشت کوم خبر او حالت چې نشي پټېدای هغه د يو عام خبر په صورت کې وړاندې او پر حقيقي صورت يې پردې را اچوي نو په داسې حالت کې د مسلمانانو په لاس کې د خپلو داسې رسنيو اړتيا ده چې لږ تر لږه ددې مظلومو مسلمانانو دمظلوميت غږپورته؛ داصل حالت نه يې نړۍ خبره او د ظالمانو حقيقي وحشي خبره نړۍ ته ښکاره کړي.

د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو او د هغوئ د فکري غلامانو له لورې پر رسنيو اوسنۍ قبضې باندې يواځې غم او افسوس ښکاره کول او ډګر اغيارو ته پرېښودل د مسئلې حل ندی بلکې پدې حساس وخت کې ددې خبرې ډېره زياته اړتيا ليدل کېږي چې ذی استعداد ټول مسلمانان درد او قبول خود ساخته معيارونو ته شا کړي ؛ مادي ګټې ، عزت او شهرت له نظرونو وغورځوي او((قطره قطره بهم شود دريا)) په اصولو د عمل له لارې ښه په اخلاص د مقابلې ډګر ته راڅوځي اوژرډلويديځ ددې سيلاب مخه ونيسي .

زمورهر دقلم څښتن بايد دې حقيقت ته متوجې اوسي چې پدې دين کې د ابلاغ ډېر لوی ارزښت دی ، اسلام د حق او صداقت خپراوی او د باطل مقابله او خلک ورنه خبرول د هر مسلمان مسئوليت ګڼي ؛ داسلام بنسټيز هدف چې د کلمة الله اعلاء ده ، دا دوه جزونه لري يو احقاقِ حق اوبل ابطالِ باطل ؛ اسلام چې ددې دواړو حکم کوي نو ورسره ضمناً پدې دواړو ډکرونو کې د مؤثرو او کامیابو وسايلو د کارولو حکم هم کوي چې طبعا مؤثره او کامیابه وسيله رسنۍ دي .

داخبره هم ډېره دتوجو ور ده چې په اسلامي نړۍ کې تش په نامه ګڼ داسې پوهان شته چې

نه یواځې دا چې نړۍ بې خبره او محرومه پاتې ده بلکې د نړیوالو افکار داسلام اومسلمانانوپه اړه بیخي د حقیقت معکوس ګرځېدلي دي نو ځکه د مسلمانانو د خپلو رسنیو سره دا هیلې ترڅ کېدای شي چې د اسلامي عالي اخلاقو ، سیاسي ، تهذیبي او ثقافتي اقدارو او خوبیا نو سم اشاعت او نګراني به وکړی شي چې د اسلام اومسلمانانوپر ضد د تبلیغاتو غابښ ماتونکی جواب وګرځي .

داهم باید له یاده ونه باسوچې نړیوالې رسنۍ یواځې په کفري نړۍ کې داسلام اومسلمانانو دبدنامولو اوداسلام داشاعت دمخنیوي لپاره نه کارول کېږي بلکې زمور په اسلامي نړۍ کې دمسلمانانوپه ټولنیز ژوند هم اوس د مطبوعاتو اغېزې ډېری جوړې دي ، په اسلامي نړۍ کې د فحاشۍ په خپرولو او د اسلام د عملي ، فکري ، تهذیبي او لوړ اخلاقي تشخص نه د مسلمانو ځوانانو د لرې کولو لپاره غربي میډیا شپه او ورځ پر ځان یوه کړیده ؛ چې ددې دجالي پروګرامونو مخه هم یواځې د مسلمانانو خپلې رسنۍ نیولې شي .

د نړۍ په مختلفو برخو کې د کفارو یاد هغوئ د لاسپوڅو دیکتاتورانو له لورې پر مسلمانانو ډېر ستر ظلمونه او وحشتو نه روان دي خو نړیوالې رسنۍ ددې مظلومو مسلمانانو په حالت سترګې پټوي او د ظلم او وحشت کوم خبر او حالت چې نشي پټېدای هغه د یو عام خبر په صورت کې وړاندې او پر حقیقي صورت یې پردې را اچوي نو په داسې حالت کې د مسلمانانو په لاس کې د خپلو داسې رسنیو اړتیا ده چې لږ تر لږه ددې مظلومو مسلمانانو دمظلومیت غږپورته؛ داصل حالت نه یې نړۍ خبره او د ظالمانو حقیقي وحشي ځېره نړۍ ته ښکاره کړي.

د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو او د هغوئ د فکري غلامانو له لورې پر رسنیو اوسنۍ قبضې باندې یواځې غم او افسوس ښکاره کول او ډګر اغیارو ته پرېښودل د مسئلې حل ندی بلکې پدې حساس وخت کې ددې خبرې ډېره زیاته اړتیا لیدل کېږي چې ډی استعداد ټول مسلمانان درد او قبول خود ساخته معیارونو ته شا کړي ؛ مادي ګټې ، عزت او شهرت له نظرونو وغورځوي او((قطره قطره بهم شود دریا)) په اصولو د عمل له لارې ښه په اخلاص د مقابلې ډګر ته راوڅوځي اوژردلویدیځ ددې سیلاب مخه ونیسي .

زمورهر دقلم څښتن باید دې حقیقت ته متوجې اوسي چې پدې دین کې د ابلاغ ډېر لوی ارزښت دی ، اسلام د حق او صداقت خپراوی او د باطل مقابله او خلک ورنه خبرول د هر مسلمان مسئولیت ګڼي ؛ داسلام بنسټېز هدف چې د کلمة الله اعلاء ده ، دا دوه جزونه لري یو احقاقِ حق اوبل ابطالِ باطل ؛ اسلام چې ددې دواړو حکم کوي نو ورسره ضمناً پدې دواړو ډکرونو کې د مؤثرو او کامیابو وسایلو د کارولو حکم هم کوي چې طبعا مؤثره او کامیابه وسیله رسنۍ دي .

داخبره هم ډېره دتوجو ور ده چې په اسلامي نړۍ کې تش په نامه ګڼ داسې یوهان شته چې

دمادیاتوپه بدل کې داغیارو د لاس آله ګرځیدلي دي اود خپلو لیکنو ، مرکو او د رسنیو د نورو پروګرامونو له لارې د اسلام د اصل روح د مسخ کولو او د عامو ساده مسلمانانو د یې لارې کولو کوششونه کوي چې د دوئ مقابله یواځې د شریعت د اصل روح او مزاج نه خبر هغه زیرک دیني عالمان کولی شي چې د دښمن شومو پلانونو ته متوجې وي او په رسنیو کې په ځای پیداکولواو مقام جوړولو توانیدلي وي ؛ نودامامت دعالي دندې اود تدریس دسترخدمت ترڅنګ دمطبوعاتو پدې ډګرکې خدمت کول هم ډېر اړین اوددې وخت لویه غوښتنه ده چې باید علماء دې غوښتنې ته مثبت ځواب ووایې او خپل مسئولیت ادا کړي .

داسمه ده چې اوس مسلمانان پدې ډګر کې ډېر وروسته پاتې دي ؛ لایې ډېر اوږد سفر پر مخ دی او ډېر زیات کوښښونه ورپه غاړه دي خو ددې ترڅنګ دخوښۍ خبره داده چې هوښیارو ، دردمنو او زیرکو مسلمانوځوانانو د مطبوعاتو د اهمیت په درک کولو اوس دې ډګر ته رادانګلي دي چې دا ډېر لوی غنیمت دی ؛ ډېره ګټه یې کړیده چې دښمن یې هم ورخطا کړیدي ، او د امریکا په نوم هغه سترفرعون چې دنړۍ په ټولو رسنیو یې قبضه ده داسلامي امارت د محدودو خو د حق او صداقت د علمبردارو رسنیو په مقابل کې د خپل شکست اعتراف کولو ته اړ شوی .

د مسلمانانو خپل دا اخبارونه، دیني رسالې ، جرائد ، مجلې ویب پانې اوایف ایم کوچنۍ رادیوګانې به انشاء الله د باران هغه ډوبی قطره شي چې له ځان سره یې د رحمت داوږد باران زېری راوړي وي ، درحمت دا باران به بیا الله ددښمن لپاره په داسی زحمت بدل کړي چې ټولې هیلې او شوم پلانونه به یې دخاوروسره خاوري کړي .

خو موږ باید داخبره له یاده ونه باسو چې زموږدسنئ به د همدې عالي اهدافو او مقاصدو لپاره کارول کېږي چې اسلامي اصول، مبادي اواخلاق به پکې هیڅکله له پامه نه غورځول کېږي ؛اسلام درواغجن ، فاحش، ښکنځلمار، باطل پرست ،دحقایقوخلاف ، اشخاصو، ولسونو، اومذهبونو ته سپکاوي کونکي مطبوعات رد وي او هیڅکله خپلو متبعینو ته دا اجازه نه ورکوي چې د دروغجنو او زهرجنو تبلیغاتو له لارې خپلو اهدافو ته د رسېدلو هڅې وکړي ؛ موږ چې د وروستي حق اسمانی دین پیروان یواو ددې دین لارښونو ته پوره ژمنتیا د ټولو بریالیتوبونو سرچینه ګڼو نو قدم په قدم په ټولو چاروکې دروا اوناروا تر منځ تمیز ډېر ضروري ګڼو او خپلو اهدافو ته د رسېدلو لپاره د ټولو هغو وسایلو په کار اچول روا نه ګڼو کوم چې زموږ پر ضد دښمن په کاراچوی اوعملاً ترې اجتناب خپله فریضه ګڼوخوچې دحرامو ارتکاب مو نه وي کړی ددښمن پرضد ددښمن خپله وسله کارول نهیواځی رواعمل بلکې لو کمال یې ګڼو چې لله الحمد ځوانان مو اوس دهمدې مبتود نه کار اخلي اوښه په بریالیتوب یې مخ په وړاندي بیایې .

راهکارهای تقویت امور جهاد فرهنگي

ابوصهیب حقانی هراتی

قبل از هر چیز باید این موضوع را بدانیم که تهاجم غرب به سرکردگی امریکا در سرزمین ما (افغانستان) تنها تهاجم نظامی نبوده است؛ گرچه تبلیغات هجوم نظامی و نوع این تهاجم در دنیای رسانه و مطبوعات خبرساز تاز و مهم تر جلوه داده شده و می شود؛ اما باید به یقین بدانیم که تهاجم فکری و فرهنگی دشمنان قسم خوردهٔ مسلمانان در جریان سیزده سال گذشته به مراتب خطرناک تر، زیان بار تر و مهلک تر بوده که متاسفانه تا هم اکنون این تهاجم فکری و فرهنگی به شدت جریان دارد؛ و دشمنان دین مبین اسلام اگر از یک طرف در تقویت نهادها وسازمان های نظامی شان تلاش و کوشش نموده اند از سوی دیگر در بخش ارتزاق فرهنگ منحط غرب به اسم دیموکراسی پوچ و بی اساس، سخت در تلاش بوده و هستند تا ضمن استحکامات نظامی، پایه های فرهنگی خویش را نیز علیه ملت مومن و با غیرت افغان، تقویت نمایند.

بر این اساس این یک فرض مهم احساس می شد که مجاهدین امارت اسلامی همانگونه که لله الحمد سنگرهای داغ جهادی در میادین نظامی را بسیار فعال نگاه داشته و در عرصه های نظامی در بسیاری از معرکه ها حماسه های بی نظیر تاریخی را خلق نمودند و پوزهٔ استکبار جهانی را با وجود آنکه از نظر تجهیزات نظامی صاحب امکانات بیشتری بودند به خاک ذلت مالیده و آنها را محکوم به شکست حتمی نمودند؛ می طلبید که به همان قِسم و بلکه بیشتر باید به قسمت تهاجم فکری و فرهنگی دشمنان نیز توجه نموده و از استعدادهای خدادای و انسان های مسلکی، مجرب، دین دوست، آگاه و با استدلال نیز استفاده کرده و جبهات فکری و فرهنگی را همانند جبهات نظامی در مقابل هجمات سنگین و بعضا متفاوت و متنوع دشمنان گرم و محفوظ نگاه می داشتند و در این قِسمت تمام تلاش خود را به کار بسته و بسیار اساسی و بنیادی عمل می نمودند، که لله

الحمد به فضل و مرحمت الله متعال، و اخلاص و درایت بزرگان جهاد مقدس فعلی علیه قوای اشغالگر، در امور جهاد فرهنگی نیز کارهایی درخشان در عرصه های مختلف انجام گرفته است که الحق و الانصاف با وجود محدودیت ها و مشکلات تخنیکی و حالت انقلابی و جهادی، خدا را صد هزار مرتبه شکر که در این جبهات فکری و فرهنگی نیز فرزندان مخلصِ وطن، قلم به دستان و نخبگان فهیم کشور گرد هم جمع آمده و آنچه در توان داشتند از خدمت و فداکاری در این عرصه دریغ نورزیدند و بدون اِغراق دوشادوش فداکارهای مجاهدین در عرصهٔ نظامی پیش رفتند و با استدلال قوی، اصول کاری، منطق مجیب، دانش ژرف، عقل سلیم و اخلاص ایمانی شان، بسی پلان های شوم و بسیار خطرناک فکری و فرهنگی دشمنان را خنثی نموده و نقشه های شیطانی غربی ها و غلامان حلقه به گوش آنها را نقشه بر آب نمودند.

اما در این باره، همانگونه که دشمنان دست از تلاش شوم خود برنداشته و برنمی دارند و حتی بر شدت فعالیت های شان نیز افزوده اند و هر روز تبلیغ فرهنگ و عنعنات غربی خود را رنگ و لعابی تازه داده و در قالب های جدید و جذاب تری وارد زندگی افغان ها می نمایند بر مجاهدین غیور نیز فرض عین است که جهاد فرهنگی خلاف دشمنان دین را بیش از پیش مورد توجه و عنایت خویش قرار داده و با استفاده از راهکارهای مفید و مناسب، پلان های دقیق و مفیدتری را طرح کرده و به اجراء بگذارند و راهای نفوذ و رسوخ دشمنان را با راهکارهای مناسب و مستدل، مسدود نمایند و ان شاء الله که دشمنان در امور تهاجم فرهنگی نتوانند به جز افراد خاص و فریب خوردهٔ خود بالای قاطبهٔ ملت مومن و مسلمان افغان تسلط پیدا کرده و خدای نخواسته فرزندان رشید و جوانان غیور وطن را به بیراهه بکشانند؛ هر چند که آرزوی دشمنان اینگونه است؛ اما به فضل و یاری الله جل جلاله و توجه خاص مسئولین جهادی امارت اسلامی و تلاش شبانه روزی و خستگی ناپذیر مجاهدین متعهد و قلم به دستان مخلص، دشمنان این آرزوی شوم خود را هم به گور خواهند برد ان شاء الله.

بعضی راهکارهای که برای تقویت امور جهاد فرهنگی ضرورت می باشند قرار ذیل است:

الف) درک کامل اهمیت موضوع جهاد فرهنگی و واقف شدن بر ضرورت تقویت سنگرهای فکری و فرهنگی مجاهدین.

این یک مسئلهٔ پذیرفته شده است که هر چه قدر اهمیت یک موضوع درک، و برای یافتن تقویت آن، ایجاد انگیزه شود به همان مقدار،

اسباب رشد و تعالی آن موضوع فراهم می شود.

ب) شناخت اساسی و مطالعهٔ دقیق در باره تهاجم فرهنگی دشمنان.

با مطالعهٔ دقیق و اساسی در بارهٔ جنگ های فکری و فرهنگی دشمن در ادوار تاریخ و همچنین شناخت کافی از نوع تهاجم دشمن، بهتر می توان راهای مقابله با آن را یافت و مناسب به تهاجم دشمن عرض اندام نمود.

ج) فراهم شدن و تسهیل بیشتر اسباب مبارزه جهاد فرهنگی.

با فراهم شدن و تسهیل بیشتر اسباب مبارزه، قدرت جنگیدن در جبهات فکری و فرهنگی از دشمن گرفته می شود و یا حداقل از سرعت و نوع حملات مختلف آن کاسته شده و فرصت جبران بهتر حاصل می گردد.

د) گزینش و انتخاب افراد آگاه، علمای دلسوز، جوانان فهیم و جذب دانشمندان و مفکران متعهد و مسلمان.

بدون شک نیروی انسانی ضرورت یک تشکیلات مهم مبارزاتی می باشد و هر چه قدر که افراد متصف با صفات یاد شده دور همدیگر جمع شوند؛ یقنیا فرصتهای زیادی از دشمن سلب می شود و زمان شکست دشمن را کوتاه تر کرده و آن را با نابودی نهایی قرین می سازد.

هـ) تدویر جلسات و تشکیل سمینارهای کوتاه زمان و مشوره گرفتن از

اصحاب اهل نظر و جلب همکاری از آگاهان امور و دلسوزان آیندهٔ وطن و حافظان تمدن اسلامی؛ البته با در نظر داشت شرایط زمانی و امکانات موجود.

تشکیل اینگونه جلسات در جهت تبادلهٔ آراء و اندیشه ها نتایج بسیار خوب و مثبتی در پی خواهند داشت و حتی در مواردی قدرت تصمیم گیری و پلان کشی را از دشمن سلب کرده، و همچنین آگاهی بیشتر، اسباب مراقبت سالم تر و حفظ بهتر از کیان مقدس فرهنگ اسلامی را فراهم می آورد.

و) شناخت سلاح متنوع دشمن در تهاجم فرهنگی و شناخت اهداف کلی و جزئی دشمن در تهاجم فرهنگی و همچنین اولویت ها و اولیت های دشمن در این عرصه.

از آنجایی که دشمن در طول تاریخ بخاطر ترویج و تبلیغ فرهنگ پوچ و بی اساس خود در رنگ های مختلف و اسم ها و عناوین گوناگون عرض اندام کرده و می کند و کوشیده است که ابتداء بطوری ناشناخته در جوامع اسلامی جای بگیرد و سلاح دست داشتهٔ خود در امر تهاجم فکری و فرهنگی را به سرعت تغییر و تبدیل داده و می دهد پس مناسب است که فرزندان اسلام در امور فعالیت های فرهنگی با نوع سلاح و اهداف برجسته و قابل تغییر دشمن، آشنایی کامل و لازم را داشته باشند تا بتوانند دقیق تر مواضع دشمن را هدف حمله قرار بدهند.

ز) حضور فعال و فراگیر در تمام شبکه های اجتماعی و تجهیزات رسانه ای و ایجاد فرصت های مناسب برای جلب و جذب دوست داران وطن و مسلمانان غمخور دین و آینده.

هر اندازه که حضور و فعالیت های مجاهدین در شبکه های اجتماعی فعال تر و پر رنگ تر باشد به همان میزان به دشمن ایجاد ترس و دلهره پیدا شده و جلوی نفوذ و فعالیت های شوم و گستردهٔ آن منحصر و گرفته می شود و همچنین چانس شناخت و سطح آگاهی عموم ملت از مجاهدین و از مجاهدین برای عموم ملت بیش از پیش افزایش یافته و فراهم می گردد.

به امید بیداری و هوشیاری همه جانبه ملت شریف افغانستان از تمام هَجَمات دشمنان.

دمسلمان ژورنالست ځانګړنې !

(مفتي ابوماريه)

حامدا ومصليا وبعد:

ځرنګه چې نړۍ دغربي ښکېلاک تراغېزي لاندې ده ، نومناسب ده چې په موضوع کې همدغه اړخ دتقابل په ډول په نظر کې ونيسو.

غربي فکر اودهغوئ مقلدين دژورنالست مقاصد داګڼي : چې خلکو ته معلومات پيداکړي ، دهغوئ ذهني خوځښت ته وده ورکړي، هغوئ ته دراتلونکي په اړه لارښوونه وکړي . اوداسې نور...

داخبره دماهيت په لحاظ دژورنالست په مفهوم کې داخله ده ،اوترډيره ځايه دغه خبره سمه هم ده ، مګر دايواځې اوس ترتعبير پوري پاته ده اوعملي بڼه يې ددوئ دميراثي عادت له مخې تحريف شوي،ځکه چې په غرب اوکفري نړۍ کې دورانديني ذکرشويو مقاصدوپه ځای اوس ژورنالست دوه نورستر مسئوليتونه لري ، چې يوې کورنۍ اوبل يې باندينۍ دی ، داخلي مسئوليت يې دادی :چې دخپل قوم دلارښوونې ،پرمختګ ،يووالي ، روزنې اونورو..... ته کاروکړي ، اودوهم مسئوليت يې دادی : چې دنړۍ خلکوته دغرب اوډيموکراسۍ فکر اوتهذيب ورکړي ، اوداسلام په وړاندې [چې غربيان يې دخپل فکر اوديموکراسي په وړاندې خنډ ګڼي] دتبليغاتي جګړې لپاره هرډول مبارزه په مخ بوځي ،خلکو باندې ذهني فشارونه وارد کړي ،چې ورسره دمخالف فکر اوعقيدې مخه ډب کړي ،دهغوئ حوصلې ماتې کړي ، اوپه خپل مينځ وکې يې دشخړو اواختلافاتو ښکار کړي . لنډه داچې هغوئ په ځانګړي ډول يوه سخته جګړه په مخ بيايي ، تردې چې که وغواړي نو فرد اوټولنې ته هرډول رنګ ورکولای شي . يوسخت ظالم اوجابر ، په مظلوم اومظلوم په ظالم تعبيرولای شي ، دبيلګې په ډول : اسرائيل چې خباثت اوظلم يې

دلمر په څېر روښانه دی دوئ يې څه ډول دتمدن اوعدل سمبول ګڼي، بل جانب ته مظلوم فلسطنيان جابرين غاصبين اوانسان وژونکي ګڼي ، عين همدغه حالت په افغانستان کې دی چې دوطن اصلي بچي اودفاع کونکي تروريستا ن اودانسان دښمنان و ګڼل شول اوراغلي يرغلګر بيا بشردوستان اودسولي مرغان ګڼل کيږي . اودهمدغه مقصدلپاره يرغلګرو په افغانستان اوبهر کې څومره رسنۍ [ويب پاڼې ، تلويزونونه ، راديوګاني ،اخبارونه اونور...] اومزدوران په دغه کار وګومارل .

له دې وړاندينې لنډ بحث څخه تاسوته دکفري اوغربي نړۍ دژورنالیست محرفه بڼه اودهغه ټول ذميم اوصاف اوناوړه څيره ښکاره شوه ، اوس به داسلام په سپيڅلي دين کې دژورنالست هدف ،کړنلاره اودهغه ځانګړتياوي درته په لنډ ډول وښيو .

په اسلام کې دژورنالست هدف دادی : چې دپيښو ، واقعاتو او خبرونو داسې تشريح وکړي چې ټولنه دخيراوصداقت لوری ته بوځي ، اوهغه دبشريت دهوسايې ،سوکالي اوتمدن لپاره خپل هيڅ زيار ونه سپموي . دمسلمان ژورنالیست ترټولو لويه ځانګړتيا داده : چې هغه دکفري نړۍ په څېر دباطل ،ظلم ،جبر اوتحريف کړنلاره نه لري ،بلکه هغه ديوه بل سوچه مسلمان په څېر په عقيدوي اوعملي ډول داسلام داصولو اوقوانينو پابند دی ، هغه په ټولنه کې ديوه سپيڅلي معلم ، داعي ،مبلغ ،مجاهد ، مصلح او.... په ډول دخلکوپه زړونو کې ځای لري . هغه امور چې مسلمان ژورنالیست دغه مقام ته رسوي ،يادهغه ځانګړني دي ياهغه پري مکلف دی په لاندي ډول دي :

۱= دنيت خلوص : ځرنګه چې مسلمان ژورنالیست دحق دلاري يوسپيڅلی مبارز دی ، اوهغه په دغه لاره کې ډيري ستغ اوکړليچونه په مخ کې لري نوښکاره ده چې هغه به دغه کړاوونه دنفس دخواهشاتو ، ثمن قليل يادنورو دستاينو په موخه سرته نه رسوي بلکه هغه به داټولي ستونزي يواځې دخپل رب څخه داجر اوثواب په تمه وي . او دژوندپه ټولو ابعادو کې به يې نيت دالله ج رضاء اودهغه څخه دبدلي په اړه وي . وما امروا الاليعبدوالله مخلصين له الدين . الاية اودوئ په دي ماموردي چې يواځې دالله تعالی لپاره به عبادت کوي اوخپل ټول اعمال به خالص دده لپاره کوي .

اوپه حديث شريف کې راغلي : انمالاعمال بالنيات وانمالکل امر مانوی الحديث په اعمالو سره دثواب موندلو مدار په نيتونو بناء دی .

۲= دشهرت اورياء کاري څخه ډډه :يعني مسلمان ژورنالست چې څه خپروي هغه به دټولني دخير اوښېګڼې لپاره وي ، شهرت اونوم پيداکول به يې مطلب نه وي ، ځکه دادقلم

جهادګنل کیږي ، اوپه جهاد کې سمعة ، شهرت اورياء ممنوع دي ،اوله اجراوثواب څخه يې محروم کيږي ، کمافي الحديث : عَامِلُ رِيَاءٍ لَيْسَ لَهُ ثَوَابٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا الْوَيْلُ .رياء کار به درياء په عمل نه په دنيا اونه په آخرة کې څه ثواب ترلاسه کړي ، بلکه هغه ته به عذاب ورکول کيږي .

۳= حقائق ښکاره کول : په قرآن کريم کې په ښکاره ډول فرمان دی : ولاتکتموا الشهادة الاية يعني څه چې موولیدل بيان يې کړئ اومه يې پټوئ .

۴= دپيښې اوخبرعدم تحريف . په دي هلکه په قرآن کريم کې راغلي : ولاتلبسوالحق بالباطل وتکتموالحق .. الآية يعني باطل ته به دحق جامه نه ورپه غاړه کوئ ، اونه به حق دباطل په بڼه اړوئ .

۵= عدل اوانصاف ته وده . لکه الله تعالی چې فرمايې : ياايهاالذين آمنو کونو قوامين بالقسط الآية . يعني دظالم اومظلوم تويير ، دبربريت اوجبر مخنيوی ،دعدل ټينګښت او انصاف ته وده ديوه مسلمان په ډول دژورنالست مسير ګرزي .

۶= دملاتړ اومخالفت څخه استغنا : کله چې دمسلمان ژورنالست کردار ديوه لوی جهادپه څېر عمل ګنل کيږي ، نوجهاد دالله تعالی درضاءلپاره سرته رسيږي ، يعني دچادخوښې يانا خوښې ملاتړ او مخالفت ملامتي او ستاينې پورې اړه نه لري . لکه په حديث کې چې راغلي : يجاهدون في سبيل الله ولايخافون لومة لائم . البته مصالح په نظر کې نيول کيږي .

۷= دحق مرسته : مسلمان ژورنالست به تل په ټولنه کې دحق مرسته کوي ، چې مسلمان په عقيدوي ډول هم په دغه عمل مکلف دی . الله تعالی فرمايې : تعاونوا علی البر والتقوی ، دنيکي اوتقوی په کارونوکې به له يوه بل سره مرسته کوئ .

۸= په حق سودا نه کول : مسلمان ژورنالست به په خپل ايمان ټينګ ديوه مجاهدپه څېر دايمان څخه دفاع کونکی ، اودحق لورته بلونکی وي ،هغه دالله [جل جلاله] له لوري مکلف دی : ولاتشتروا بعهدالله ثمنا قليلا . الآية دالله تعالی سره په کړو وعدو به سوداء نه کوئ .

۹= بلاغ المبين : مسلمان ژورنالست ديوه داعي په څېر ټولنې ته په بلاغ المبين هم مکلف دی ، يعني ټولنې ته به په ښه واضح اوښکاره ډول سره دحق خبره اوپيغام رسوي ،وماعلی الرسول الاالبلاغ المبين . په هر رسول باندي په واضح ډول سره دپيغام رسول دي .

۱۰= حکمة اوبصارت :د مسلمان ژورنالست يوه بل امتياز دی ، کله چې

دژورنالست ټولنې ته پيغام رسول کوي اودټولنې خيريې مدالنظر وي ، نوپيغام به يې همدغه رنګ لري ، ادع الى سبيل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة . دالله تعالى لاري ته خلګ په تدبير اوښه پند سره رابوله .

۱۱= دخبرتحقيق : ځرنګه چې مسلمان ژورنالیست دټولنې رښتونی قاصد دی ، نوځکه به ترهغه پورې چې دخبر پوره تحقيق نه وي شوی نوروته به يې نه رسوي ، قال الله تعالى : ان جاء کم فاسق بنباء فتبينوا .....الاية الحجرات ٦ . که يوفاسق خبره درته راوړي نوتحقيق يې کوئ .

۱۲ = دپيغام ... اوخبر کيفيت اوکميت : دمسلمان ژورنالست له ځانګړنو څخه داهم دی چې هغه فيغام ،ليکنه ،خبراونور ... چې دی يې نوروته رسوي په هغه کې به دخلقو خير مطلوب وي اوکه چېرته له هغه څخه دخلقو دمصالحو خلاف ديوي فتنې رامېنځ ته کيدل شونی وي نوبيابه دداسې عمل له نشر اوخپرولوڅخه ډډه کوي .

عن أبي هريرة، أن رسولَ الله – صلَّى الله عليه وسلم – قال: "ستكونُ فِتنةٌ صمَّاءُ بكمْاءُ عَمياءُ، مَنْ أشرَفَ لها استشرفَتْ له، وإشرافُ اللسانِ فيها كوقوع السيفِ" .ابوداود

ژباړه : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ژر به يوه ګونګه ،کنه ، اوړنده فتنه رامېنځ ته شي ،څوک چې وروړاندي شي هغه به ځان ورته رانښکاره کړی ،اودژبې استعمال به دتورې په څېر ګنل کيږی .

۱۳= براثت : دمسلمان ژورنالست له وظائفوڅخه داهم ده چې له هغه اموروڅخه به ځان ساتي چې دکوم مسلمان دحيثيت او شان تحقير په کې کيږي يادهغوئ داعراضو اوصالح کلتورنو سپکاوی ګنل کيږي.

عن أبي هريرة، قال: قال رسولُ الله -صلى الله عليه وسلم-: "كُل المسلمِ على المُسلمِ حرام: مالُهُ، وعِرضُهُ، ودَمُه، حسبُ امرئٍ من الشرِّ أن يحقرِ أخاهُ المُسلم" .ژباړه : دهرمسلمان مال ،حيثيت اووينې په بل مسلمان حرامې دي ،ديوه مسلمان لپاره داشر بس دی چې ديوه بل مسلمان تحقيروکړي .

۱۴= جراثت : يعني ديوي حقي خبرې يارايې نه پوټول ،بلکه دحق په خبره کې جرئت کول هم دمسلمان ژورنالست له اعمالو څخه ده،

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَا يَحْقِرْ أَحَدُكُمْ نَفْسَهُ" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ يَحْقِرُ أَحَدُنَا نَفْسَهُ؟ قَالَ: "يَرَى أَمْرًا، لِلهِ عَلَيْهِ فِيهِ مَقَالٌ، ثُمَّ لَا يَقُولُ فِيهِ، فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تَقُولَ فِي كَذَا وَكَذَا؟ فَيَقُولُ: خَشْيَةُ النَّاسِ، فَيَقُولُ: فَإِيَّايَ كُنْتَ أَحَقَّ أَنْ تَخْشَى" يودي هم خپل ځان خوار نه ګڼي ،پوښتنه وشوه ،ځرنګه به يوهم ځان خوارنه ګڼو؟ ای دالله

ج رسوله ! هغه ص وويل : يوه خبره به ووينې الله تعالى لپاره به دويلو ځاى وي مګردى هلته څه ونه وايې ،نوالله تعالى به دقيامت په ورځ ورته ووايې : څه وجه وه چې په هغه اوهغه امر کې دي هيڅ نه ويل ؟ دغه بنده به ورته وايې چې دخلګودويري له امله مي څه نشو ويلاى .نوالله تعالى به ورته ووايې : چې ته خوبه په حقه يواځې له ماويريدي .

۱۵-= اصلاح اوعلميت : مسلمان ژورنالست په دې مکلف دى چې له داسې خبر اوليکنې څخه به ډډه کوي چې يوځوک دچاپه خلاف پاروى ، ياغيرانسانى اواسلامي مفکوره چاته ورکړي ،يادډې لپاره کومه لاره په کار واچوي . بلکه دهغه عمل به دقيق ،علمي ، اواصلاحي وي . قال الله تعالى كنتم خيرامة اخرجت للناس تآمرون بالمعروف وتنهون عن المنكر .الآية .تاسو هغه بهترينه ډله ياست چې دخلګو داصلاح لپاره ميدان ته راوتلي ياست ،تاسو به دنيکي ښوونه کوئ اودبدو څخه به خلګ منعه کوئ .

۱۶= دبيان عفت ، همداراز دمسلمان ژورنالست له اعمالو څخه داهم ده چې بيان به يې عفيف وي ،دهرډول فحشاء څخه به پاک وي ، ولاتقربوا الفواحش ماظهر منها ومابطن . الانعام ۱۵۱ ګناهونوته مه ورنږدي کيږئ ؛ ښکاره وي اوکه پټ .

۱۷=حسن ظن : څرنګه چې ديوه مسلمان په څېر ژورنالست دبل مسلمان له غيبت ،تجسس ،اوتوهين څخه په ډډه کولو مکلف دى بلکه ددې برخلاف به به مؤمنانو دحسن الظن ګمان کوي ، ترخپله وسه به دچاپه بدو پرده اچوي ، اوکه اړتياپښېږي نوپه يوه سالم ډول به دهغه په اړه څرګندوني کوي . قال الله تعالى : ياايهاالذين آمنوا اجتنبوا كثيرا من الظن ان بعض الظن اثم . الحجرات ۱۲ .اى مؤمنانو ! له ډيرو ګمانونو ډډه وکړئ ځکه چې ځينې ګمانونه ګناه وي .

کومې تراڼې چې جان کیري په سفارت کې مخکښو کاندیدانو ته ورکړې د هغې شاهین جان کیري له ځان سره وړی، دوی پکې نه پوهیږي چې د کرزي دغه د اولې درجې فاسد نظام څنګه اصلاح او تحول پکې له کوم ځای نه پیل کړي، بلکې همدغه دوه سرې حکومت پکې د ملي وحدت د پاتې نیمګړاندې جذبې د وژلو لپاره کافي توان لري.

د نیم نه زیات افغانستان دا ۱۳کاله د بد امنۍ او جنګ ښکار دی او دلته امریکایي افغانان پکې هغه د نجیب په حد کې مخالفینو ته له تشو خبرو هاخوا هېڅ قیمت نه ورکوي او دوی ملي وحدت د روم او شمال د ګروپونو په منځ کې د حکومت د کلیدي چوکیو تقسیم نه وای، جنوب او شرق که د جګړو په اور کې سوزي د دوی یې څه؟ ځکه د طالبانو سره تفاهم او خبرې د ډالرو ژرندې پځوي او دا هغه خبره ده چې جان کیري یې پخپلو سفرونو کې دغو مشرانو ته د خدای په امانۍ پر مهال په غوږونو کې پټه کوي او دوی ته اجازه نشته چې هغه مخامخ ملت یا نورو ته بربنډه کړي.

یادښت :دپوښتونکې پوښتنه په خپله اصلي بڼه خپریږي ،دمجلې اداره یې په املایي تصحیح کې کوم ډول تصرف نه کوي !

مننه /اداره.

ذبیح الله مجاهد

خوشیې له خپل ولس سره !

مجاهد صاحب سلامونه مني زما پوښتنه دادی چې تاسی او ستاسی ملګری یوازی پر نظامی ځایونو باندی حملی کوی په داسی حال کی چې په کابل کی ۷۵ تلویزونی شبکی موجودی دی چې یوازی فحشا خپرول یې کار دی او خلکو نه یې اسلامی او افغانی کلتور وا خیست په دی هکله ستاسو نظر څه دی ؟ ستانکزی

ځواب ـــ وروره په دې اړه چې ځینې مغرضې کړي او تش په نوم رسنۍ چې دغربي لوڅ فرهنګ او بیګانه افکارو دتعمیم لپاره هڅه اوفعالیت کوي زموږ تردقیقې څارنې لاندې دي ، خو ستونزه په دې نه حل کیږي چې موږ په دغو ځاینو بریدونه وکړو ، کله چې له خیره سره په هیواد کې دیرغل تغر تول شي او اسلامی نظام حاکم شي دغه فتنه به پخپله له منځه ځي او خلکو ته به سالم نشرات وړاندې کیږي چې داسلام مبارک دین او افغاني دروند فرهنګ یې اجازه ورکوي ، پاته شول هغه تلویزیونونه چې دامریکا دسفارت په پیسو چلیږي او دهغو لپاره کار کوي ، لرې نه ده چې هغوی به هم خپلو خلکوته حساب ورکړي او ددغو فحشاوو دخپرولو درنه بیعه به ادا کړي . ان شاءالله

ستاسو دکامیابی په هیله !

زما پوښتنه داده چې تاسې دافغان حکومت سره دخبرو لپاره چمتویاستی ، که وئ ستاسو شرطونه څه دي . والسلام

ځواب ـــ نه ، موږ دکابل اداري سره خبروته چمتو نه یو ځکه هغوي بې واکه دي دتصامیمو او پریکړو صلاحیت او کفایت نه لري ،نو موږ نه غواړو په تشو او بې ګټې خبرو خپل وخت ضایع کړو . مننه

گران مجاهد ورو ښاغلی مجاهد صیب له ښه مرغه ستاسو دقربانیو په پایله کې اوس بهرني ځواکونه دې ته اړشول چې هېواد لکه دروسي ښکلېلاګرو په څېر پرېږدي

نو پوښتنه داده چې دسولې خبرې کول کوم زیان لري نشي کېدای چې سوله وشي ؟ حقمل

ځواب ـــ وعلیکم السلام ! وروسته دهیواد له بشپړې آزادۍ به ممکن ټولې لازمې او اړینې چارې وسنجول شي چې دافغانانو ترمنځ درزونه او اختلافونه په سمه توګه حل او بدبینۍ ګوښه کړل شي ، خو ترڅوچې یرغل باقي وي او یو امریکایي عسکر هم وجود ولري افغانان مستقل نه دي بلکې له هرې خواله ګواښ ، مرګ او زیان سره مخ دي نو ترهغو پورې به له کوم چاسره سوله ګټوره نه وي ځکه زموږ په وړاندې یرغلګر قرار لري او هغو سره داشغال دشتون په صورت کې سوله معنی نلري بیا په خاص ډول هغه سوله چې دوی یې دخپلي خوښي مطابق په مطبعاتو کي وخت په وخت اعلانه وي چي په خارجیانو به کار نه لري ددوی په اصطلاح اساسي قانون به مني اسلحه به ایږدي او داسي نور شرائط چي یوازي دخلکو په ستر ګو کي دخاورو اچول او دمجاهدینو څخه دتسلیمۍ غوښتل دي . مننه

لاندې د یو ورور څو متعددې پوښتنې دي چې ځواب شوې دي :

۱ـ څو ورځې دمخه په راپورونو کې وویل شول چې له کونړ ولایته ټول بهرني ځواکونه ووتل ، وروسته د کونړ ځینې علماوو په یوه غونډه کې وویل چې نور طالبان په کونړ کې د جګړې لپاره دلیل نه لري ، په حقیقت کې هم د تېر په نسبت له تېرو څو ورځو راهیسې له کونړ څخه د زیاتو پېښو راپور نه ورکول کیږي ، (له اتلسم اکتوبر تر اوسه نهو ورځو کې د اوو پېښو راپور ورکول شوی) ایا طالبانو هلته خپل فعالیتونه محدود کړي؟ که نه وي د پېښو د کمښت علت څه دي؟

ځواب: یو خو داشغالګرو په وړاندې لکه څرنګه چې په هر هغه ځای کې جهاد فرض دی ، چې بهرني اشغالګر په کې موجود دي ، همدا ډول په هغو ځایونو کې هم فرض ده چې بهرنیان ترې تښتیدلی خو عین دنده یې کورني مزدور دښمنان اجراکوي ، زموږ جهاد د یو هدف لپاره ده ، او هرڅوک چې د اسلامي نظام په وړاندې خنډ وي ، د اعلای کلمة الله مخه یې نیولي وي چې د جهاد د مشروع کیدو عمده مجوز ده ، که هغه بهرنی اشغالګر وي او که کورنی په ډالرومزدور عسکر ، پولیس او اربکیان ، په وړاندې یې جهاد فرض ده او موږ به دا فریضه له الله تعالی سره د خپلې ژمنې له مخې ادا کوو.

له دې خبرې سره چې د کنړ څخه دې اشغالګر وتلي وي او هلته دې یې په جهادي بهیر اغیز کړی وي زه موافق نه یم ، جهاد او د جهاد

اراده اوس هم د پخوا په شان موجوده ده، خو تاسو پوهیږئ چې د مني او ژمي په رالنډیدو سره د هیواد په سر و سیمو کې موسمي حالاتو ته په کتو زمونږ جګړیز او جهادي تکتیکونه بدلیږي او د تودې هوا غوندې تحرکات له ژمني حالاتو سره موافق حالاتو ته تغیر کوي چې دا تغیر طبعا لږ څه ځنډ او وقفه لري، خو دا موده به ډیره لنډه وي، بیرته به عملیات له نوي ژمني تکتیکونو سره پیل کیږي او تاسو به په لنډه زمانه کې د دې خبرې شاهدان وي. ان شاءالله

۲- که داسې نه وي، د بهرنیانو په نه شتون کې د جګړې لپاره کوم دلیل لرئ؟

ځواب: یو خو د جهاد د جواز او پیل لپاره شرط دادی چې د اعلای کلمة الله او اسلامي نظام د استحکام مخه به نیول شوي وي چې داکار د امریکایانو له راتګ سره سم شوي او لا دوام لري، دوهم دا چې تاسو خبریاست چې له امریکایانو سره اوږد مهالی نظامي تړون لاسلیک شو دا پخپله داخبره ثابتوي چې امریکایان په ټولیزه توګه نه وځي، او د هیواد په هره برخه کې چې بهرني اشغالګر وجود ولري په ټولو هیوادوالو په برابر دول جهاد فرض کیږي او مونږ یې جاري ساتلو ته ژمن یو.

۳- که په هغه سیمو کې چې بهرنیان نه شته، جګړه متوقف شي، دا به د اسلامي امارت لخوا افغان ولس او نړیوالو ته د امن پیغام، او د بهرنیانو د وتلو په صورت کې د افغانستان د ارامۍ ضمانت نه وي؟ تاسې ولې داسې یو اقدام نه کوئ؟

ځواب: مخکې وویل شول چې جهاد د اسلامي نظام د استحکام لپاره جایز کیږي او د همدې هدف د ترلاسه کیدو پورې دوام کوي، د هیواد په ځینو برخو کې چې بهرني اشغالګر تر تبښتې هلته کورني مزدوارن عین د بهرنیو عسکرو ځای نیسي او د هغو کردار اداکوي او هرځوک چې د اسلامي نظام په وړاندې خنډ وي جهاد یې په وړاندې برابر واجب ده.

۴- له هغو ولایتونو چې بهرنیان وتلي، ستاسې د فعالیت ساحه پکې پراخه شوې، یا مو کومه ستره سیمه نیولې؟ که یوه بېلګه یې وښیئ؟

ځواب: دا مسلمه خبره ده چې بهرنیان د افغانستان له هرې نقطې څخه د مجاهدینو دبریدونو او قربانیو په زور وتلي او لا یې تیښته دوام لري، داخبره هم روښانه ده بهرنیان چې له اکثرو سیمو تبښتیدلي هغه ځای د مجاهدینو په تصرف کې لویدلی او هلته د مجاهدینو د پراخ فعالیت لپاره زمینه برابره شوې، هغه سیمې چې د مجاهدینو تر واک لاندې راغلي او یا یې هلته په وړاندې موانع لري شوي دهلمند ولایت په ۷ ولسوالیو کې د مجاهدینو پراخ موجودیت، د کندز و مرکز د ډیرو برخو په ګډون د دشت ارچې او چهاردرې ډیرې برخې چې دښمن پخپله هم اعتراف پرې کړی، د فاریاب قیصار،

د پکتیا د مرکز او زرمت ولسوالۍ پراخې سیمې، د غزني، گیرو، رشیدانو، قرباغ او گیلان ډیرې پراخې برخې، د پکتیکا په ولایت کې د لرې پرتو ولسوالیو په سلو کې نوي سلنه برخې، په بدخشان کې مجاهدینو پراخ موجودیت، د زابل د نوبهار ولسوالۍ فتحه او د مرکز په گډون له ډیرو ځایونو څخه د دښمن تیښته، د لوگر د ازرې، څرخ او خروار ولسوالۍ مطلق اکثریت سیمې، د ننگرهار د خوگیانو، حصارک، بټي کوټ، شیرزادو په سلو کې اویا سلنه برخې، د پروان د سیاگرد او شینوارو ولسوالیو ټوله ولسوالۍ ماسوا د ولسولای د مرکز له دری سوه مترې مربع ځمکې څخه، په جوزجان، سرپل، بادغیس، کاپیسا، نورستان او فراه ولایتونو کې ډیرې لرې پرتې سیمې، د ټولې د بهرنیو له ماتې وروسته د مجاهدینو لپاره د فعالیت په خورا وسیعو سیمو بدلې شوې دي.

۵-د بهرنیانو وتل او د افغان ځواکونو لخوا امنیتي چارې په غاړه اخیستل، د افغان دولت پیاوړتیا نه بولئ؟

ځواب: نه د کابل اداري عسکر او پولیس د بهرنیو په امر مجبوره شوي چې د هغو ورپاتې شویو مراکز کې واړوي، خو هغه مراکز نه تنها ساتل شوي نه دي بلکې دیو محاصره شوې پوستې او قرارگاه حیثیت لري چې مجاهدین پرې چارپیره شوي او له بریدونو او گوابنونو سره مخ دي، ستاسو به یاد وي چې یوه نیمه میاشت مخکې په کندز کې مجاهدینو هغه مرکز له پولیسو څخه ونیو چې د اشغالگرو جرمني ځواکنو مهم مرکز بلل کیده، د زابل په نوبهار کې چې ولسوالۍ او شاخوا نظامي قرارگاوي ونیول شوې په هغو کې د امریکایانو مهمه څاله هم شامله وه چې اوس یې کورنیو مزدورانو ته پریښې وه، همدا راز د هلمند په سنگین او نورو ولسوالیو کې چې مجاهدینو څومره ساحې نیولې او تر واک لاندې یې راوستلې په هغو کې اکثریت مراکز د امریکایانو او برتانویانو مهم نظامي تاسیسات وو، د میدان وردگو د سیداباد په تنگي دره کې د امریکایانو لخوا جوړ شوي مرکز د مجاهدینو په مرکز بدل شو او کورني عسکر ترې وشړل شول، په کنړ کې هم موږ گڼ داسې بیسونه او مراکز لرو چې یو وخت د امریکایانو مهم ځایونه وو بیا داخلیانوته سپارل شوي وو او بیا مجاهدینو فتحه کړې دي.

په دې اساس نو د کورنیو عسکرو د پیاوړتیا تصور سم نه بولم، بلکې هغوی کرها مجبوره شوي چې د امریکایانو تخلیه شوي ځالو ته واستول شي خو دا به وخت لاهم ثابته کړي چې د ساتنې قابلیت او وړتیا یې نه لري او مجاهدین به یې پرلپسې فتحه کوي. ان شاءالله

د مورچل دارالافتاء

مفتي ابوماريه

الاستفتاء

محترم مفتي صاحب ! زموږ په سيمه کې د علماوو،مجاهدينو او مجاهدينو ترمنځ اوس دا رواج جوړ شوی دی، چې کله په جهاد کې کوم مجاهدين شهيدان شي او دهغوی مخ او سر داسې زخمي شوی وي چې د کتلو وړ نه وي، نو بيا خلک دهمدې شهيدانو لوی لوی تصويرونه جوړوي په لاس کې يې نيولي وي او د جنازې په مهال يې خلکو ته ورښيي، دغه راز د شهيدانو ډول ډول تصاوير په چوکاټونو کې بند کړي او دفاتحې په وخت يې په مسجدونو کې لګولي وي، ترڅو فاتحې ته راتلونکي خلک يې ووينې، نو اوس له تاسو محترم نه پوښتنه داده.

۱ - آيا د شهيد تصوير ليدل يو ضروري امر دی؟

۲ - آيا دا افعال شرعا جائز دي او کنه ؟

۳ - که يو څوک ددې افعالو له امله جنازې يا فاتحې ته ورنشي ملامتي ورباندې شته او کنه ؟

۴ - که چيرې د تصويرونو کارول د شهيد ورثه وو لپاره ناروا وي آيا شهيد ته ورباندې عذاب رسيږي او کنه ؟

لوړې څو پوښتنې که دحنفي فقهې په رڼا کې په تفصيلي ډول ځواب کړئ اميد شته چې د ډيرو مسلمانانو د نجات او هدايت سبب به وګرځي.

المستفتي بنده محمدنظير

الجواب حامدا ومصليا وبعد: لمړی بايد داوپېژنو چې دذي الروح دمنقشو تصاويرودعدم جواز په اړه نږدي ټول مفسرين ،محدثين ،فقهاء اوعلماء متفق دي ، البته ځينو فقهاؤ دسختې اړتياله امله په ځينو مواردو کې [لکه دپاسپورټ ،جهاد اونور] دضرورت مطابق دجواز حکم ورکړی دی .

نوڅرنګه چې دنني عصر دغه تصاوير دجمهورو علماوو په نزد حرام دي، نو دداسې حرام عمل مرتکب ګنهګار دی ، په شريعت کې دغسې خلکوته تعزيرورکول کيږي ، اوتوبه ايستل ضروري ده.

په اسلامي شريعت کې يوه حرام عمل ته نږدي ورتلل هم منعه شوي دي ،قال الله تعالي : فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ . . الحج ٣٠ ژباړه : نو خانونه وساتئ له پليتي دبتانو څخه [تصاوير هم دبتانو حکم لري] وقال الله تعالي: وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ. الآية الانعام ١٥١ ژباړه : اوګناهونو ته مه ورنږدي کېږئ .

في البخاري ٤٠٦١٢ باب من لم يدخل بيتا فيه تصاوير : عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا اشْتَرَتْ نُمْرُقَةً فِيهَا تَصَاوِيرُ، فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى البَابِ، فَلَمْ يَدْخُلْهُ، فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الكَرَاهِيَةَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَتُوبُ إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاذَا أَذْنَبْتُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا بَالُ هَذِهِ النُّمْرُقَةِ؟» قُلْتُ: اشْتَرَيْتُهَا لَكَ لِتَقْعُدَ عَلَيْهَا وَتَوَسَّدَهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَصْحَابَ هَذِهِ الصُّوَرِ يَوْمَ القِيَامَةِ يُعَذَّبُونَ، فَيُقَالُ لَهُمْ أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ» وَقَالَ: «إِنَّ البَيْتَ [ص:٦٤] الَّذِي فِيهِ الصُّوَرُ لاَ تَدْخُلُهُ المَلاَئِكَةُ . كذا أخرجه مسلم في اللباس والزينة باب تحريم تصوير صورة الحيوان. . رقم ٢١٠٧

لهذا دشهيد تصوير هم دنورو تصاويرو حکم لري ، دهغه جوړول ، اخستل ،ګرځول ، وړل ، ورته کتل له ګناه څخه خالي نه دي . اوبل داچې ددې دول تصويرونو په کتلوکې هيڅ دول بلکه يوادنى درجه ضرورت هم نشته .

ددوهمې پوښتنې ځواب : توحيد داسلام ددين لړى بنياد دى ، اوشرک ترټولو سترجرم دى ، دغه جرم دبتانو په ذريعه سره سرته رسيدو ،زمونږ جمهورو علماؤ تصويرونه هم دبتانو په حکم کې داخل کړي دي ، نو په الهي اونبوي کلام کې چې څومره دبتانو ،مصورينو اومشرکينو غندنه شوي هغه دتصاويرو جوړونکو ، ګرځونکو ، اواحترام کونکو ته هم ورشامله ده .[البته دسخت ضرورت استثناء دغه حکم نه لري .]

وفي البخاري ٤٠٦١٢ عن عائشةَ رضي الله عنها قالت: لمَّا اشتكى النبيُّ - صلى الله عليه وسلم - ذكَرَتْ بعضُ نسائِه كنيسةً رأَينَها بأرضِ الحبشةِ يقالُ لها ماريَةُ، وكانتْ أُمُّ سلَمَةَ وأُمُّ حَبيبةَ رضي الله عنهما أَتَتا أَرضَ الحبشةِ، فذكَرَتا مِنْ حُسنِها وتصاويرَ فيها، فرفَع رأسَه فقالَ:أولئكَ إذا ماتَ منْهمُ الرجلُ الصالحُ بنَوْا على قبرِه مسجداً ثم صوَّروا فيهِ تلك الصورةَ، (وفي روايةٍ: الصوَرَ) أولئكَ شِرارُ الخلقِ عندَ الله [يومَ القيامة] .

وفي تكملة فتح الملهم ١٥٨١٤ ومن اجل هذه الاحاديث والاثار ذهب جمهورالفقهاء الى تحريم التصوير واتخاذ الصورفي البيوت سواء كانت مجسمة لها ظل اوكانت غيرمجسمة ليس لها ظل

وفي ردالمحتار ٥٠٢١٢ قال في البحر: وفي الخلاصة وتكره التصاوير على الثوب صلى فيه أو لا انتهى، وهذه الكراهة تحريمية. وظاهر كلام النووي في شرح مسلم الإجماع على تحريم تصوير الحيوان، وقال: وسواء صنعه لما يمتهن أو لغيره، فصنعته حرام بكل

حال لأن فيه مضاهاة لخلق الله تعالى، وسواء كان في ثوب أو بساط أو درهم وإناء وحائط وغيرها اهفينبغي أن يكون حراما لا مكروها إن ثبت الإجماع أو قطعية الدليل بتواتره اهكلام البحر ملخصا.

ددريمې پوښتنې ځواب : فاتحې یاتعزیې ته ورتلل سنت اومستحب کار دی ؛خوکه چېرته په دغه خای کې دغه ډول منکرات موجود وي باید څوک ورنشي . اونه هم په نه ورتلو څوک دالله تعالی په وراندي ملامت ګڼل کیږي ، اود نارواپه ترک کې باید دیوه مسلمان په حیثیت دچادملامتی پروا ونه کړي : دشریعت په نصوصو کې موجود دي : لایخافون لومة لائم ، دچادملامتی پروا به نلري .

حضرت عمر رض اوحضرت ابن عباس رض به دتصاویرو خای ته له ورتلو څخه ډډه کوله .

وفي الفقه الحنفي ۳۲۹\۱ وقال عمر رض انا لاندخل کنائسکم من اجل التماثیل التي فیها صور . وکان ابن عباس رض یصلي فی البیعة الافیها تماثیل ، وقال علیه الصلوةوالسلام في اهل البیع اولئک قوم اذامات فیهم العبدالصالح اوالرجل الصالح بنوا علیه قبره مسجد ا وصوروا فیه تلک التصاویر اولئک شرار خلق الله عند الله .

دځلورمې پوښتنې ځواب : که چېرته دشهید له اولاد یادهغه له نږدي اقاربو څخه څوک دغه عمل سرته رسوي نو په دې مسئله کې دعلماؤ اختلاف دی چې میت ته داقاربو په یوه ګناه سره سزاء ورکوله کېږي اوکنه؟ صحیح قول دادی چې شهید ته په دغه عمل سزاء نه ورکوله کېږي ، مګرکه یې په دغه عمل توصیه کړي وه نوبیا به معذب وي.

وفي البنایة شرح الهدایة ۲٦۲\۳ بحث قلع الحشیش من القبور " وفي فتاوى الظهیریة ": وهل یعذب المیت ببکاء أهله؟ قال عامة العلماء: لا یعذب، والحدیث محمول على الوصیة .

وفي البحرالرائق ۲۰۷\۲ بحث الصلوة على المیت في المسجد : وهل یعذب المیت ببکاء أهله علیه فقال بعضهم یعذب لقوله - علیه الصلاة والسلام - «إن المیت لیعذب ببکاء أهله» وقال عامة العلماء لا یعذب لقوله تعالى {ولا تزر وازرة وزر أخرى} [الأنعام: ۱٦٤] وتأویل الحدیث أنهم في ذلك الزمان کانوا یوصون بالنوح علیهم فقال - علیه الصلاة والسلام - ذلك اهـ

دفتوی خلص :

شهید دالله تعالی په وراندي ډیرلوی مقام لری ، اوشهید چې څومره دکفارو له لاسه خوږ شې هغومره یې ثواب اودرجات زیاتیږي، شهادتونه اوقربانی په اسلامي امت کې دکفارو اودهغوئ دشومو اهدافواو اعمالو ،همداراز دفسق اوګناهونو دله مینځه وړلو په لامل رامینځته کېږي . نوښه به داوي چې دشهادت دفاتحي ،تعزیې ، جنازي اونورمراسم له دغه ډول منکراتو څخه پاک وي ، له شک پرته تصویر جوړول ګناه ده ، اوکه دغه ګناه دشهید په تصویر سره سرته رسیږي ، دهغه له مبارک جسد سره ښوودل کیږي ، دهغه په جنازه کې وړل کېږي ، دهغه

دفاتحي په مراسموکې لګيږي ، اوترتولو په مقدس مقام مساجدوکې ښوودل کيږي نو دابه يوه سخته ګناه وي ، دشهيد اودشهادت دمقام يودول توهين هم ګڼل کيږي .

په وراندي حديث کې ښکاره شوه چې دغه عمل اصلا ديهودانو اونصاراو ؤ خکه دهغوئ چې به يونيک تن مرشونودوئ به يې تصاوير جوړول . اوخلقوته به يې ښوودل .

نومسلمان به عموما اومجاهدين به خصوصا له دغه ډول ګناه او عمل څخه په کلکه خان ساتي .اونوربه هم له دغه عمل څخه راګرزوي .

والله تعالى اعلم

دقومي جوړښتونو او اتحاديو په اړه

ډير محترم مفتي صيب

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

دلته يوچا پوښتنه کړي،وايي : دې قومي جوړښتونو کې ګډيدل څنګه دي؟ قوم مو فيصله کړي ده، چې دفلان قوم سره به په مړي ژوندي کې ولاړ يو، حال دا چې زمونږ له يوه قوم سره غته بدي ده ،ناحقه مړي شوي دي، اواوس يو دبل پر ضد پيسي سره مصرفوو،اودډول ډول تاوانونو ته غاړي ږدو ! که په دادول جوړښتونو کې ګډون نارواوي ، نو که يوقناعت بخشه خواب راکړئ، ترڅو نور ورونه هم له دې کاره را وګرځوم

والسلام مع الاحترام ستاسو ورور عبدالمالک .

الجواب حامدا ومصليا وبعد: په ذکرشوي صورت کې : دغه ډول ترونونه داسلام داصولو څخه خلاف ،او له شريعت څخه مخالف دي ، دغه ډول ترونونو کې ګډيدل ګناه اولوی جرم دی . له داسې جوړښتونوڅخه خان ايستل اوتوبه کول ضروري ده ، بلکې ديوه مسلمان په حيث دهر چا داوظيفه ده، چې نورهم له دادول ناوړه عمل څخه راوګرځوي .

١- قال الله تعالى : وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (٢) المائده دنيکي اوتقوی په کارونوکې به له يوه بل سره مرسته کوئ ، په ګناه اوظلم سره به ديوه بل تعاون نه کوئ ، له الله تعالى څخه وويريږئ ، کنه الله تعالى ډيرسخت عذاب ورکونکی دی .

٢- وقال الله تعالى : كنتم خيرامة اخرجت للناس تأمرون بالمعروف وتنهون عن المنكر .الآية .

ژباړه : تاسو هغه بهترينه ډله ياست !چې دخلکو داصلاح لپاره ميدان ته راوتلي ياست ،تاسو به دنيکي ښوونه کوئ اودبدو څخه به خلګ منعه کوئ .

٣- ولاتقربوا الفواحش ماظهر منها ومابطن . الانعام ١٥١ ګناهونوته مه ورنږدي کيږئ ؛ ښکاره وي اوکه پټ .

٤- عن أبي هريرة، قال: قال رسولُ الله -صلى الله عليه وسلم-: "كُل المسلمِ على المُسلمِ حرام: مالُهُ،

وعِرضُهُ، ودَمُه، حسبُ امرئٍ من الشرِّ أن يحقرِ أخاهُ المُسلم".

ژباړه : دهرمسلمان مال ،حيثيت اوويني په بل مسلمان حرامي دي ،ديوه مسلمان لپاره داشر بس دی چې ديوه بل مسلمان تحقيروکړي .

٥- عن أبي هريرة، أن رسولَ الله - صلَّى الله عليه وسلم - قال: "ستكونُ فِتنةٌ صمَّاءُ بكمْاءُ عَمياءُ، مَنْ أشرَفَ لها استشرفَتْ له، وإشرافُ اللسانِ فيها كوقوع السيفِ" .ابوداود .

ژباړه : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ژر به يوه ګونګه ،کنه ، اوړنده فتنه رامښځ ته شي ،څوک چې وروړاندي شي هغه به ځان ورته رانښکاره کړی ،اودژبې استعمال به دتوري په څېر ګنل کيږی .

٦-عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ- صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَا يَحْقِرْ أَحَدُكُمْ نَفْسَهُ" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ يَحْقِرُ أَحَدُنَا نَفْسَهُ؟ قَالَ: "يَرَى أَمْرًا، لِلهِ عَلَيْهِ فِيهِ مَقَالٌ، ثُمَّ لَا يَقُولُ فِيهِ، فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تَقُولَ فِي كَذَا وَكَذَا؟ فَيَقُولُ: خَشْيَةُ النَّاسِ، فَيَقُولُ: فَإِيَّايَ كُنْتَ أَحَقَّ أَنْ تَخْشَى"

ژباړه :يودي هم خپل ځان خوار نه ګڼي ،بوښتنه وشوه ،څرنګه به يوهم ځان خوارنه ګڼو؟ ای دالله ج رسوله ! هغه ص وويل : يوه خبره به ووينې دالله تعالى لپاره به دويلو ځای وي مګردی هلته څه ونه وايې ،نوالله تعالى به دقيامت په ورځ ورته ووايې : څه وجه وه چې په هغه اوهغه امرکې دي هيڅ نه ويل ؟ دغه بنده به ورته وايې چې دخلګودويرې له امله مې څه نشو ويلای .نوالله تعالى به ورته ووايې : چې ته خوبه په حقه يواځې له ماويريدي .

في صحيح ابن حبان :٢١٢١١٠ عَنْ شُعْبَةَ بْنِ التَّوْأَمِ أَنَّ قَيْسَ بْنَ عَاصِمٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحِلْفِ فَقَالَ: "لَا حِلْفَ فِي الْإِسْلَامِ"

قال ابن الأثير في "النهاية" ١/ ٤٢٢ - ٤٢٥: قوله: "حالف" أي آخي بينهم وعاهد، وأصل الحِلف: المعاقدة والمعاهدة على التعاصد والتساعد والإنفاق، فما كان منه في الجاهلية على الفتن والقتالِ بين القبائل والغارات، فذلك الذي ورد النهيُ عنه في الإسلام بقوله - صلَّى الله عليه وسلم -: "لا حِلف في الإسلام"، وما كان منه في الجاهية على نصرِ المظلوم، وصلةِ الأرحام، كحلف المُطيَّبين وما جرى مجراه، فذلك الذي قال فيه - صلَّى الله عليه وسلم -: "وأيما حلف كان في الجاهلية لم يزده الإسلام إلا شدة" يريد من المعاقدة على الخير، ونصرةِ الحق، وبذلك يجتمع الحديثان، وهذا هو الحلف الذي يقتضيه الإسلام والممنوع منه ما خالف حكم الإسلام.

وفي عمدة القاري ٦٠١٢٥ ورد لَا حلف فِي الْإِسْلَام؟ قلت: هَذَا على الْحلف الَّذِي كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّة على الْفِتَن والقتال والغارات وَنَحْوهَا، فَهَذِهِ هِيَ الَّتِي نهى عَنْهَا.

وفي المرقات ٢٢٨٦\٦ كتاب الديات وعن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده قال: خطب رسول الله صلى الله عليه وسلم عام الفتح ثم قال: «أيها الناس إنه لا حلف في الإسلام وما كان من حلف في الجاهلية فإن الإسلام لا يزيده إلا شدة المؤمنون يد على من سواهم ... رواه ابوداود . فقال (أيها الناس إنه لا حلف) أي لا إحداث للمعاهدة بين قوم..... وكان أهل الجاهلية يتعاهدون على التوارث والتناصر في الحروب، وأداء الضمانات الواجبة عليهم وغير ذلك فنهى النبي صلى الله عليه وسلم عن إحداثه في الإسلام، .... وتوضيحه ما قال التوربشتي ولخصه القاضي: كان أهل الجاهلية يتعاهدون فيتعاقد الرجل مع الرجل ويقول له: دمي دمك وهدمي هدمك وثأري ثأرك وحربي حربك، وسلمي سلمك..... وذكر في النهاية وجها آخر حيث قال: أصل الحلف المعاقدة والمعاضدة على التعاهد والتساعد والإنفاق، فما كان منه في الجاهلية على الفتن والقتال والغارات، فذلك الذي ورد النهي عنه في الإسلام بقوله: (لا حلف في الإسلام) وما كان منه في الجاهلية على نصرة المظلوم، وصلة الأرحام ونحوها فذلك الذي قال فيه وأيما حلف كان في الجاهلية لم يزده الإسلام إلا شدة .

والله تعالى اعلم وعلمه اتم

قوي عزم او ټينګ ايمان

قلم په لاس کتاب تر څنګ توره تيره لرمه
پښتون زلمی يم د افغان د ننګ شمله لرمه

نه مې ټاپي، نه سرتور سر، نه مې پټلون خوښيږي
شپل خواني ، د ننګ پګړی، ښکلې جامه لرمه

چې نه وېرېږم ، نه ډارېږم د غليم په تهديد
زه قوي عزم ټينګ ايمان او عقيده لرمه

اوس مې عادت دی له مرګي سره تل لوبي کوم
ځان خپل هدف ته رسوم دا اراده لرمه

په ناموس ننګ په وطن جنګ کوم غورځنګ کومه
نذير طه نذير طه دا فيصله لرمه

په تېر میلادي (۲۰۱۴) زکال کې

د دښمن د تلفاتو او زیانونو دقیقه احصایه

د پخوانیو کلونو په څیر تیر کال هم د دښمن لپاره د مجاهدینو لخوا سخت ځپونکی کال وو، دغه کال چې د الفاروق جهادي عملیاتو دریم ثلث او د خیبر عملیاتو ددوه لومړني ثلثونه په کې تیر شول، د دښمن لپاره دومره له خاني او مالي زیانونو ډک وو چې پخوایي ساری نه وو لیدل شوي.

په دې کال کې اګر که د پخوا په نسبت د بهرنیو عسکرو تلفات کم شوي وو، خکه هغوی د هیواد له ډیرو سیمو څخه پسې اخیستل شوي وو او په کومو خایونو کې چې اوسیدل هم په ګرځیدو را ګرځیدویي بندیز لګولی وو او پرځاي یې داخلي مزدور غلامان د مرګ کومې ته ورکړي وو.

په دغه کال کې د غلام دښمن په درنو تلفاتو باندې امریکایانو هم اعتراف وکړ او د پخوا په نسبت یې سړ کال د مزدورو عسکرو لپاره خونړی وبالله، هغوی د خپلو سانسور شوو شمیرو په اساس بیاهم ومنله چې په تیر کال کې له ۵۰۰۰ څخه زیات کورني عسکر وژل شوي دي، البته دغه احصایه او شمیر دهغو ارقامو په اساس دي چې بهرنیو ته یې معلومات شوي وي او یا دکابل اداري غوښتي وي چې له بهرنیو سره یې شریک کړي، خو دا احصایه کله هم تامه او پوره نه ده او نه یې د هیواد ټولې پېښې په بر کې نیولې دي.

د اسلامي امارت دمجاهدینو لخوا تیر کال په دښمن د بریدونو لمن څو برابره پراخه شوې وه او د هیواد ډیرې سیمې د دښمن له ولکې بشپړې ووتې.

د هیواد د جنوب او شرق په څیر سړ کال د هیواد شمال هم د دښمن لپاره سور تنور وو او بنه درانه تلفات یې پکې ولیدل، د ډیرو پراخو سیمو په ترڅ کې څو ولسوالی هم له دښمن څخه په تولیزه توګه تصفیه کړل شوې چې اصلا دښمن په کې وجود نلري، د لسهاوو نورو ولسوالیو صرف مرکزونه لکه محصوري شوې پوستې د پوځي لزوم دید له مخې د دښمن په ولکه کې دي، خو پراخ اطراف او سیمه یې د مجاهدینو د آزاد فعالیت ډګر دي.

په لاندې ډول د دښمن د تلفاتو، زیانونو او خساراتو هغه دقیقه احصایه راخلو چې د اسلامي امارت د مجاهدینو لخوا ترسره شوي، او بیا یې په ډیر دقت او له څو فلټرونو څخه تر وتو وروسته راپورونه تر موږ رسیدلي او د باور وړ بلل شوي دي.

ـ په تير ۲۰۱۴م کال کې په دښمن ټول ټال (۱۵۵۵۴) بريدونه ترسره شوي چې په اوسط ډول هره ورځ تقريبا ۴۱ بريدونه کيږي.

ـ ددغه کال په اوږدو کې دېرغې دښمن (۸۱۲) تنه وژل شوي (۳۶۴) نور ټپيان شوي دي، چې په اوسط ډول هره ورځ تقريبا (۳) تنه مړه او هره ورځ تقريبا (۱) تن ټپي شوی دی.

ـ په تير کال کې د داخلي عسکرو، پوليس او اربکيانو د وژل شويو دقيقه شمېره (۲۲۵۶۲) ده او ټپيان يې (۱۴۸۰۷) دي، چې په اوسط ډول هره ورځ تقريبا (۶۱) تنه وژل شوي او هره ورځ (۴۰) تنه ټپيان دي.

ـ په تير کال کې د عملياتو په مهال د ټول هيواد په سطحه د دښمن (۷۶۴) صرف قومندانان او لوړپوړي کسان وژل شوي دي، چې په اوسط ډول هره ورځ (۲) تنه قومندانان په وژل شوو کې شامل دي.

ـ په تير کال کې د ګډ د بنمن (۵۰۶۴) نظامي وسائط (ټانکونه، رينجر موټر، اکمالاتي ټيلر او ټانګر او نور نظامي موټر) له منځه تللي دي، چې په دې توګه هره ورځ د دښمن (۱۳/۸۷) وسائط منهدم دي.

ـ په تير کال کې د بهرني او کورني دښمن د رانسکورو شوو الوتکو او هليکوپټرو شمير (۲۶) بالو نه ده.

ـ همدا راز د تير کال په جهادي عملياتو کې (۹۳۰) تنه مجاهدين هم د شهادت لوړ مقام ته رسيدلي او (۱۲۵۱) نور ټپيان شوي دي، چې په اوسط ډول هره ورځ (۲) تنه مجاهدين شهيدان او هره ورځ (۳) تنه هم ټپيان دي.

ـ د مجاهدينو (۵۰) وسائط هم له منځه تللي .

ـ همدارنګه د تير کال په اوږدو کې د مجاهدينو له حقيقت سره ددښمن د افرادو اشنايي او د هغوی له ليکو سره پيوسته کيدل ورځ تر بلې مخ پورته روان وو او د اسلامي امارت مجاهدينو د ۲۰۱۴ ميلادي کال په جريان کې په دغه برخه کې ډېرې ښې لاس ته راوړنې لرلې ، په اجمالي ډول د ۲۰۱۴ ميلادي کال په اوږدو کې د اسلامي امارت د جلب او جذب کمېسيون د مسؤلينو د نه ستړي کيدونکو هلو ځلو او د دښمن د افرادو د حقيقت درکولو په نتيجه کې ۲۵۴۵ تنه د دښمن په ليکو کې ولاړ خلګ د مجاهدينو له ليکو سره يو ځای شول . چې د تسليم شوو افرادو تفصيل د هغو له نوم ، د پلار نوم ، ولسوالي او ولايت له نوم سره هره مياشت د اسلامي امارت د ارشاد جلب او جذب کمېسيون لخوا خپريږي .

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنګي چارو کمېسيون

۱۴۳۶/۳/۱۲هـ ق

۱۳۹۳/۱۰/۱۳هـ ش ـ ۲۰۱۵/۱/۳م

يادونه: پورته احصائيه دهغو خبرونو او راپورونو په بنا ترتيب شوې چې پر دښمن له عملياتو وروسته وخت په وخت دمجاهدينولە لوري داسلامي امارت د ويانديانواو همداراز دولايتونو دخبري نماينده ګانو په واک کې ورکړل شوي ، او له پوره تحقيق او کره تنوب وروسته د الاماره په رسمي ويب پاڼه کې نشر شوي دي.

سید سعید

جنګي جنایتونه

(دسمبر)

دتېر (۲۰۱۴ز) کال دډسمبر دمیاشتي په لومړۍ نیټه اشغالګر وعسکرودافغان پوځیانوپه ملتیادننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ دوزیرو سیمه کي دچاپې پرمهال دوه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي اواتیا (۸۰) تنه ولسي وګړي یې دبندیانوپه توګه له ځان سره وړي دي .

دډسمبر په ۳ مه دبدخشان ولایت دجرم ولسوالۍ په شپیچان سیمه کي داخلي عسکرو دوه ځوانان شهیدان کړي دي .

دډسمبرپه ۴مه اشغالګرواو داخلي عسکرو د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په مملي سیمه کي دچاپې پرمهال څلور تنه ولسي وګړي شهیدان کړي اولس نفره یې بندیان کړي دي .

دډسمبرپه ۴ مه د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ په کوټالي سیمه کي اربکیانودوه ملکي وګړي له موټره کښته کړي ، یویې شهید کړی او بل یې ژوبل کړی دی .

د ډسمبر په ۴ مه دبدخشان ولایت دیمګان ولسوالۍ په مربوطاتو کي اربکیانویو سپین ږیری شهید کړی دی .

دډسمبر په ۶ مه دکندهار ولایت دهوایې ډګر مخته پر غځیدلي سړک یر غلګرو عسکرو دوه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي .

دډسمبر په ۸مه دبادغیس ولایت د بالامرغاب ولسوالۍ دجوی کنج په سیمه کي داخلي عسکرودطالبانو سره تر جګړې وروسته شپیته تنه ملکي هیوادوال دسپین ږیرو اوماشومانوپه ګډون بندیان کړي او وهلي دي .

دډسمبر په ۹ مه دهلمند ولایت دګریشک ولسوالۍ په کلای کز سیمه کي دکورنیو عسکرودهاوان په برید کي دوه دوکانداران شهیدان شوي او یوبل تن ژوبل شوی دی.

دډسمبر په ۱۰مه د پروان ولایت دسیاګرد ولسوالۍ په دره سیدان جمبت خیلو کلي یر غلګرو

ځواکونو د والیبال په میدان بمبار کړی ، په بمبار کي پنځه تنه زده کونکي (بورجان ،وثیق، خیرالله، اسمالله او علي ګل) شهیدان شوي دي .

دډسمبر په ۱۴مه د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ د باغکي په سیمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په برید کي دوه ولسي وګړي شهیدان شوي دي .

دډسمبر په ۲۱مه دغزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په غبرګون کلي کي اربکیانو د حاجي اسحاق کورنۍ په زور له خپلي کلا ایستلې او پوسته یې پکي جوړه کړې ده.

دډسمبر په ۲۱مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په خسر کلي کي د کورنیو عسکرو په ډزو کي دوې ښځي او یو ماشوم شهید شوی دی.

دډسمبر په ۲۱مه دغزني ولایت د ګیرو ولسوالۍ په شیله کلي کي اربکیانو د عبدالمحمد په نوم یو کلیوال له کوره ایستلی او شهید کړی دی.

دډسمبر په ۲۲مه د ننګرهار ولایت د غني خیلو ولسوالۍ په ۲۷ وبالې سیمه کي اربکیانو یو سړی او یوه ښځه شهیده کړې ده .

دډسمبر په ۲۳مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په بروتیانو سیمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په برید کي یوه ښځه او درې ماشومان شهیدان شوي او درې زنانه او څلور کوچنیان ژوبل شوي دي .

دډسمبر په ۲۳مه د پکتیکا ولایت د خوشامند ولسوالۍ په جمجمو کلي کي پولیسو یو سپین ږیری (حاجي سید)شهید کړی دی .

دډسمبر په ۲۶مه د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ په ابجوش سیمه کي پر یوه دوه پوړیزه ودانۍ د یرغلګرو په بمبار کي پنځه تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي او پنځه نفره ژوبل شوي دي ،په دغه پیښه کي ذکر شوې ولسي مرګ ژوبله حکومتي چارواکي هم تائید وي .

د ډسمبر په ۲۶مه دپکتیکا ولایت د یحی خیل ولسوالۍ په ګوډلو کلي کي اربکیانو یوه دیني مدرسه (نجم المدارس)او د مدرسې د استادانو کورونه وبجاړ کړي دي.دعیني شاهدانو له قوله اربکیانو چي پر مدرسه برید وکړلو مړی یې ټول شیان خپلي پوستې ته ترې یو وړل اوبیا یې مدرسه ورانه کړه، اربکیانو دمدرسې مهتمم مولوي محمد یعقوب آخندزاده او نور استادان ګواښلي چي سیمه پریږدي کنه خیر به یې نه وي .

دډسمبر په ۲۸ مه د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په ګرماوک سیمه کي دداخلي عسکرو په یو راکټي برید کي درې کوچنیان شهیدان شوي دي .

دډسمبر په ۲۸ مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په عمر خېل سیمه کي دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کي دوه ملکي وګړي شهیدان شوي اوپنځه تنه ټپیان شوي دي .

دډسمبر په ۲۹ مه دارزګان ولایت د مرکز (ترینکوټ) اړوند د پای ناوې دتنګي په سیمه کي داخلي عسکرو دوه ۱۳ کلن ماشومان شهیدان کړي دي، دځایې خلګو په وینادغه دواړه ماشومان پنځلس ورځي مخکي عسکرو له ځان سره وړي ووچي دادی اوس یې مړي وموندل شول .

دډسمبر په ۲۹ مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ د کلایې ګز دحاجي پیر محمد اکا په کلي کي دداخلي عسکرو دچورلکو په برید کي یوه ښځه او دوه ماشومان شهیدان شوي اویو کوچنی او یوه میرمنه ژوبله شوې ده .

دډسمبر په ۳۰ مه دهلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ په توغي سیمه کي کورنیو عسکرو یوملکي وګړی (قدرت الله ولد حاجي محمد)چي مسجد ته روان ؤشهید کړی دی .

دډسمبر په ۳۱مه دجوزجان ولایت دقوشتپې ولسوالۍ دعربو په سیمه کي داخلي عسکرو دطالبانو سره ترجګړې وروسته دوه ماشومان شهیدان کړي دي .

دډسمبر په ۳۱مه دهلمند ولایت دسنګین والسوالۍ دساروان کلاپه باینزو سیمه کي دداخلي عسکرو توغندي دمحمد اکا پر کور چي دزوی واده یې ؤلګیدلي ، په دغه برید کي شپږ پنځوس تنه ولسي هیوادوال چي زیاتره یې ښځي او ماشومان دي شهیدان شوي او تر سلو تنو ډیر ټپیان شوي دي .دهلمند حکومتي چاراکو منلې چي دغه توغندویې بریددوی له لوري شوی دی .

مأخذونه :[بي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک =،خبریال ویبپاڼه، لراوبر= ،نن ټکی اسیا= اوبینوا=].

د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسیون

د ډسمبر د میاشتي راپور

دروان (۲۰۱۴م) کال د ډسمبر په میاشت کي هم د تېرو میاشتو په شان د اسلامي امارت د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسیون په هڅو او ځایې مجاهدینو په ملاتړ د افغانستان په مختلفو ولایاتو کي ۲۳۸ تنه چي د کابل اداري اړوند بیلابیلو ارګانونو کي په کار بوخت وو د حقایقو په درک کولو د دغه فاسد او ګوډاګي رژیم څخه راووتل او د اسلامي امارت د مجاهدینو سره یوځای شول.

ګرانو لوستونکو دا هم د تسلیم شوو کسانو تفصیلي میاشتني ارقام:

کونړ: ۱ تن عسکر
ننګرهار: ۲۹ تنه عسکر
پکتیکا: ۱۹ تنه عسکر
خوست: ۲ تنه عسکر
بغلان: ۱ تن عسکر
جوزجان: ۴ تنه عسکر
لغمان: ۱تن عسکر
لوګر: ۴ تنه عسکر
غور: ۱ تن عسکر
سرپل: ۴۹ تنه عسکر
زابل: ٦ تنه عسکر
کندهار: ۱۱ تنه عسکر
میدان وردګ: ۷تنه عسکر
دایکنډي: ٦ تن عسکر
غزني: ۱٦ تنه عسکر
هلمند: ۲۳ تنه عسکر
فراه: ۱۰ تنه عسکر
فاریاب: ۳ تنه عسکر
ارزګان: ۲۴ تنه عسکر
میدان وردګ: ۲تنه عسکر
هرات: ۹ تنه عسکر

او په بادغیس ولایت کي ۱۵تنه بااحساسه عسکر او منسوبین د اسلامي امارت د اتلو مجاهدینو سره یوځای شول

بادرکه هیوادوالو مختلفه النوع لویې اووړې وسلې ،مخابرې ،وسایط اویوزیات شمېر مهمات مجاهدینوته وسپارل .

دکابل دمنفور رژیم څخه راجلا شوو او د اسلامي امارت له مجاهدینوسره یوځای شووهیوادوالووعده وکړه چې نوربه دخپل ددین اووطن دخارجي اوداخلي مزدورانوسره هیڅ رازتعلق نه ساتي ،دخپل مظلوم ولس اومجاهدینو ورونو سره به همکاري کوي ،ترڅولوی خدای جل جلاله ژرتر ژره زموږله ویاړلې خاوري څخه دکفر،فسق،اشغال، فحشاء او گمراهیو کرغیړن تغرتول کړي اودمسلمانانودخوښي یوسوچه اسلامي واکمنې رامنځته کړي چې دټول افغانان پرې راټول شي .

داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد،جلب اوجذب کمیسیون مشرتابه دوی ته هرکلی ووایه، انعامونه اوجایزې یې ورکړې اوددوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه چې دیرغلګرواولاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل اودافغانستان اسلامي امارت دمجاهدینوسره یې خپل پیوستون اعلان کړ .

دافغانستان اسلامي امارت دګران هیوادڅخه دوحشي یرغلګرو دشړلو او داسلامي اوملي نظام درامنځته کولوپه موخه دران سپېڅلی مقاومت په لړکې دنظامي فعالیت ترڅنګ سیاسي ،فرهنګي ،تعلیمي اودعوتي هڅې هم گړندۍ کړي دي داسلامي امارت غښتلي مجاهدین دپراخوپوڅي لاسته راوړنوڅخه علاوه هره میاشت دهیوادپه بیلا بیلو ولایتونو او ولسوالیوکي ددعوت او ارشاد کمیسیون په هڅولکه پورته چې ذکرشول دکابل اداري څخه په سلهاووتنه کارمندان راوزي اوداسلامي امارت غیږي ته پناراوړي .

دعوت او ارشاد کمیسیون

افغان لیکوال اوشناند ښاغلی استاد شپونکی

له مورچل سره په مرکه کې:

امریکایان په افغانستان کې خپله جګړه نه دروي، بلکې یوازې په جګړه کې خپل رول ته تغییر ورکوي او جګړه پداسې شکل ډیزاین کوي، چې مالي خساره یې کمه شي، او ځاني خساره یې دوی ته هیڅ متوجه نه وي

مورچل: دښمنکیلا ککړو پرخلاف روان جهادي مقاومت ،یاپه بل عبارت داسلامي نظام دحاکمیت او دهیواد آزادۍ په جهاد کې دمطبوعاتو او مطبوعاتیانو نقش څنګه ارزوئ؟

شپونکی: بسم الله الرحمن الرحیم،

الحمد لله رب العلمین، و الصلاة و السلام علی أشرف الأنبیاء و إمام المجاهدین، وعلی آله و أصحابه ومن سار علی هدیه إلی یوم الدین أجمعین.

لکه څنګه چې نن د اسلام د دین او د اسلامي امت په خلاف ددښمنانو جګړه په نظامي او فکري دواړو جبهو کې په پراخ ډول روانه ده ،همداسې په کار ده ،چې له اسلام او اسلامي امت څخه دفاع هم باید په پوره قوت پدې دواړو جبهو کې دوام ولري، مجاهدین د نظامي ډګر اتلان دي، او مسلمان مطبوعاتیان د دې دفاع شعوري او فکري سپاهیان دي، چې ددلیل او منطق په ژبه د اسلام حقائق بیانوي او د دښمنانو له توطیو څخه د امت بچیان خبروي.

مورچل: تاسو چې دتېراو اوسني جهاد دصحنو شاهدان یاست ،دننې فرهنګي جهاد(چې له خورا سختوشیبوپیل او دایمان په قوت روان دی)له پروني هغې فرهنګي جهادسره ،چې دنړیوالو مرستو نه برخمن و، څنګه پرتلنه کوئ؟ او اوسني فرهنګیان، له پرونوهغوپردین ډیرمبین بولئ ،که دواړه دیوې سکې دوه مخونه دي؟

شپونکی: د پخواني جهاد مطبوعاتي ادارو او د هغه وخت لیکوالانو او مطبوعاتیانو په خپل وخت کې د جهاد او اسلام لپاره په پراخه پیمانه کار کړی وو، هغوئ په خپل وخت کې د اسلامي نړۍ له مطبوعاتي تجاربو پوره

استفاده وکړه او مسلمان لیکوالان، مفکرین او د عوتګران یې له خپل جهادي بهیر سره ملګري کړای شول، هغوئ په یقیني ډول د تجربې، تخصص او پوهې په ډګر کې تر ننني ډېر غښتلي او لاسبري وول، او هر یوه یې څوڅو تألیفات درلودل، هغوئ د سختې له ابتلاء سره سره مقاومت وکړ او په سختو ورځو کې یې د اسلام او جهاد له مصالحو دفاع وکړه، خو کله چې د راحت او نعمت له ابتلاء سره مخ شول او د ډالرو سیلاب ورباندې ورخوشې شو، نو بیا یې ځان ورته ټینګ نه کړ، او تقریبا له یوې مخې د پردیو په غېږ کې ورولویدل.

ننني لیکوالان او مطبوعاتیان هم سره په شعوري ډول د دښمن مقابله کوي، که څه هم چې د تخصص سطحه یې تر پخوانیو کمه او د ډېرو تحلیلونه یې یو څه ډېر سطحي دي ، خو له پخوانیو سره مقایسه به یې هغه وخت صحیح کېږي، چې دوئ هم د څوکیو، منصبونو، دولت او نعمت له ابتلا سره مخ شي، نو هلته به بیا وکتل شي چې کوم یو یې پر اسلام ډیر مین دي؟

مورچل: که د بزم له دنیا نه به لږ څه د رزم دنیاته سرورښکاره کړو،نو دا پوښتنه به لومړی مطرح شي ،چې دا اوس اوس تازه ،چې امریکایانو ددیسمبرپه (۳۱)نیټه (۲۰۱۴)زکال کې ظاهرا جګړه بس کړه ،بیرغونه یې رابښکته کړل او اعلان یې وکړ، چې نور به هیواد کې حربي یا جګړه ایز رول نلري، بلکې دداخلي غلامانو روزنه اوتربیه به کوي ،مشورې به ورکوي اوپخپله به نور جنګ نه کوي تاسو دا ډول اشتهارات نمایشي او غربي چال بولئ، که نه دکوم ډول رښتیاوالې تومنه هم پکې شته؟

شپونکی: امریکایان په افغانستان کې خپله جګړه نه دروي، بلکې یوازې په جګړه کې خپل رول ته تغییر ورکوي او جګړه پداسې شکل ډیزاین کوي، چې مالي خساره یې کمه شي، او ځاني خساره یې دوئ ته هیڅ متوجه نه وي. امریکایان به کوښښ وکړي، چې جګړه په ملیشه یې او قومي ډول روانه وساتي، او که یې په ټول افغانستان کې جګړه ونه پاللی شوه، نو په هغه صورت کې خو بیا د افغانستان د تجزیې لپاره هم د دوئ فارموله تیاره ده، او هم یې دلته محلي ملګري ورته ملاتړلي ولاړ دي.

مورچل: دافغانستان فعلي وضعیت چې ولس پکې دنینو دبټ غوندې ورتیږي، ترڅو به دوام کوي؟دې ډول بوګنوونکې حالت ته کوم ډول حل شونی بولئ؟دیوه سوکاله افغانستان راتلونکې ته دې نږدې کې څومره خوشبین یاست ؟

شپونکی: د افغانستان د شخړې یوازینی واقعي حل یوازې (جهادي حل) دی، ځکه چې سیاسي حلونه که هغه د ایتلافونو په

شکل کې وي او که د سیاسي مطرحو جهتونو ترمنځ د عمومي جوړ جاړي شکل وي، او که کوم بل ډول حل وي هغه به په یقیني ډول د پردیو په لاس رامنځته کیږي، او په نتیجه کې به یې اسلامپالي او سیکولر جهتونه په یوه داسې ګډوله کې سره را ټولیږي، چې د دې حل قرباني به اسلامي شریعت او د اسلام سیاسي نظام وي. په افغانستان کې سیاسي پلورالیزم (تعدد ګرایي) چې اصلاً په فکري پلورالیزم ولاړ دی، نه چلیږي. په افغانستان کې د پردیو له لوري فکري او سیاسي اسلام دښمنه جهتونه باید د جهاد په زور محوه شي، او د هغوئ په لاس رامنځته شوې فکري، عقائدي او اخلاقي فساد او ویجاړي باید د داسې اصیل اسلامي فکر په رنا کې له منځه یوړل شي، چې له پردیو سره پیوند نه مني. او که چېرې بیا یو (پیوندي اسلام) او ایتلافي حکومت رامنځته کیږي، نو یقیناً به یې نتیجه تر هغه هم بده راووځي چې د پخوانیو (دیموکرات جهادي) تنظیمونو په لاس په نوي یمو کلونو کې راووته.

مورچل: درواں جهاد په باب داسلامي امارت جهادي او سیاسي تګلوری څنګه ارزوئ؟آیا همداسې پکار دی چې دادی ،که نه نور هم باید څه وکړي ،که یې دکولو اراده وکړي دا نامناسب شرایط به اجازه ورکړي ؟

شپونکی: د اسلامي امارت جهادي او سیاسي تګلوری ډېر مثالي ندی، خو په اوسنیو حالاتو کې د موجودو اسلامي جهتونو د تګلارو ترمنځ تر ټولو غوره دی. اسلامي امارت باید تر دې وروسته د جګړې تر څنګ په ولس کې سیاسي، فکري، تعلیمي، اجتماعي او اقتصادي فعالیتونو ته هم توسعه ورکړي، اهل خلک ورته پیدا کړي، او هغه تشه په ښه ډول ډکه کړي ،چې په آزادو سیمو کې د موجود رژیم د تفر د ټولېدلو په صورت کې به منځته راځي. اسلامي امارت که څه هم چې د ټول افغانستان لپاره دی، او پروګرامونه یې هم د ټول هېواد لپاره دي، خو د ځینې منسوبینو او مسؤولینو روحیه یې لا تر اوسه هم (تنظیمي) غوندې ده ،چې لا نوري ډیرې وسعت ظرفي ته ضرورت لري. او که چېرې مطلوبه وسعت ظرفي او د مسؤولیتونو د ښه ادا کولو لپاره (د کار سړي) پیدا نه کړي، نو ګومان نه کوم، چې د انټرنټ، فیسبوک او میډیایي انقلاب او معلوماتو د سېلاب د زمانې خلک دې، په اسانه له ځان سره روان کړی شي، ځکه چې اوس خلکو ډېر څه ولیدل، او ډیرو بدیلونو ته یې ورپام شوی دی. اسلامي امارت باید نور له خپل پخواني حجمه راووځي، ځکه چې اوس یې له ټول غرب سره جګړه روانه ده، او دا جګړه به لا نور هم په بېلابېلو شکلونو روانه وي، چې یوازې د مدرسې طالب او د مسجد امام به ورته کافي نه وي.

مورچل: لويديځوال چې افغانستان کې فکري جګړه هم پر مخ وړي ،د غربي تهذيب يا ثقافت مزخرف رنګ دومره تيز تصويروي ،ترڅو يې ځينې ناخبره خلک شعاع پسې لاړشي ،خو دلته چې اصل مقابله د دوئ له اسلامي تهذيب سره ده ،آيا پداسې يوه اسلامی ټولنه کې به منحرف شوي لويديځ تهذيب ته ولسونه پر سپېځلي اسلامي تهذيب ترجيح ورکړي ؟

شپونکی: د غرب د کفري فرهنګ رنګ په رښتيا هم ډير تېز دی، او همدغه تېزوالي خو يې په اسلامي نړۍ کې تر يوه ميليارد د ډيرو مسلمانانو سترګې اخستې او په ځان پسې يې روان کړي دي، که د مسلمانانو شمېر ته چې تقريبا يو مليارد او شپږسوه ميلونه دی وګورو ،نو و به وينو چې يوازې دوه سوه ميليونه به هم په واقعي ډول د اسلامي فرهنګ او اسلامي ژوند بڼې منونکې نه وي، او د دې سبب دا دی چې پر مسلمانانو ټپل شوي غرب پلوي نظامونه په خپله مسلمانان له اسلامي فرهنګه اړوي، او په هر لحاظ يې په غرب پورې تړي، نو ترڅو چې دغه نظامونه موجود وي او اسلامي جهتونو په واقعي او عملي ډول ځان د (نبه بديل) مرحلې ته نه وي رسولی، ولسونه به بيا هم په همدغو نظامونو پسې روان وي، او غربي فرهنګ به خپل فرهنګ ګڼي.

مورچل: مورچل مجله دنورومطبوعاتو په منځ کې په کومه کنډه تلئ؟آياځه مشورې هم ورته لرئ؟

شپونکی: د مورچل مجله د امريکا په خلاف د افغانانو د روان جهاد يو نبه آرشيف او د مجاهدينو د تنوير لپاره يوه نبه نشريه ده، او دا چې نوم يې يو پوځي نوم دی او د مجاهدينو لپاره خپرېږي نو د محتوی په اړه يې مسؤولينو ته زما مشوره داده ،چې سره لدې چې د (مورچل) مجله د روان جهاد د پېښو او جريانونو د تاريخ په توثيق او تدوين کې ستر مسؤوليت ادا کوي ،خو بياهم (مورچل) لکه چې نوم يې نبکاري يوه (عسکري) مجله نه بريښي.او دا ځکه چې د مجلې د مضامينو په برخه کې پوځي مضامين يا نشته، او يا هم په ډېر سطحي ډول کله ناکله ورکې يو څه راغلي وي.

د مجلې د مضامينو په برخه کې زياته برخه فقهي، عمومي ديني، تاريخي او سياسي مضامين وي، او دا پداسې حال کې چې د اسلامي امارت فرهنګي کميسيون د همدغه ډول مضامينو لپاره څو نورې مستقلې مجلې لکه (څرک)، (شهامت) او (حقيقت) هم لري.

نبه به دا وي چې د(مورچل) مجله لکه چې له نامه يې نبکاري، بايد يوه پوځي تعليمي مجله وي، او ډېر اهتمام يې د اسلام پر پوځي

تاریخ، د اسلام پر پوځي فاتحینو او د هغوئ پر جنګي کارنامو، پر پوځي، امنیتي اواستخباراتي علومو او فعالیتونو، پوځي استحکام، د عسکري پښتو او جنګي عملیاتو پر پوځي تحلیل، په ولس کې د مقاومت د فرصتونو او وړتیاوو پر پیدا کولو او غښتلي کولو، مجاهدینو ته د جنګي تکتیکي او تخنیکي مهارتونو په ورښودلو، د دښمن پر هر اړخیزې پیژندګلوی، د دښمن د جنګي او ستراتیژیکو انګیزو او مقاصدو پر تشخیص، په هېواد کې د دښمن د داخلي ملګرو پر معرفي او د هغوئ د هویت او د مقاصدو د ماهیت پر تشریح، مجاهدینو ته ددوئ د قوت او ددښمن د ضعف د نقطو پر ورښودلو، د رواني (روحي) جګړې پر اسالیبو او د تبلیغاتي او فکري جګړې لپاره په مجاهدینو کې د وړتیا وو پر پیدا کولو او پاللو وي.

ددغه دول مضامینو او موادو د برابرولو لپاره باید له پوځي ماهرینو، عسکري سایکالوژستانو، د عسکري علومو له استادانو او د حربي پوهنتونو له تعلیمي نصابونو څخه استفاده وشي.

داچې مجاهدین اوس پداسې وضعیت کې ندي چې د پوځي روزنې لپاره دې حربي پوهنتونونه، پوځي اګادمي او تعلیمي غونډونه ولري، نو په کار ده، چې د پوځي روزنې دغه تشه تر یوه حده د(مورچل) د مجلې له لارې ډکه شي، چې پدې کار سره به له یوې خوا په پراخه پیمانه په مجاهدینو او د ولس په ځوانانو کې د دښمن په مقابل کې پوځي وړتیا پیدا شي، او له بل لورې به (مورچل)یوازې د جهاد د تاریخ د توثیق یوه مجله نه وي، بلکې په ربښتیا به هم یو (عسکري مورچل) او روزنتون وي.

مورچل: مورچلوالو، افغان ولس، او مجاهدینو ته څه پیغام لرئ!

شپونکی: مورچلوالو ته مې مشوره داده ،چې خپل دغه فرهنګي مورچل ته ریښتیني وارثان وروزي. او افغان ولس ته مې مشوره دا ده چې ای غیور ولسه! په ډېرې ګرمۍ کې مو په لوړه نیولې روژه تر مازدیګره رارسولې ده، ګورئ چې نه یې د ماشومانو په غولوونو نعرو ماته کړئ! او نه یې د زهرو په غوړپ.لږ صبر تر هم په کار دی، الله تعالی به مو د اسلامي نظام او ریښتیني آزادۍ ارمان پوره کړي.

او مجاهدینو ته مې پیغام دادی چې د جهاد ته ځنګ دعوت او تربیې ته هم زور ورکړئ، ځکه چې دا هغه ډګر دی چې دښمن له مور ځخه ورکې او یو څو ګامه مخکې دی.

والسلام

د مورچل وږمې

د آزادۍ وږمې

مولوي امان الله مستغفر

دغچ نېزې به يو ورا بيا زموږ له ډورۍ راوځي
دا تصور مو له مغزو اوله کوپړۍ راوځي

ښايسته نغمې به د ککنس د خولې هم وتخنوي
چې د تکبير غږ مو له خولې د ملالۍ راوځي

بيا به مو سوي کړيکي نه پاڅي کنو غوږ وته
زموږ له انګړه به وږمې د آزادۍ راوځي

د برني خوبو تعبير مسيحا داسي راکړ
زموږ له کوڅو به پردي ماتي ککرۍ راوځي

سيوري مو کړي قربانيو د جلات پر لمن
تانده ارزو مو د ښاغلو له پګړۍ راوځي

په بدرګه به يې طوطيان ناڅي خپاره وزرونه
بيا به ياغي کوچۍ له ترڅه د کيږدۍ راوځي

شاباز به ناڅي د آدم د استقلال پر رباب
په ننداره بې مستغفره د رخانۍ راوځي

زنداني ملګري ته

قاري توريالي تائب

په پنجرو کې را حصار قيدي جانانه
هېر مې نه يې زما يار قيدي جانانه

ستا په پښو او په لاسو کې ځنځيرونه.
زه يې آورم کړ پهار قيدي جانانه

ستا له غمه مې پر مخ باران داوښکو.
جوړوي کتار، کتار قيدي جانانه

څوك چې تا آزاروي د زړګي سره!
رب دې خپله کړي آزار قيدي جانانه

رب دې خلاص کړه د څرخي پله له زندانه
دواړه سترګې مې په لار قيدي جانانه

دا دهجر توري شپې به خدای ج سبا کړي
را ښکاره به شي سهار قيدي جانانه

د لوی خدای ج يو امتحان دی خفه نشې
د (تآئب) د زړه قرار قيدي جانانه

مبارک دې شه امیرالمؤمنینه !!

عبدالعلي تسل

موږ اول دا سې ګڼل چې ناتو تښتي
ګوډاګیانو نه منل چې ناتو تښتي

چې طالب د استقلال توره کړه پورته
هوښیارانو دا ویل چې ناتو تښتي

مبارک دې شه امیرالمؤمنینه
ستا له خاورې او درشل چې ناتو تښتي

فدایې جانانه وینو دې رنګ راووړ
نوم دې پاتې شو اتل چې ناتو تښتي

د افغان ولس دې سوبه مبارک وي
دخوښیو، له کابل چې ناتو تښتي

د زخمي او د بندي طالب ګوګل ته
ور لیږمه دا غزل چې ناتو تښتي

ارګه بس ده نور دې ډیر انتظار وکړ
سپین بیرغ دروړم تسل چې ناتو تښتي

غزل

استاد فضل ولي ناګار

یو قدم بل واخله مزل ډېر لږ ازادۍ ته دی
سل څله سلام مو ستا پکول او ستا پګړۍ ته دی

یو قدم بل واخله د تاریخ باب که زرین زرین
ستا بهیر پاڅون د بري ستر مثال پېړۍ ته دی

زر آتش فشانه په تندي لکه محشر لرې
شور دې د تکبیر د اسرافیل ګرمې شپیلۍ ته دی

چا ویل چې امت نور ایوبي، ابدالي نه لري
ټول جهان حیران د ستا بېسارې قربانۍ ته دی

زیږي هنګامې درې، تپې، اتڼ اتڼ شولې
ښکلی د غازي مخ د تیرا د غره ږلۍ ته دی

اوس به د فتوو باتوران کوم پرتوګ وراغوندي
سیوری د صلیب یې رسیدلی چې بلۍ ته دی

دا حمام د وینو زښته ډېر پکې بربنډ شولو
ستا حیدري لاس یې رسیدلی اوس مرۍ ته دی

ستا په شفقي ټنډه زمونږ د برخلیک انځور
پاک آیات مبین د خدای رحمت مو نهیلۍ ته دی

ښه دی چې رنګینه دې دنیا په بې دینۍ نه شوه
دا پیغام ناګاره وباړ د مست فقر شړۍ ته دی

د جانان په لمن

خبیب

دګریوانه ټنۍ مې لویږي د جانان په لمن
د حسن شمعې دې بلیږي د ایمان په لمن

لکه بورا د ګل له مینې اغزي هم ښکلوي
له بدرنګي مینه زده کیږي د هجران په لمن

خوني منګولې به په ځان د زمانې تېره وي
بیا یې فصلونه زرغونیږي د زمان په لمن

چې محصور نشي د وحشت او دالحاد په ځنځیر
هغه ضمیر نه ازادیږي د زندان په لمن

چې ملت پلوري په پردیو د قدرت په بدل
هغه ذلیله به تیریږي د شیطان په لمن

خبیبه هله به شیریني شي کوڅي د جانان
چې سپین نشان سپین سپین ځلیږي دافغان په لمن

دروند پلو

(مولوي محمد هاشم ذاکر)

افغانه بیا دې چا له غولي نه سپوږمی واخیسته
د هند وکش له هسکه سره یې پګړی واخیسته

دقام د ننګ شملې دې سپکې شوې په مفته بیه
له دروند پلو نه دې حیا غربي نړی واخیسته

چې اصفهان اوهند وسند به دې سلام ته راتلل
لوړه نامه درنه نن چا په غلامی واخیسته

ستا د نیکونو پرقبرو دشپې کلبونه جوړ شول
ستا له میونده یې تپه د ملالی واخیسته

تورو دیوانو دې په سپین حرم ښې لوبې وکړې
کوم جادوګر درنه ناهیده ښاپیرۍ واخیسته

توره قلم ، تهذیب فرهنګ دین او غیرت او وطن
ټوله هستي درنه په پور دیموکراسی واخیسته

وینې قیمت ذاکره اوښکې یې ازارنه لري
چاچې دلمر په بدل توره ترورږمی واخیسته

کندهار

کندهار بنارکې قومندان اویوتن اجیر پولیس ووژل شول

د کندهار ولایت د مرکز کندهار بنار اړوند د لمړۍ حوزې په سیمه کې دزړې قومندانۍ مشرقي برج ته څېرمه مجاهدینو په مزدورو پولیسو وکړ چې په نتیجه کې یې دپولیسو یوتن قومندان اویوبل پولیس ووژل شول. ۲۰۱۴/۱۲/۱

ارغستان قومندان ملاګی له ۴عسکرو سره قتل ۲ژوبل شول

د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ دسپیني ګاري په سیمه کې داجیرو سرحدي عسکرو په شوبله چاودنه وشوه. دچاودني له املې شوبله ویجاړه او د قومندان ملاګي په شمول ۴ تنه عسکر مړه او دوه نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱۴/۱۲/۱

میوندکې ددښمن موټر دماین ښکار شو

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند دمندوزو په سیمه کې داجیر دښمن په پلدر موټر چاودنه وشوه چې له املې یې موټر ویجاړ اوپکې ناستو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۴/۱۲/۲

شاولیکوټ کې ۲ اربکیان له مجاهدینوسره یوځای شول

د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د کوندلان په سیمه کې دهمدې سیمې اوسیدونکي دوه تنه اربکیان(میراجان او حکمت) دحقانۍتوپه درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول. ۲۰۱۴/۱۲/۲

ارغستان کې په پوسته برید ۴عسکر قتل شو

د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ اړوند د سپیني ګاري په سیمه کې داجیرو سرحدي عسکرو په پوسته دهشتاد دو بریدوشو چې له املې یې یوتن عسکر قتل شو. ۲۰۱۴/۱۲/۳

دامان کې یوتن اربکی قومندان ووژل شو

د کندهار ولایت د دامان ولسوالۍ اړوند دامیرلالي هوټل ته څېرمه یوتن اربکی قوماندان (تورجان)دمجاهدینو په غلچکي برید کې ووژل شو. ۲۰۱۴/۱۲/۳

میوندکې ددښمن ۲ شوبلې وویشتل شوې

کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ کې اړوند دخاورو پوستې ته څېرمه په اجیر دښمن کمینې برید تر سره شو. دبرید په مهال ددښمن ۲ شوبلې ویجاړې اوپکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. په جګړه کې یوتن مجاهد دشهادت لوړ مقام ته ورسید. انالله وانااليه راجعون. ۲۰۱۴/۱۲/۳

ارغنداب کې رېنجرویجاړیوعسکرپکې قتل شو

د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند د سربندپه سیمه کې داجیرې ازدوپه رېنجرموټر دماین چاودنه وشوه. په چاودنه کې رېنجرویجاړ اوپکې ناست یوعسکر قتل اونور ژوبل شول. ۲۰۱۴/۱۲/۴

ژړۍ کې قومندان اویواربکی قتل ۲ نورژوبل شول

د کندهار ولایت د ژړۍ ولسوالۍ اړوند دنبي کاریزپه سیمه کې داربکیانوپه پلي ګزمه چاودنه وشوه. په چاودنه کې یوتن اربکی قومندان (شرافالدین) اودهغه ساتونکی ووژل شول او ۲ تنه نور اربکیان سخت ژوبل شول. په پېښه کې ددښمن یوماین پال هم غنیمت شو. ۲۰۱۴/۱۲/۴

ارغستان جلاپېښوکې قومندان او ۳عسکر قتل اګن مهمات غنیمت شول

د کندهار ولایت د ارغستان ولسوالۍ دسپیني ګاري په پوسته وسلوال بریدونه تر سره شول چې په پایله کې یې ۲ تنه عسکر قتل او ۲ نور سخت ژوبل شول. وروسته یاده پوسته یوځل بیا تر برید لاندې راغله. له برید وروسته دپوستې قومندان (عنبر) له خپل یوه ساتونکي (مسعود) سره دتېښتې په مهال دمجاهدینولخوا کمین سره مخ شو. په برید کې قومندان له خپل ساتونکي سره ووژل شو او یو ټیل ، دوه کلاشنکوفونه ، یوچرېکي هاوان اویوه توپنکچه یې غنیمت شول. ۲۰۱۴/۱۲/۴

ارغنداب کې ددښمن ۸ تنه مړه اوژوبل رېنجرېي ویجاړ شو

